# دلته خدايان خوشاله دي

## (ناول)

Ketabton.com

پوهاند ډاکټر عبدالخالق رشيد

(۱۹۹۵) –(۲۰۰۱) کلونه

نوی ډيلي

۱۳۹۴ لمريز کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دلته خدایان خوشاله دي

## (ناول)

(۱۹۹۵-۲۰۰۱)کلونه

لیکوال:

**ع. رشید**

نوی ډیلی

**۱۳۹۴ل کال**

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

# کتاب پېژندنه:


د کتاب نوم: دلته خدايان خوشاله دي (ناول)

ليکوال: ع. رشيد

خپرندی: د افغانستان ملي تحريك، فرهنګي څانګه

وېبپاڼه: www.melitahrik.com

ډيزاين: ضياء ساپی

پښتی ډيزاين: فياض حميد

چاپشمېر: ۱۰۰۰ ټوکه

لومړی چاپ: ۱۳۸۸ل کال، خوشال فرهنګي ټولنه

چاپکال: ۱۳۹۴ ل کال/ ۲۰۱۵م

د تحريك د خپرونو لړ: (۱۱۴)


يادونه: د چاپ حقوق له ملي تحريک سره خوندي دي او د کتاب د محتوا مسوليت ليکوال پورې اړه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالۍ

خوږې لورډاکترې مرغلرې ته ،

چې په لیدو یې

زما سترې او سرګردانه روح  د آرامۍ

فرښته په خپله غېږ کې نیسي....

رشید

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د تحریك یادښت

د افغانستان ملي تحریك د (۱۳۹۳ ل) كال په پیل كې له خپلو ګرانو هېوادوالو سره ژمنه كړې وه چې د دې كال په بهیر كې به (شل عنوانونه) بېلا بېل دیني، علمي، ادبي او ټولنیز اثار خپلې ټولنې ته وړاندې كوي. ملي تحریك دا ژمنه د یاد كال د كب پر (۲۸)مه نېټه پوره او د یوې پرتمینې غونډې په ترځ كې یې شل عنوانونه علمي اثار هېوادوالو ته وړاندې كړل. ملي تحریك په یاده غونډه كې ژمنه وكړه چې د (۱۳۹۴ ل) كال په بهیر كې به انشاء الله د خدای (ج) په نصرت ټول ټال سل (۱۰۰) عنوانه بېلابېل علمي اثار ټولنې ته وړاندې كوي. طبیعي خبره ده چې دا اسانه كار نه دی، ډېر زیات زیار او زحمت ته اړتیا لري، خو ملي تحریك ټینګ هوډ كړی چې خپله دا ژمنه به هم د تېرې ژمنې په څېر عملی كوي. دا اثر چې ستاسو په لاس كې دی د همدې (سل عنوانونو) ژمنه كړو اثارو له جملې څخه دی، چې د چاپ جامه اغوندي. ملي تحریك هیله لري چې له دې اثر څخه به زموږ هېوادوال په زړه پورې ګټه پورته كړي. ملي تحریك له ټولو هغو لیكوالو، ژباړونكو، سمونچارو، مالي او معنوي مرستندویانو او چاپ چارو څخه چې ددې اثارو د چاپ په دې ټول بهیر كې یې یو بل سره مرسته او ملګرتیا كړې او دا فرهنګي بهیر یې بریالی كړی، د زړه له كومې مننه كوي او كور ودانی ورته وایي.

د هېواد د فرهنګ د ښېرازۍ په هیله

د افغانستان ملي تحریك فرهنګي څانګه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## *About the writer,*

"Professor Abdul Khaliq Rashid was born in 1956 in Ghazni (Afghanistan). He had his early education in the historical city of Ghazni and left for Kabul for higher education in 1975. He obtained his Master's degree from the University of Kabul in 1979.

He has attended international seminars in Uzbekistan, Tajikistan, Turkmenistan, Pakistan and India. Professor Rashid is a prominent figure in the world of Pashto and Dari Studies. Presently he is a Visiting Professor in the Center of Persian and Central Asian Studies in Jawaharlal Nehru University, New Delhi wherein he has developed the Pashto Programme of study up to Advanced Diploma level. He is keen to promote Indo-Afghan relation in academic and cultural spheres.

He is deeply interested in Sanskrit studies. He has authored several books and research articles pertaining to Pashto and dari studies. His works

(c) ketabton.com: The Digital Library



include; Criticism in Pashto and Dari, Resistance Literature in Pashto, History of Pashto Criticism, and he has translated Megkhdutam and Vikram Urwasiya of Kalidas in to Pashto and Dari. He has penned four collections of short stories in Pashto. Professor Rashid has been awarded a Ph.D. degree by the Department of Persian Jamia Millia Islamia; New Delhi on his outstanding work: 'Iqbal's Contribution to Afghan Studies.' He is indeed a devoted scholar, amicable colleague and a loving teacher."

(c) ketabton.com: The Digital Library



## (۱)

ډيره موده نه کيده چې هغې به ماته په ځيرځيرکتل اوکله هــم مــاهغې ته... مورې يوه اوبل ته سره کتل، هو ښه موکتل، ما ته که څه هــم ځــان پــه زړه ساده د روه افغان ښکاريده، خوبيا مې هم ورته کتل اوکتل... ترڅوچې له دغــو کتلو کتلوخبره دکتلو کيسه شوه اوورځې ورځې په همدغو کتوکې ســره لاړې اوراغلې...

داڅه هسې ساده غوندې کتل هم نه وو، دهغې په دغو ځيرځيرکتــوکې يوې اروا، يوې هيلې، يوې انديښنې اوپه پای کې يوې درنې ويرې زما په بــاب ترخې پوښتنې په ښښه کړې وې، خوداچې ما سادګی کوله اوزما برخليک دبــې توپيرې منګولو ته ورلويدلی و، هغه ګردې پوښتنې همداسې پــه کتوکتــوکې لکه په ټال کې پيغلې يوې اوبلې خواته زنګيدې اورازنګيدې اوزما زړه ته يــې دمينې خوږې سندرې له ټالوسره يوځای کله په مانا اوکلــه هــم پــه بــې مانــا وييونوکې ويلې ...

نه پوهيږم چې ځوومه مياشت به وه، څوومه ورځ بــه وه اوڅــووم ليــده کاته به وو، چې سل زړونه مې سره يوکړل اوپه وارخطا واړو مې په ريږديــدلي موسکا کې پوښتنه ترې وکړه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ــ ستاښکلی نوم...؟**

**راته موسکۍ شوه، راته ویې خندل:**

**ــ نه، اوستاښکلی نوم...؟**

**زه یې نورهم وارخطا کـړم، دغړتارونـه مـې سـره لـه دې چـې سـره وریږدیدل یوځه سره وهم ترنګیدل:**

**ــ زما... زما نوم... ښکلی نه دی...**

**دانوره هم راته موسکۍ شوه:**

**ــ چې نوم دښکلې نه دی، نوبیا دښکلې نوم پوښتنه څنګه کوې؟**

**په خواره ژبه مې ترخوله ورته راووتل:**

**- خیرکله کله له ناچارۍ داسې هم کیږي...**

**هغې چې زما داخبره واوریده،بیایې دکتو لاره بیله شوه اوشـونډې یـې لکه محاصره شوې کلا همداسې تړلې وې... استاد هلته له لرې رانبـکاره شـو، مخ اوکاته یې له شرمه سره شول، اوزموږ هغه دښکلي اوبدرنګ نوم کیسه پـه هغه ورځ همداسې ناسپړلې اوناویلې پاتې شوه.**

**نژدې یوه میاشت تیره شوې وه چې په یوه توده ورځ موبیا له یوه اوبلـه هماغه شان پوښتنې پیل کړې، داهغه شـپې ورځـې وې چـې پـه هغـو کـې هندکیونجونو د دپیاولی دشپوورځوروژې نیولې وې. نن ددغـو ورځـو دریمـه روژه وه چې ماته رامخامخ شوه اوچې کله یې زه ولیدم له لرې راتـه موسـکۍ موسکۍ کیده... اوچې کله رانژدې شوه واردواره یې رانه وپوښتل:**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ــ ستا ښکلی نوم...؟**

**ما بیاهم زړه ونه شوکړای،یوازې له یوې لنډې موسکا سره مــې هماغــه ځواب ورکړ:**

**ــ زما نوم... زما نوم ښکلی نه دی...**

**راته ویې خندل اویوځل بیایې دتوروجادوګروسترګو په نـازې کتــوکې ترهغوی یې چې څه ویل ورخمارخمارکړم... خو شونډې یې سره وغوړیدې:**

**- ته خو یې ووایه...**

**څوشیپې مې یې په کتوکتو کې ځان هلته اودلته ډوب ډوب کړخــو نــه شوه، کاته یې دومره راباندې درنه شول چې لکه دعصرظالم امریکایی واکمــن غونډې یې امرکاوه چې باید ویې وایم، ځکه مې له خولې ورته راووتل:**

**ــ ده و... دولت خان...**

**ــ څه شی؟**

**ما زرورته تکرارکړ :**

**ــ دولت ... دولت خان...**

**ترخه ترخه یې راته وکتل، شونډې یې په غاښوکې راته وچې لمبې کړې داچې دزړه وې اوکه نه زه پرې پوه نه شوم خوپه زوره یې ترخوله راووته:**

**-پټان، پټان خو به نه وې؟**

**- هو، پټان یم، پټان...**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کاته یې لاهم له ترخې تومنې سره جوړه وو، بلې خبرې ته یې ځان جوړاوه چې ما وارترې دمخه کړ اوورته ومې ویل:**

**ـ ما خودرته ووې چې زما نوم ښکلی نه دی...**

**خودې ته ، زه پوه شوم بیاله ډیره قهره خنداورغله، راته موسکۍ شوه، فکرکوم چې زما ساده ګۍ ته به یې داخل په دومره زیات قهرکې خندا راغلې وه، چې دوه ځلې یې په پرله پسې توګه له خولې رااووتل:**

**- پټان، کابلې. پټان...**

**خپل کاته یې بیا له ما مرورکړل، ددې له پاره چې ددې اندیښنه پریوه خوا کړم بیا مې زرخپله خبره تردې ړومبۍ کړه:**

**- اوس خو ته هم راته ووایه چې ستاښکلی نوم...؟**

**څو شیبې یې نورهم راته وکتل، بل ډول شوې وه، داسې چې تابه وې که یې زورراباندې رسیدای،ښایی یوسپک یا دروند سوک خویې په خوله راکړی وای... په وروستې ځل یې په ځیرځیرراته وکتل،رانه روانه شوه، یوازې لکه چې مهربانی یې کړې وي، سریې راپورته کړاوخوله یې راباندې راخلاصه کړه:**

**ـ زه تاته خپل نوم نه وایم... زه ستا له نامه ډاریږم... هوستا له نامه... داسې لکه چې په پیل کې دټاګورپه کابلی والا کیسه کې وړوکې مینو له پټان اوکابلی ښخه ډاریږي...**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځای پرځای ودریدم، دهغې خبرې زما په زړه باندې درنه غدۍ راګـډه کړه، خوله مې پټه ونیوه، په ځیرځیرېې راته وکتل رانـه روانـه شـوه، زه یـې دخدای راستی پرمیدان همداسې پرېښودم، په فکرکې یې خپله تیره رایـاده کړه، هو، تیره، تیرې کیسې، فکرته مې راغله چې موږ خولکـه مغلـو، ترکـانو، ایرانیانو اونورو قومونوغونډې پردغوخلکو داسې تیاره هم نه وه راوستې...

اوکه دانه وي نوبیایې ولې زما له نامه سره لکه برېښنا چـې نیـولې وي دومره سخته ولړزیده... زه په همدغـه سـوچ کـې وم، چـې هغـه بیرتـه پـه خپلوملالو قدمو راغبرګه شوه، لکه چې پښـمانه شـوې وه، لـږ غونـډې راتـه موسکې هم وه چې ترخوله یې راووتل:

ـ زما نوم لکشمي دی، لکشمي...

ما له ډیرې اندیښنې ورته وخندل:

ـ اوه، څومره ښکلی نوم... لکشمي هغه چې سـړي تـه شـته اوعـزت وربښی...

ـ هو، هم هغه، خوزه ډیره غریبه یم. ځکه چې زه چاته لکه (هغه ) څـه نه شم وربښلی...

داځل له همدغې خبرې سره لاړه اوبیاراغبرګه نه شوه... پـه وروسـتي تګ کې یې یوازې داترخوله راووتل، چې زما مورنۍ اناژوندۍ ده، له هغې سـره ستاسې په باب ډیرې کیسې شته، هغه تاسې ډیرښه پیژنـي، لـه هغـې سـره ستاسې خورا زیاتې کیسې تراوسه هم ژوندۍ دي، خورا زیاتې... خورا ترخې...

اوخورا..

(c) ketabton.com: The Digital Library



# (۲)

دیپاولی یادیوالي د هندوستان دخلکــو لــه ډیرولویوجشــنوڅخه دی. ددوی لپاره داخورا لویه خوشالي ده،ډیره لویه اودتېولو خلکو... ځکــه هنــدوان وایـــي چـــې ددوی ښښــتن رام پـــه دغـــه ورځ وکـــولای شـــول چـــې لـــه څوارلسوکالووروسته خپله ښکلې میرمن سیتا هغه چې راوڼ په مکراودرغلۍ سره تښتولې وه، دهغه له منګولوبیرته راخلاصه اوهغه(راوڼ ) یـــې لـــه منځـــه یووړ... کله چې رام ایودیاته رارسیږي، خلک یې مخې اوهرکلـــي تـــه وروځـــي اودهغه دراتګ هرکلی د څراغونواولمبوپه لګولوسره کوي. ددغـــه لـــوی ویـــاړ اوبري دغه لوی جشن ته هندوستانیان دڅراغونو جشن هم وایی او پـــه پـــرتم سره یې نمانځي،دکال ددغې نمانځنې په ترځ کې ټـول خلـــک تیـــرې ترخـــې اوغمونه هیروي اوله دغې خوښۍ څخه مخ په وړاندې د خنداوو اوخوشـــالیوپه لورهرچا او هرڅه ته ګوري...

دڅراغونودجشن رخصتۍ پای ته رسیدلې وې، زموږ درسونه پیل شوی وو، لکه چې په هغه ورځ زموږ ددرسونو دپیل لومړې ورځ وه، موږ له پرله پسې رخصتیو وروسته نن ښوونځي ته راغلي وو، زموږ دښوونځي پرشاوخوا دپـــراخ ځنګل دشنې لمنې پیڅکه راغزیدلې ده. دلتـــه ونـــې کلـــه هـــم دمرغـــانو لـــه سندروخالي اوبې غمه نه وي... هغوی دلته درناوو په هـــره شـــیبه کـــې خپلـــې

(c) ketabton.com: The Digital Library



سندرې وايي، داسې چې تل سړي ته دخوږو هيلو په لورسندريزهوډ اويارانـه په مينه مينه وريادوي...

زه له ښوونځی څخه راووتم، هلته مې دام ترونې لاندې ګام ونيـو، چـې دنجونو له ډلې څخه دلکشمی سترګې راباندې ولګيدې، نجـونې يـې پرخپـل ځای پريښودې اومخامخ يې له سمې لارې پر يوه خوا پـه ګڼوشـنليوکې لکـه کورنۍ غرڅه زما پرلورځان راواچاوه. لا ماته رارسيدلې نه وه چې له ليرې راته په خنداوه، اونن زما لومړۍ ورځ وه چې ددې ترخو اوتودو کتو زما پرمـات زړه باندې زلزله نه راګډوله. د ام ترونې لاندې دکيناستو لپاره ځای نه و، ځکه يـې له رارسيدو سره سمه هيله وکړه چې بايد هلته دهغې مخامخ ګلولې ترسيورى لاندې کينو. ورسره ومې منله ځکه مې ورته وويل:

ــ درځه... کيدای شي هغه ګلوله به موږ غواړی...

راته موسکانه شوه اوپه حيرانۍ سره راته وکتل اوراته ويې ويل:

ــ ته هم په دغو ټکوپوهيږې؟

ــ لږ لږ اوکله کله... هغه له هم له ناچارۍ...

ــ ولې له ناچارۍ؟

ــ يوازې دې دښکلا په خاطر...

دهغې ګلولې ځنګ ته ورغلو، هلته کيناستو، لامې سم ورته کتلـي نـه ووچې له مايې پوښتنه وکړه:

ــ تا زموږ ددېپاولۍ دخراغونودجشن ننداره وکړه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ــ هو، ولې نه، زما له پاره په زړه پوره و خو...

ــ خو، مانا؟

ماته خنداراغله، زړه مې ونه شوکړای خوداچې دې ته زما خـو پوښـتنه پيداکړې وه، مانه شواى کولاى چې خپله خبره په خپل زړه کې تم کړاى شـم. ما خپله خبره کوله خو دې بياهم خپل وار راباندې مخکې کړ:

ــ کومه خبره چې دې وروسته له زړه راوځې هغه له سره په زړه کې مـه ساته...

ــ ولې که يې وساتم نوڅه...؟

– څه خو نه کيږي، خوکله کله پـه زړه پيټـې کيـږي اوکلـه کلـه يـې سوځوي هم...

ــ يوازې په زړه؟

ــ هوپه زړه، رښتيا ماته مې انا وويل چې تاسې ډيرلوى زړونـه لـرئ، ان وايى چې کله کله خو داسې کلک وي لکه دتاسې کلک کلک غرونه...

ماغوښتل څه خبره ورته وکړم، زه يې په خپله خبره کـې سـره تلـولى کړم. په خبره کې يې خبره راواچوله خوواريې راکړ چې خپله خبره بايد ورتـه وکړم، په ځيرځيرمې ورته وکتل اوورته ومې ويل:

ــ رامداس جي، زموږ دليلې ملازم پرون له چا سره خبره کولـه چــې دا رام ويده و چې له دومره اوږدې مودې(څوارلسوکالو) وروسته يې سـيتا دراوڼ

(c) ketabton.com: The Digital Library



له منګولو راويوسته... هغه به څومره ځوريدلې وي اوپرهغې به څومره غمونــه تيرشوي وي او...

زما خبره لا پاې ته نه وه رسيدلې چې دې په کړيس کــړيس هغــې تــه دومره په زوره زوره وخنــدل چــې هلتــه وړانــدې يــې نجونواوهلکــانو هــم دخنداشورواوريد ځکه يې ترډيرو پورې زموږ پرخوا راکتل، دې له يــوې خــوا خندل اوله بلې خوايې دګلولې له سروګلوډکه څانګه په خپل کــيڼ لاس کــې نيولې وه، چې وروسته يې راوشکوله خپل مخ ته يې ونيــوه اوخپلــه خنــدايې پرې پر يوه خوا اوبله خوا غولوله، بيايې شونډې سره وښورولې اودرامداس جي دخبرې په لړکې يې وويل:

ـ هو، ډيره موده وروسته وه، که ته دهغه پرځای وای څه دې کول؟

ما ځان آرام ونيو، خوداهم راته موسکۍ وه، دې بيــاهم لکــه چــې زمــا سادګې ته خندل، ځکه يې له خندا خوله نه ورټوليده. لاهم راته موســکۍ وه، چې ما ځواب ورکړ:

ـ که زه دهغه پرځای وای، ښايی چې ســيتا مــې هلتــه ډيــره نــه وای پريښې، اونه به دومره موده ورباندې تيره شوې وای...

- نوڅه دې کول؟

ـ زما پښتو خو امرکوي چې يامې زرتر زره راوڼ واژه اويامې ځان...

بيا په خپله اوچته خنداکې راته غرمه غرمه شوه، په خپلوتشــويې لاس نيولي وو اوراته شنه وه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ــ رښتياني پټان همداسې وی، ته رښتيانی پټان يې... دولت خان...

کله چې هغې زما نوم ترخوله راويوست، هغې ته يوه بله خبره وياده شوه،پرهغې له خندا راولويده اوپه جدی خبروشوه:

ــ ته پوهيږې چې په هندکې يوډيرلوی پښتون ننګيالې دولت خان هم تيرشوی؟ دهندوستان په تاريخ کې دهغه نوم لکه دسلطان بهلول لودي، سلطان سکندرلودي،شيرشاه اوسليم شاه اواحمدشاه غوندې اوچت نوم دی...

ما ځان ورته ناګاره واچاوه، اوځواب مې ورکړ:

ــ نه پوهيږم، زه په دې باره کې معلومات نه لرم، که تاسې يې لری راته ويې واياست...

ــ زه هم په دې باره کې ډيره نه پوهيږم، خو زما انې دهغه په باب تل مورته کيسې کوي اوهغه تل وايی چې زه دهغه له نامه سره مينه لرم...

-هغه څه وايی؟

ــ هغه وايی چې: دولت خان په هندکې دداسې بريمن پټان نوم دی چې تل يې دتيري اوتجاوز په وړاندې توره کښلې وه، ډيرمهربانه اوپه انسان مين پټان و. دخوارانو پرحق يې تيری نه کاوه، کونډې اويتيمان يې له تيريو څخه ساتل، پريوه خدای يې دزړه له کومی ايمان درلود، اوټول انسانان يې دهغه بندګان بلل، هغه نه دمذهب، نه دژبې اونه هم دتوراوسپين په نامه دخدای بندګان ځورول، اونه يې نوروته اجازه ورکوله چې هغوی يې وځوروي. دهغه لويی په دې کې وه چې هرځای به خلک له تيری اوظلم څخه په تنګ شول نوبيا به يې دده اولکې ته ځان رساوه اوهلته به په امن اوسوکالۍ کې اوسيدل...

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکشمی دخپلې انا دغه درنې خبرې ماته پـــه رښـــتياهم پـــه هـــم هغـــه دروندوالی سره وکړې، په کوم چې هغې دې ته ويلی وې، کله يې چـــې دهغـــې خبرې پای ته ورسولې نوبيايې خپله خبره وکړه چې:

ــ زما هم لکه زما دانې په شان دولت خان اودهغه نوم خوښيږي...

زماتبرگي ته اوس لاستی پيداشو ځکه مې زر پوښتنه ترې وکړه:

ــ چې داسې وه نوبيا دولې په لومړی کتنه کې زما له نامه سره...

ــ ځکه چې مورې کله کله اوس په خپلوکتابوکې ډيرنورڅه هم لولو... لکه زورزياتی، لوټماري، اونور...

خوهغې ته به يې انا تل ددولت خان په باره کې کيسې کولې اوهغـــه بـــه يې په درانه نوم يادوه، دې به داهم ويل چې:

ــ زما انی کله کله داهم وايي چې زمورې په اوسنيوکتابوکې کله کلـــه بـــل څه سړی اوري داسې چې هغه پر مورې ښې نه لگيـــږي، ځکـــه نودغـــه کتابونـــه دزړونوخبرې نه وايی، زه مې دخپلې انې په خبروکې په يوه ټکی ښه پـــوهيږم اوهغه داچې هغه تل مورته دخپل زړه خبره کوي، وگوره کلونه کلونـــه مخکـــې پردغه خاوره باندې يودولت خان تيره شوی، خو يوزړه، سل زړونـــه او زرزړونـــه تراوسه دهغه نوم په مينتوب سره يادوی اومينه ورسره لري...

نژدې لوړمازديگرو چې زمورې دکيسوخبرې هم کرارکرار خپل پـــای تـــه ورنژدې کيدې، دهغې دزړه په ډيرو خبرو کې يوه داهم وه چې په هغه ورځ يې له خولې راووته:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ نه پوهیږم هرځل چې تاته ګورم، له یوې خوامې په زړه کې کله دکرکې یوه درنه څپه راوپړکیږي، خوله یوه ډیرلنډ مهاله وروسته مې بیا په زړه باندې دمهربانې څپه لکه وږي پړانګ خوله رالګولي... کله کله خومې دیوه بې رحمه اوبې عاطفې انسان په توګه سترګوته راځې، خوله دې سره سره هم زه فکرکوم چې زه ستاله دغو کړو وړو سره داسې آشنایم چې فکرکوم دازه خپله یم، زه تاپیژنم، ته مې لیدلې یې، اوداسې راته ښکاریږي چې ته زما یې اویامې هم دروح اوهیلویولیونې ځورونکی... کله کله بیادیوه بل احساس په ترخ کې ستا یوه بله څیره وینم، داسې چې څه درسره لرم، یوه څه داسې، چې په هغه باندې زه اوته له یوه اوبل سره شریک یو... فکرکوم چې زما اوستا ترمنځ یوسیند،یوسمندر داسې هم شته چې زما او یاستا له ساړه زړه څخه راوځی اوله یوه درده وروسته یا زما اویاستا دزړه له تودو سره ځان یوکوي اوبیا یاستا اویا زما پرخوا په ورو ورو اوپه مینه مینه بهیږي...

هو، داسې ښکاري لکه چې پر زړه مې اغزې یې، داسې چې نه دې ایستی شم اونه دچا ته وربښوولی...

ماښام و، رنګي رنګي ستوري، دآسمان پرسینه په یوه اوبله خوا کې راوختل، چې ما یې نرې پوړنی له غاړې پرسرراخور کړ، ورته ومې خندل اودزړه له کومي مې خپله وروستۍ تسلی ورکړه:

ته پوهیږې چې زما نې اودهغې پانو داکرکې، ډارونې، اوځورونې له ډیروپخواڅخه ترمونږ پورې راوړې چې ترډیروپورې به لاوي، ژوند دانسان یارانه ده، داسې چې هغه له ځان سره هرڅه لري، اوله رنګارنګې سره یې خپله کیسه تریادونو اونسلونو پورې رسوي، انسان هم دوستي زیږولی شي اوهم

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دښمني، همداده چې دوستي یې هرڅوک اوهره وخت ستایی خو دښمني یــې بیاهغه شان بازارنه لري او دهغې بازارتل سوړوي... ژوند دکیسولړې اوغـاړکې ده... دخوږو اوترخو، همداده چې پښتانه ددغې اوږدې یـارانې پــه تــرخ کــې خپلودوستانو ته یوازې یوه پایله اعلاموي اوهغه داچې: « په یارانه کې بنگــړي ماتیږی ». هوبنګړي... !**

**سره موسکې شوه، قلم یې له خپل بکس څخه راویوست او زر زریې په خپله کتابچه کې زما دغه پښتووینه په دیونـاګري (دډیــوه پلــوو) لیــک کــې ولیکله:**

**په یارانه کې بنګړي ماتیږي...**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## (۳)

لکشمی له رنګه غنم رنګه نجلۍ وه، توروېښه، تورې سترګې اوترټولــو مهمه خبره لوړ قد يې په ټول کالج کې بې ساری و. ما چې پــه لــومړي ځــل دا وليده، فکرمې کاوه چې دابه دهندوستان دسبزانو په کلي کې نــه وي رالويــه شوې، دابه دکوم بل ملک وي، زما دوطــن بــه وې ... اودلتــه بــه درس وايــي اوماغونديې به په دې پراخه دنياکې دخپل کلي کورمځکه ورته ســره تبــۍ وي اويابه نه وي... په دغه ملک کې به ژوند کوي... زما اوددې لومړنۍ پېژنــدګلوي هم په همدې پلمه وشوه، يوه ورځ يې دکالج ددهليز په هغه سر کې يوه ښکلې سندره پيل کړې وه، رښتياهم چې هغې سندرې يــې پــه هغــه پــراخ اواوږده دهليز کې ښه انګازه کول، کله چې زه ورنيږدې شــوم لکــه ديــوه ښــه لاروي اوريدونکي په شان مې يوازې دومره په ناڅاپي توګه ترخوله ورته راووتل:

ــ وا وا څه ښکلې سندره اوڅومره ښکلې...

داهم راته موسکۍ شوه اوزما په ليدويې خپله خوږه سندره هم په ټپــه ودروله، له هغې ورځې وروسته به يې راته کتل اوله لرې لرې به راته موســکۍ وه.څوچې زموږ پيژندګلوي زموږ پــه کيســواوزموږ پــه ناستوپاســتو اونــازکو يادونوباندې ورو ورو وراوښته اوموږ نه پرې پوهيدو...

دوې درې ورځې زموږ په تيره کتنه نه وې تيرې چې بيايې يوه ورځ لــه کالج څخه راويستم، که ما هرڅومره ورته وويل چې زما درس لا نه دی خــلاص

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوی... زه باید ټولګي ته ولاړشم... خودې ترلاس ونیولم او همداسې راته ګده وه چـــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــې :

ژوند یوه یارانه دی، فکرمه پرې کوه، په یارانه کې خامخـا بنګــړی مــاتیږي... څوشیبې ګرځو یوه یوه پیاله دشدو چای څښو بیاد ستا هم الله مل شي او زمــا هم...

یوې اوبلې خواته وګرزیدو، دبنګړو دماتیدو اویارانې خبره یې لاهم لــه خولې نه لویده اودچا خبره خوله یې پرې خوږه وه. له چایخونې څخه مو تاوده چایونه راواخیستل اوترونولاندې ورته کیناستو...

له هغې ورځې چې اوس ما اودا له یوه اوبل سره په خبروشــوي وو، دې تل هڅه کوله دهغو شیانو په اړه پوښتنې وکړي چې هغه زما اویاهم ددې ځاني شیان وو او پرما یا دې یې اړه درلوده. هغه څه چې ما فکرکاوه په هغــه برخــه کې موږ له یوه اوبله ګرد سره بیل اولرې وو... نن یې هــم یــوه همداســې نــوې پوښتنه رابرسیره کړه:

ــ ته مسلمان یې؟

ماورته وخندل:

ــ ته نوله مانه داپوښتنه ولې کوې؟

ــ یوازې په دې خاطرچې پوره ډاډه شم...

ــ پوره ډاډه اوسه، چې دولت خان، دبلې عقیدې دپلوي نوم نه وي...

سر یې راته وښوراوه اوراته ځیرشوه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ وايي چې تاسې دنورو مذهبوله پيروانوڅخه کرکه کوئ، وژنې يې او...

ـ څوک وايي؟

ـ زموږ تاريخ، دنورو باورنوپلويان، ستاسې دباور خلاف...

ـ که له تاڅخه پوښتنه وکړم چې ستا زما مذهب خوښيږي؟

څوشيبې سره په فکرکې شوه، بيايې له خولې راووتل:

ـ هرڅوک چې پيدادي خو خپل کار لره کنه...

ـ ولې؟

توري په ښودرنې سترګې يې يوې اوبلې خواته سره وښورولې، زه پوه شوم چې هغه نورڅه ماته نه وايي، خوزما له خولې کيداى شي له درده به وه،راڅخه ووتل:

ـ زموږ په باره کې داټول څه هسې جوړې خبرې دي...موږ دمينې په خاطر، درښتينې مينې په خاطر، ديوې مينې په خاطر ژوندي يو، اوهرڅه موپرهغې پورې تړلي دي...

دې راته وخندل:

ـ هغه به کومه يوه مينه وي؟

ـ يوه مينه، يوه واکمني او يوازې يو...

له دغې خبرې وروسته يې په ځيرځيرراته وکتل، زما لاس يې په خپل لاس کې ونيو، زما دلاس ګوتوته يې وکتل، يوه يوه يې ترخپلو خوږو سترګو

(c) ketabton.com: The Digital Library



**تیره کړه، هغو ته یې هم لکه چې ماته به یې په ځیرځیــر کتــل پــه ځیرځیــر وکتل، داسې چې تابه ویل اوس زماپرځای له هغو سره خبرې کــوي، ښایســته شیبه یې داکاروکړ، بیایې سترګې ما ته راپورته کړې اوویې ویل:**

**ــ یوه مینه، د یوه واکمني او یوازې یو...**

**زما خبره لکه چې ښه پــرې ولګیــده کــه څنګــه، دهنــدوانودباورنواو خدایانوپه اړه یې وړې وړې خونرمې خبرې راپیل کړې، اوس مې مخې ته لکــه دهندې ګروهی ښوونکې داسې ودریده، اوما یې دغه لاندې کــوچنی لکچرتــه دزړه له کومي غوږ ونیو:**

**زموږدخلکوباورداسې دی چې زموږ هیواد دیوه خدای اویــوې هســتې هیواد نه دی، خو دیوې (مینې ) هیواد دی، ځکه زموږ خلک، زموږ شاعران تل داوایی چې زموږ هیواد دنیکمرغې اوخوشالۍ هیواد دی، زمــوږ دغــه پراخــه ځمکه دتلپاتې خوښیومورده، دلته چې دخدایانو شمیر زیــات دی دهغولامــل دادی چې زموږ هند دخدایانو دمینی اوخوښی استوګنځی دی ځکــه نودلتــه خدایان خوشاله دي اوله دغې ښکلې ځمکې سره دزړه له کومی مینه لري...**

**هغې په رښتیاهم په دغه اړه دومره خبرې په خپل ذهن کــې درلــودې چې که چا ټولې اوریدلای دهغو له پاره دشپوشپو اړتیاوه... خوپه دغــه شــیبه کې ماځان دهغې په خبروکې ورواچاوه...**

**ــ ګوره اصله پوښتنه دې له یاده ووته...**

**ــ کومه پوښتنه؟**

**- تاوویل چې ګواکې موږ له نوروڅخه کرکه کوو...**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ــ هو، ډیره مننه... ښه شوه چې رایاده دې کړه، که نه له ماخپلــه خبــره کله کله په هوا کیږي... زه کیدای شي په دې نظرنه وم، خودنوروعقیدو پلویان په مسلمانانوپسې داډول خبرې کوي...

ورته موسکی شوم، پوه شوم لکه چې هغې فکروکړ چې ګــواکی ســمه خبره یې نه ده کړې خومازرخبره ورغبرګه کړه:

ــ اخ چې دځینوخلکو خبرو ته خومو غوږ نه نیولای...

ــ څنګه؟

ــ په دې چې له مذهبوڅخه یوشمیر داورکمیسونه جوړکړي،

لومړی خودې ته زما خبره یوڅه بوږنونکې غوندې ښکاره شوه، خــوچې ورته ومې ویل چې موږ داشان خبرې نه منو، دا دروغ دي، په دې موږ تــل پــه دغه اړه داخبره کوو چې:

په سره سالوکې ګناه نشته ګناه جلکۍ کې ده چې ړنګه بنګه ځینه....

کله چې مادالندۍ ورته وویله،مخکې تردې چې پرهغه فکروکړي بیا هم په قلم پسې تلولۍ شوه، قلم له ماسره په لاس کې تیارو، ورمې کړ، هغه لنــډۍ یې زرولیکله، څوڅوواري یې له ځان سره ولوسته اوپه خپله هندکۍ ژبــه کــې یې وژباړله:

په سره... سالو کې... د زړه له کومې یې دغه لنډۍ او دهغې انځور په زړه ولګید، خورا ورته خوشاله شوه داسې چې هغه زموږ بحث یې هم په کــې ډوب کړ... ځکه یې راته وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ــ ته خپه کيږه مه، اونه زه غواړم چې تا په دغو خبروبانــدې خواشــينی کړم. يوازنی خبره داده چې دغه ټکي که انسانان له يوه اوبله پټ نه کړي، يــوه اوبل ته يې ووايو، دوی يوبل ته ورنيږدې کيږي، هغه واټنونه چې انســانانو پــه خپله په خپلوکې رامنځ ته کړي، کولای شي هغه په جوړجاړي اوناسته پاســته سره له منځه هم يوسي... خبرې تل د فکرونو صيقل کوونکې دي، همدا خبرې دي چې فکرونو ته رڼايي ورکوي اوپه خپلې دغــې رڼــايي ســره يــې ترتيــارو ورهغې خواته پورې باسي...

زمونږ دعاشقانه محفل خبــرې اوس ديــوې درنــې فلســفې لمنــې تــه ورغزيدلې وې، زه پوهيدم چې هغې ته يې لکه دترياکی ناروغ په شان خونــد ورکاوه ځکه يې ددغو خبروپه تودوخه کې د زړه خبره له يــاده وتلــه، اومــا دا تسل ورکړ:

ــ نه نه، نه خپه کيږم، زما ذهن هم صيقل ته اړتيا لري، زمــا ذهــن هــم تيارو داسې رانښکيل کړی چې زه هم ورته حيران يم... خوپام ته هــم پــه اوړو کې وينښته مه ګډوه او خپله روښانه خبره، دناخرګندو خبرو په ورا کې پــه زوم پسې مه ليږه...

لکه چې زما خبره يې يوڅه په غوږو درنه ولګيده ځکه يې په حيرانتيــا سره راته وکتل اوويې ويل:

ــ په خبروکې دخبرې مانا؟

ــ مانا داچې دوه کوه يوه اوره...

(c) ketabton.com: The Digital Library



دهغې خپلې نیمګړتیــا تــه پــام شــو ځکــه یــې زرلاس زمــا پــراوږه کیښوداوسره موسکۍ شوه:

ــ ډیره ښښنه غواړم. بس داده خوله مې وتړله، زه تاته غوږیم... کــه مــې نوره خبره ترخوله راووته ته کولای شې زما خوله راوګنډې...

مخکې تردې چې ماته دخبرو وار راکړي، لــه خپــل بکــس څخــه یــې دمتایي دوې ټوټې راویستې، یوه یې ماته ونیوه اوبله یې خپل خانته پــه خپــل لاس کې، ماپوښتنه تزې وکړه چې داڅه شی دي؟ دې راته وویل چې متایی، ما دمتاتې نوم اوریدلی و، خو په مانایې نه پوهیدم چې خوږې ته وایی، زمــوږ پــه غزنې کې به چې کله هندوانو متایی خوړه موږ ته یې خوند نه راکــاوه، پــه دې چې موږ به فکرکاوه چې دابه څه شی وي، پاک به وي که ناپاک؟ خو اوس چــې لکشمي مخکې راته کیښوده، که څه هم ماته دغزنی هندوان یاران رایادشوي وو خو چاره نه وه، له هغې مې واخیسته او خدای مې ورته یادکړاولکه چې دې لږ لږ خوړه ماهم ددې په شان دهغی په خوراک باندې نری نری پیل وکړ، هغــه مې تردې دمخه وخوړه،که څه هم خوندوره وه، له ځان سره مــې داســې چــې ددې له پاره دپوښتنې ځای پیدانه شي په کرار وویل:

ــ باید که زهرهم وي ویې خورم ځکه چې یارد یار له پاره خوري...

راموسکۍ شوه، زما خبره لا پای ته نه وه رسیدلې چې دې هم پوښــتنه راخخه وکړه:

ــ تاکله پخوا هم هندي متایی خوړلې وه؟

ــ هو، ولې نه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ــ چیرې اوکله؟

ــ تیره اوونې دحضرت بختیارکاکې په مزارکې یــوې زړې ښــځې راتــه ونیوه اوومې خوړه...

ــ بختیارکاکې څوک دی؟

ــ هغه دهند په لتو باندې داسلام یونومیالې صوفی تیرشوې...

ــ دهغه مزارچیرې دی.

ــ دقطب منار لویدیځ ته په مهرولی کې...

ــ هو، ما هغه لیدلی خو په دغه نامه یې خلک نه یادوي...

ــ کوم بل نوم لري؟

ــ هو، دهغه مزار په مهرولي کې په صوفی سنت باندې نامتودی...

هغې په دغه اړه هم ښه معلومات راکړل، داچې ولې یې صــوفی ســنت بولی، دهغه یادونه یې هم راته وکړه، هغې ددغه لوی صوفی مزارځکه معلــوم و چې داهلته تل له خپلې انې سره دهغه مزارته تله اودلته یې دهغه په وړانــدې دالله دربارته دمراد لاسونه ډیر پورته کړي وو، خوله دې سره یوه خبره تراوسه هم ورسره پوښتنه وه اوهغه داچې ددغه صوفی مزارته پــر مسلمانانوبرســیره هندوان، سکان اود نورو عقیدو پیروان هم راځی، ولې؟

ما ورته وخندل او ورته ومې ویل:

ــ ولې ته خپه کیږې چې که دنورو عقیدو پلویان هغه ته ارادت ولري؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ نه نه، مقصد مې دا نه دی، یوازې دومره خبره ده چې مسلمانان داسې نه دي، هغوی دنورو مقدسو ځایونو ته دومره نه ځــی، وګــوره څــومره خلــک دصوفی سنت مزارته ځي اوراځي... ته کله دهندوانو کوم مندر ته تلی یې؟

ـ ته غواړې چې په دغه پلمه مې اوس مندرته هم بوځې؟

ـ نه نه، زه نه غواړم، زه یوازې غواړم پوه شم چې ته ځې اوکه نه؟

ـ زما له پاره هلته اودلته تک زما دزړه خبره ده، زه که خپل جوما ت هم ځم، له خپل زړه سره ځم اوکه ستاسې مندرته مې هم څوک بوځی لــه خپــل زړه سره به ځم... له خپلې مینې سره به ځم، له خپلې یــوې اوتلپــاتی مینــې سره... زموږ پخوا نو موږ ته داخبرې ډیرې پخوا کړې چې:

زه خود زړه درد غواړمه په هریوه مذهب کې...

ـ داخبرې خو په کتابوکې دي، خو زه پوهېږم چې ته مندر ته دتلواجازه نه لرې...

ماورته وویل چې نه داسمه نه ده،یوه مینه هغه چې زه پرې بــاوري یــم داسې څه نه ده چې دهغې لپاره باید جومات اومندریوازنې ځای وي، ځکه چې هغه په دغو ورو ځایو کې نه ایساریږي... پرهغې باندې دهغې لیوال لکه پرشمه باندې پتنګان همداسې راچورلی... کله چې دیوې شمعی په رڼا باندې، هغه هم په تورتم کې دپتنګانو لیکې راماتې شی، څوک پوهیږي چې په هغوکې څــوک عیسویان، څوک هندوان اوڅوک مســلمانان دي؟... مینــه دزړه آوازده اودزړه سندره... که داسې نه وای موږ به کله هم دزړه خبرې دزړو په سندرو کــې نــه ویلې...

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکشمي فکرکاوه چې زه داټولې خبرې له ډېره قهره کوم، خو داسې نــه وه، لړسره جدی غوندې شوه، راته موسکۍ شوه اوراته ويې ويل:

ــ په خبرو دې پوهيږم، خو پردې چې دزړه خبرې دزړه په سندرو... پــه دغه دې پوه نه شوم...

ــ خيرپه دې به هم پوه شې...

ــ څنګه؟

ــ که مورې داسې وای لکه چې نور زمورږ په باره کې فکرکوې نو بيابه مــورږ دخپلو زړو په سندروکې دانه ويل:

يارمې هندو زه مسلمان يم                دیارله پاره درمسال جارو کومــه...

کله يې زما له خوا داټيکې واوريده، دومره سره تلولۍ شوې وه، چې نــه پوهيده څه وکړی، په وارخطايی راته وويل:

ــ داجادوګرې سندرې تا دومره چيرې زده کړې... يوځل يې بيا ووايه...

– ښه خبره دوه ځلې څوک چا ته نه کوي...

ــ مهرباني وکړه، يوځل يې بيا تکرارکړه...

ــ يارمې هندو....

څوځوځلې يې لکه ليونې له ځان سره زمزمه کړه، هغه يې دومره خوښه شوې وه چې لکه دونې خانګه دهغې له پاره همداســې زمــا ترســررا تاويــده اوتاويده، داسې چې له ډېرې مينې يې غوښتل زما سر پــه خپلــه غيــږه کــې ونيسې او... خو داکاربې ونه کړيوازې يې راته وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ــ ته رښتیا دولت خان یې... تاسې چې څومره لوی زړونه لرئ، هغــومره له مینې اوعاطفی هم ډک دي، اوکه داسې نه وای دداسې سندرو ایجاد ګربه نه وای... زماانې ګرمه نه ده چې تل ستاسې دهمدغې لویی خبرې کوي...

ما که هرڅومره ورته وویل چې ستا انې ولې داشان خبرې کــوي، هغــې مې د ام دونې پاڼه سترګو ته وښوروله، ترلاس یې ونیولم اوله هغــه ځایــه یــې پورته کړم... لمرنوي د مازدیګر په تنده زیړي سلامونه کول، چې موږ دام دونې له سیوري راپورته شو، روان وو خودا تراوسه هم لــه ځــان ســره پــه زمزمــو وه،داسې چې سرېې هم ورسره ښوراوه، د مات زړوقدمو په اهنګ کې یــې پــه نازک خوږیرخواږه هندکي غږکې درګرده له خولې راوتل:

یارمې هندو زه مسلمانه دیارلپاره درمسال جارو کومه....

یارمې هندو... یارمې هندو...

(c) ketabton.com: The Digital Library



**(۴)**

**په هندوستان کې دکال ښکلې ورځې، دکال ښه موسم اودمیلو موســم له سپتمبرڅخه وروسته پیل کیږي، دغه شپې ورځې لکه زموږ په وطــن کــې دترخه ژمي له ښکیل څخه دوتلوشپې ورځې پسرلنۍ وي،دلته له ګرمیوڅخه دوتلودموسم شپې ورځې همدغه دي... په همدغو شــپوورځوکې هــم ګرمــي اوهم درانه برساتونه پای ته رسیږي... دډیلی په ښارکې هم دغه شپې ورځــې دمیلوورځې وي، په دغه ښارکې دمیلوترټولو ښــکلي ځایونــه، هغــه تــاریخی ځایونه دي چې هغه په هندکې دمسلمانو واکمنانانو له خواجوړشوي اودهغوی تلپاتې یادګارونه بلل کیږي... اوس ټول هندوستان یوه خــوا اودغــه تــاریخی اوهنري ارزښتونه بله خوا دي، که دهندپراخې خاورې دغه هنري یادګارونه په خپله ټنډه نه درلودای، ښایی چې هندوستان به کله دهند اونړې دسیلانیانو له پاره دپاملرنې وړسیمه نه وه، که تاج محل غوندې دمینې یادګاردغه هیواد نــه درلودای، چابه ددغو درنو درنوبرساتوپه لور له لرې لرې هیوادوڅخه پردغه لور رامخه کوله، هندوستان داسلامي دورې پردغو هنــري وړتیــاوو تراوســه هــم**

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوچت دی، اوددغه پراخ هیواد ښکلادمسلمانانوپه لویی کې لکــه لــه لمرســره مینه هرچاته څرګنده ده...

له اوږدې مودې راپدې خوا لکشمی غوښتل چې ما دډیلی پــه تــاریخی ځایونوباندې وګرزوي، خو دایوه، دوې اوونۍ کیدې چې ویل یې زموږ ټولګیوال ټول غواړي، په ګډه دډیلي پر تاریخی ځایونو باندې راوګرځــي، کــه څــه هــم ماورته وویل چې ما ددغو تاریخی ځایویوزیات شمیرتراوسه لیدلي دي، خودې بیاهم ټینګاروکړ چې ددې له ټولګیوالو سره په دغه سفرولاړشــم. دیکشــنې ورځ وه چې موږ اته نهه کسه یوځای په دغه نیت له کالج څخه وخوځیدو، موږ په هغه ورځ خورا ډیرځایونه ولیدل، قطب مینارته هم لاړو، دهغه ددنګې لویې په لمنه کې موږ اوټول سیلانیان لکه میږتانه یوې اوبلی خواته سره خواره واره شوو، لکشمی له ماسره وه، هغې ددغه پرتم لوړتیا ته وکتل، کلــه چــې هغــې دمازدیګرلمرته مخامخ ددغه سترمنارلویی او لوړتیاتــه کتــل، خــورا ښــکلې ښکاریده، هغه سره له دې چې دا دهغې لویی په پرتم کې ډوبه وه، ما په دغــه شیبه کې خدای شته دهغې دننداري پرتم ته کتل، دهغې اوچتو کتــو دهغــې دمخې خوا پیکی هم شاته ور واړاوه، داسې چې که هرچا په هغه شیبه کې هغه لیده، دهغه خورې زلفی یې لیدې نوله شکه پرته یې دمجنون ولې ښکلې ونــه اودهغې دنګتیا سترګوته دریده، ماته په همدغه مهال کې هغه ښــکلی پښــتو شعررایادشو چې :

( ته چې په بام باندې ولاړه وې تا چا ته کتل

خلک زما په ننداره وو چې ما تاته کتل... )

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغې ترډېرو پورې دهغه مينارلويې اولوړتياته وکتل اووکتل، کلـه چـې دهغه له کتووزګاره شوه، ماته يې وکتل، سترګې يې له اوښکو نه پوهيږم چـې ولې راډکې شوې، غبرګې غبرګې اوښکې يې لکه دبرساتي باران څاڅکي مړې مړې توې کړې، په داسې حال کې چې زما پراوړه يې خپـل لاس نيـولې و، پـه ژړغونی اکر يې راته وويل:

ــ ما دلومړي ځل له پاره دغه لويی د دغه لوی اوګې ډيلی په زړه کې نن وليده...

ددې دغې خبرې ما ته هم پوښتنه را پيداکړه، خو وروسته راته څرګنده شوه چې هغه په خپل دوه وشت کلن ژوندکې دالومړی ځل و چې دلته راغلـې وه، دايوازې لکشمی نه وه، زموږ په ډله کـې چـې دډيلـی ښـار اوسـيدونکی مسلمان هم وو، هغوی هم تراوسه نه قطب مينارليدلی و اونـه پوهيـدل چـې داکله اوچا جوړکړی دی. بشيراحمدخان زموږ په ډله کې يوبل کاکـه ځـوان و، کله چې ما له هغه څخه ددغه لوی ميناردجوړيدوپه اړه پوښـتنه وکـړه هغـه خپل ټول معلوما ت په دغه جمله کې خلاصه کړل: ( ماته مې مشرچاچا ويلـی چې داد انګريزانو په دوران کې يوه مسلمان جوړکړی دی... )

لکشمی په دغه شيبه کې بدله شوې وه، له هغې سره اوس يوبـل شـان احساس مل شوی و، هو، يوبل شان داسې چې سړی پرې پوهيـده ددې دغـه دروند احساس له يوه درانه افسوس اوارمانجن دريغ سره ملګری دی، داسـې احساس چې زه هم نه پرې پوهيدم... په دې چې هغې په خپل هغـه احسـاس باندې خپله خوله پټه نيولې وه...

(c) ketabton.com: The Digital Library



له ماسره دمنار په شمالی لور روانه شوه،هلته دډيلي ديوه لوی واکمـن التمش قبرو، کله چې ما دالتمش وران شوی قبرته لاسونه پورته کړل، دې هـم دواړه لاسونه لکه زما په شان پورته ونيول، ما خپله دعا وويله، خوددې لاسونه لاهم داسې په هواکې پاتې وو، راته موسکۍ سوه، اوهيله يې راڅخه وکړه، کوم څه چې ما په دعاکې وويل هغه دې ته هم ووايم: زماله پاره دهغې دغه شـيبه په ځانګړې توګه خورا مهمه وه، هغه شيبه، هغـه انځـور: ښـکلې دنګـه ونـه، ژړغونې تورې سترګې، اوچته پـزه، ښـکلی غـاښ، هماغـه شـان لکـه چـې دپښتونوميالی شاعرحميد ماشوخيل کله چيرې له چـا سـره ليـدلی وو، اودا اوس يې دالله دربارته دواړه لاس نيولي دريدل، ما ته دغه انځـور يوبـل شـان انځور راکړ، هيڅ مې ورته ونه ويل، يوازې مې ورته کتل چې دې بيا راته وويل:

زريوڅه راته ووايه، لاسونه مې ښوری، سترې شومه...

مابياهم له يوڅه کتو وروسته ورته وويل چې له پاک خدايه دډيلي دغه ستر ټولواکمن ته دښښې غوښته وکړه اووايه چې ددغه لـوی پاچـا ځـای دې جنت وی... هغې په خپله نازکه ويناکې دهغه لـوی پاچـا لپـاره همدغـه دعـا وکړه...

ــ ای لويه اوښتونکيه څښتنه....

څوشيبې يې دهغه سترواکمن قبرته په ځيرځيروکتل، هغه دزمـا نـې ديوه لوی واکمن مزار و، خوهلته اوس کراره کراري وه، هلته اوس له مورږ دواړو پرته نورڅوک نه وو، اوهلته نن هيچا هم چا ته نه ويل چې دلته اجازه نشـته... دلته مه ګرځۍ... چې دادهندوستان دسترټولواکمن قبردی...اودلته دهغه لوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



واکمن په دربارکې اوس له مجنونوملنګانو پرته دبل چا ټيیکــه نــه وه، اوهغــه اوس دلته له ځان سره نه زور درلود اونه هم زر... لکشمی ته ددغه لوی پاچا په باب دخپلې انۍ هغه خبره وریاده شوه چې دې ته یې کړې وه:

( داهغه لوی واکمن دی چې دده په زمانه کې به دډیلی ښارته پرتــه لــه اجازې په هواهم څوک نه شول نه راننوتلای... ) خواوس دومره یوازې دی چــې زاړه قبرته یې زمونږ ژړا راځی اومونږ یوازني څوک یو چې دعا ورته کوو...

زما هم زړه اوس دغې سړې فضاته راتنګ شوی و، ځکه مې لکشمی ته وویل:

ـ ما مې له موره داخبره اوریدلې وه چې په دنیاکې له یوه خدایــه پرتــه نورڅوک لوی نشته، لویی یوازې له هغه سره وړده، دانورې لویی دڅوورځودي، وګوره دادنړې دوخت لوی پاچا و، خو نن یی هغه خواخوږي،لویي او هغه پــرتم چیرې دی چې دغه نړیدلې ګومبزه یــې ورجــوړه کــړي... ټــول کــال دهنــد برساتونه وربادې اوری، له یوه خدایه پرته یې نورڅوک نه غږ اوری اونــه یــی هم څه پروا لري... هرانسان باید هروخت له ځان سره په دې بــاوری وي چــې یوه ورځ داسې وربادې راتلونکې ده چې یوڅوک ورته ویلای شي:

یووخت پاچا وم اوس ملنګ ددنیاشومه...

مونږ دواړه دهغه مزار له څنګه راپه دې خوا شو، روان وو، چــې پــه زړه کې یی یوه بله ورتیره شوه او له مایی پرته له مقدمې پوښتنه وکړه چې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ــ دولته... راته ویلای شې چې کله سړی مړشی سوځیدل یی ښــه دی که ښخول؟

ددې دغې پوښتنې یوپه یو له اوریدنګ سره سم حیران کړم،نه پوهیدم چې څه ورته ووایم،په دې چې دانوپه خپله څه ساده پوښتنه نه وه اونه هم ده خو زرخدای راجوړوله اوترخوله مې ورته راووتل:

ــ تاسې ته سوځیدل اومور ته ښخیدل ښه دي... تاسې ته دامنظــوردی اومور ته هغه...

ما نورڅه دې ته نه شوای ویلای، په دې چې زه تردې زیات په دغــه اړه نه ږغیدای شوم اونه مې نورڅه ذهن ته راتلل، خودې بیاهم له ماهیله لرله چې زه باید یوڅه ورته ووایم، دې غوښتل زماله خولې دا واورې چــې داغــوره دی اویاهغه... خوماهمداورته ویل چې ستاسې یې هغه اوزمور یې دغه...

خو ددې زړه لاهم له ما څه غوښتل، هغه چې دم ګړې له ماسره نــه وو، زه په همدغه سوچ کې وم، چې ددې له خولې په موسکا موسکا کې راووتل:

ــ نه سول ښه وي...

په دې خاطر چې ددې دلیل مې اوریدلی وي، غوږ مې ورته ونیــو، خــو داسې څه چې زماترهغه دې ښه وي له دې وانه وریدل، هغې همداویل چې کله انسان له ژوند سره خدای پامانی وکړي هغه له (اپروالا) ســره یوځــای کیــږي، چې وروستی سرمنزل هماغه دی...

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوڅه نورې هم یې راته وویلې، خو زما له پاره بیاهم ډیرڅه نوي په کــې نه وو، راته موسکی شوه اوپوښتنه یې رانه وکړه چې ته ولې په دغه برخه کــې څه نه راته وایې، تا خوتل زما یوه خبره هم بې له ځوابــه نــه ده پریښــې، اوس ځنګه چوپ شوې، زه پوهیږم چې ته له سوځیدو څخه ډاریږې، وګــوره زمــوږ هندوان څومره میړني، څومره زغمونکي دي چې اورترورروستې لمبې پورې هم په خپلوهډوباندې اخلي اوترورروستی لمبې پورې یې له مینــی ســره یوځــای زغمي...

پرې یې نه ښودم، څومره مې چې ځان یوې اوبلې خواته ناګــارکړ، ونــه شوه، هغې په دغه اړه له ما هم یوڅه ویل غوښتل ځکه مې زړه نازړه ترخولــه ورته ووتل:

ــ زما لپاره نه سوځیدل مهم دي، اونه هم ښخول، کاشکی دایــوهم نــه وای، دادواړه ښه نه دي، دواړه هغه څه دي چې انسان له خورا ناکامی هغو تــه ځان سپاري،که رښتیا مې پوښتې زما دادواړه له همدې امله نــه خوښــیږي او دواړو ته په ښه سترګه نه ګورم... هو، زما نه داخوښیږی اونه هم هغه...

دواړه انسان اوژوند دابد له پاره د ورکې اوپای پرسرمنزل باندې سپاري، داسې چې بیا یی کله هم پردغه خوا نه راپریږدی او نه یې په زړونو کې دومــره رحم شته چې دیوه درنګ له پاره اجازه ورکــړي چــې هســې یوځــل خپلــې سترګې شاته ور واړوې... دوې زموږ دزمانې تراتوم لرونکوواکمنانــانوهم ظــالم اوبې رحمه دي...

په دوې کې ښه نشته،دواړه بد دي دواړه، که ستاسې دی اوکــه زمــوږ... دوی دواړو ته دنیمې لارې ناځوان ملګري ویلای شو ځکه چــې دوی لــه مــوږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره زمونږ دخوشالۍ په پای کې ډیره سخته ناځوانی کــوي... زه خــو لــه دغــو دواړو سره مینه نه لرم... ستاېي خوښه...

په فکرکې راته ډوبه وه...نه پوهیږم چې په زړه کې به يې څه ورتيريدل، مخکې تردې چې له ملګرو سره يوځای شو اوچالان موټرته ورپورته شوو زمــا داخبره يې ومنله اوراته ويې ويل:

ــ ته رښتيا وايې، څوک اوځه شی چې له اذله مخکې ژوند په ورکه اونابودۍ سپاری، هغوی تل بد وي، هغوی ښه نه لري اونه په ښويادېږي ...

(c) ketabton.com: The Digital Library



## (۵)

زما اولکشمی ناسته پاسته ورو ورو یوه پرله پسې سلســـله شـــوه، یـــوه غمیزه شوه، مور دکالج په شاوخواکې له یوه بل سره لیده کاته درلودل.له هغې سره زما ناسته پاسته هم د ځان ساتي پرپوله باندې روانه وه، په دې چـــې کـــه رښتیا ووایم، ددې نوروتودو خبرو خو زه چندانی زمری نه وم، هغه هم په دغه حال اوله داسې چا سره چې ژوند یې لکه آینه په تودو اوسړو دواړو کـــې راتـــه خولې خولې کیده. خودهغې دغه حالت هم نه شوای کولای چې زما داحساس لیونتیا راوپاروي، ځکه مې دځان له پاره امن اوخوندیتوب په دوراندیشی کـــې لیده. ما دهغې داحساس لمبې نه احساسولې، په دې چې تراوسه پورې دهغې دژوند سکې ماته یوازې خپله یوه خوا راښوده. دهغې په کړو وړوکې، دهغې په ښکلاکې شهوانی اوشیطانی تلوسې زما فکراو احساس نه بدرګه کاوه، ان چـــې دهغې په تودو تودو تلوسو کې زما احساس سړیده خولاتودیده نه...

په هندوستان کې هم لکه دلویدیز غوندې دجمعی ورځ رخصتی نه وي، ښوونځی اوپوهنتونونه خپل کارلکه دنورو ورځوپه شان په عادی توګه ترســـره کوي، همداسې دمنې دجمعی یوه ورځ وه، سخت شمال لګیده چې مـــور دواړه دیوه کتابتون په زړه ورننوتو، په لومړي پوړ کې مو څـــه دویلـــو لـــه پـــاره ونـــه موندل، همداوه چې مخامخ پنځم که شپړم منـــزل پـــه بریښـــنایی زینـــه کـــې ورپورته شو، په بریښنایی زینه کې مخامخ لویه هنداره وه، مور دواړه هغې تـــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخامخ ودریدو، خو داسې ښکاریده چې هغې هنداري هم زماشـــډلې اوزیـــږې ځوانۍ ته دلکشمی د پی مخې اوښایسته ځوانې په پرتله هرکلـــی نـــه وایـــه... دزینې داشارې تنې دپنځو پرتوري باندې ودریده... موږ ترې راووتـــو، مخـــامخ دلوستنې دالان ته ورغلو اوهلته پریوه میزباندې یـــوه اوبـــل تـــه مخـــامخ آرام کیناستو...

شمال یې ویښته داسې ګډوډ کړي وو، چې هرچا فکرکاوه، همـــدا اوس څوشیبومخکې دچا دمینې لاس دهغې د زلفوله تـــاو راتاوځخـــه را وتلـــي دي، ډیلی په کال کې یوموسم همداسې لري چې په جنکیوباندې سړی ګمانی کوي اوډول ډول پوښتنې دسړي ذهن ته ورولي... خو ښه والی په دې کې دی، چـــې دلته څوک څوک نه پوښتي، دلته لکه زموږ په ملک کې څوک په چا پسې پلته اوځراغ نه وي، دلته ژوند په رښتیاهم لکه جمنا غوندې تږول عمر په پټه خولـــه روان دی، اوهرڅه یې یوازې په زړه تیریږي، دلته ژوند له چغوسره ملګری نـــه دی، بلکی دلته ژوند له خوند اودرد سره درازونو سندرې وایی اوځان داورپـــه لمبوکې دمرګ تردمه ځایه رسوي، هلته له سندرو لویږي... خوانګازې یی زربیا نه آرامیږي...

لکشمي ته په داسې حال کې چې په خپلونازکو ګوتویی دمجلـــې پـــاڼې اړولې رااړولې وریاده شوه:

ــ هو، رښتیادانی کره مې له مورسره تللې وم، هغـــې راتـــه وویـــل چـــې دولت خان ته مې سلام وایه...

ماورته وخندل،په زړه کې راتیره شوه، نه لیدلي، نه کتلي، سلامونه تللی رغلي...

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ ډېره مننه، دهغې يې له سلام سره څه دي، ولې يې نمستې نه ويل؟

ـ تاسې سلام واياست، مونږ نمستې، هماغه يې وايه...

ـ مننه، زما سلام نمستې دواړه ورته وايه... يوه ورځ بــه يــې ليــدو تــه ورځم... اوځان به ورښيم...

ـ هو،هغې هم وويل چې يوه ورځ يې راوله...

په لکشمي هغه په رښتياهم ډېره ګرانه وه ددې په وينا هغه ددې هرڅه وه له هغې سره به تل کيناسته اوپاڅيده، ځکه هغې به تل ويل چې دا له هغــې څخه تل دپخوا په اړه پوښتنې کوي اوهغــه يــې هــم ورتــه وايــې... يــوه لــه هغوتيرويې په دغه ورځ ماته هم وکړه:

ـ زه هغه تل ګروم، دپخوانو زمانو پوښتنې ترې کوم، دپخوانو په خــاطر له هغې سره مينه لرم، داچې پرما تيريادونه ښه لګيږي دهغې ليدو تــه ورځــم اوپه شپوشپويې اوږدو اوږدو خبروته غوږ نيسم اويايې ترې ليکم...

زما له پاره هم ددې داخبردپاملرنې وړوه ځکه مې پوښتنه ترې وکړه:

ـ په ليک لوست پوهيږي؟

زما دغې پوښتنې دهغې حيرانتيا راوپاروله ځکه يــې پــه جــدي توګــه ځواب راکړ:

ـ هو، هغې ډيرڅه ويلي، هغې کمبريج هم پــاس کــړی، ډيرڅــه يــې ليکلي دي اوهغه په ډيرو خبرو باندې ترډيرخلکو ښه پوهيږي...

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددې دغې خبرې زما غوږونه راوکړنګول، په دې چې تردغې شيبې پورې ما فکرکاوه چې دهغې انې به هم لکه زما دانې غوندې په پټوسترګو دېخوانو کيسې په تورو شپوکې کوي... خو اوس دهغې په اړه زما نظرګردسره بدل شوی و. داچې لکشمي به په هره اوونۍ کې هغې ته ورتله له هغې به يې يوه نوې خبره زموږ په باره کې اوياهم زما په باره کې راوړه، ځکه مې نن هم دنوې خبرې ياددې اوونې دخبرې پوښتنه ترې وکړه:

ــ په دغه اوونۍ کې يې هم څه نوې خبره درته وکړه؟

هغې وويل:

ــ له هغې څخه زما پوښتنې اوس تل ستاسې په باب وي، له هغې سره تراوسه زما ددولت خان کيسه پای ته نه ده رسيدلې، دهغې دولت خوښيږی، دهغه په اړه کيسې کوي، په دې چې ددې انا وايی هغه ددې دانا هم خوښيده، زما دانۍ انا هرڅه دهغه په باب اوريدلي وو، خو ددې هغه ټولې اوريدنې دکتابوخبرې دي... هو، دهغې ددولت کيسې خوښيږی، له هغو سره يې سروکاردی، خو زما له دولت خان سره ناسته پاسته ده، هغه ددولت خان کيسې ماته وايی اوزه هغه بيا خپل دولت خان ته وايم... مانا داچې له دولت خانه تردولت خان پورې...

ما ته يې پوښتنه راپيداکړه چې پوښتنه مې ترې وکړه:

ــ ستا دولت خان؟

دې زر راته وويل:

ــ خبرې ته کونج مه ورکوه، زما دوست دولت خان...

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغې ويل چې دولت خان لوی اوبريمن جنرال و، خو دريغــه چـــې يــوه خورا لويه غلطی ترې وشوه...

ــ هغه څه وه؟

ــ هغه داچې که ده خپله په بابرپسې کابل ته استازي نــه وای اســتولي اودهغه پرځای يې ابراهيم لودي خپل تيروتنــو تــه ځيرکــړی وای، نوبيــا بــه هندوستان دپرديومنګولو ته نه لويده، دولت هغه له کابله هند ته راروان کــړ، غوښتل يی چې پر خپل لاس يې دډيلي پرتخت کينوي، داچې دې په لاره کې ناروغه شو، اوياهم ناروغه کړشو، ترډيلی پورې راونه رسيد، بابرچې دده په پله ډيلی ته راوخوځيد هغه دده له برکته دډيلي واکمن شو...

لکشمی لا داغم لړلې کيسه کوله، لايې پاې ته نه وه رسولې، زما زړه يې راتنګ کړ، په دې چې داډول خبرې زما لپاره چې له دغــو کــړو وړو وروســته هندوستان ته راغلی وم يوڅه دردونکې په دې وې چې که څه هم هغه زما لــه راتګه خورا پخوا تيرې وې، خو زما لپاره داسې وې لکه چې همداڅه موده پخوا په دغه مځکه باندې تيرې شوې وي ځکه مې دخبرولړې ورغوڅه کړه:

ــ جالبه او دردونکې....

زه همداسې دڅو شيبوله پاره دفکرځولې شوم، لکشمي لکه چې زما په دغه اکرباندې پوه شوه، لاس يې دميزپرسر زما لورته راوغــزاوه، داســې چــې غوښتل يې څه راته ووايي، لايې موسکا په ځيره اوشونډو کــې غــوټۍ غــوټۍ کيده، چې ترخوله يې راووتل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ــ فکرکوم ډېرخپه شوې، خپه کیږه مه، له دغې کیسې په سوونوکلونوتیردي، دا اوس دتیرو او نژدې له یاده وتلو یارانو یوه یارانه وه، هو، یارانه...چې هغه مهال تیره شوې هغه ستاخبره په هماغه مهال په کې دمینې بنګړي مات شوي دي...

ما په مینه مینه ورته وکتل،دې هم داسې راته کتل چې په خپلو تورسترګو کتوکې یې له مانه زما مینه ناک کاته په موسکا موسکا سره ولوټل، اوس یې زما پرځای هم خپلولاسوته کتل، چې ماځواب ورکړ:

ــ چې خپه شم څه به وکړم... خوستا انابايد زر وګورم... هغې نورهم څه نوي درته وويل؟

ــ ښښنه غواړم. ما غوښتل چې هغه بله خبره هم درته وکړم، خو ته دومره زر ځوابي شې چې له ماڅخه اصلي خبره په بله لاره شي...

ــ مامې لاس دهغې پر لاس کیښود اوورته ومې ویل:

ــ ډېره ښښنه غواړم، ما فکروکړ چې ستاخبره پای ته ورسیده...

هغه بیاراته په خندا شوه:

ــ زه پوه شوم چې پرتا باندې د دولت خان دتاریخی تیروتنې خبره ښه ونه لګیده، خوزما دانا دابله ترهغې هم درنه وه لکه چې ماته یې کوله:

ــ پټانان دتاریخ په اوږدوکې داسې قام و او دی چې لویی واکمنې ړنګولای شي، دوې ډېرملکونه اوډېرې واکمنې له نورو نیولې، خو ترډېرویې ساتلې نه دي، ځکه چې دوی لکه څنګه چې زر اتفاق کوي، همداسې زر بې

(c) ketabton.com: The Digital Library



اتفاقه کیږي هم، هغې وویل چې کله دوې خپلې دغې بدمرغۍ تـه دحــل لاره پیداکړي، تردوې به هوښیار اومهذب ولس په نړې کې بل نه وي...

رښتیا رښتیا، دروغ، دروغ نورنو ما دپورتنۍ خبرې په وړاندې ددلیل په نامه څه له ځان سره نه درلودل، دې چې څومره دغه رښتینې فلســفه مـا تــه غړوله زه یې په فکرکې ډوبلوم، یوازې دهغې تورو سترګو ته مې کتل، خــولې مې نورکار نه کاوه ښایی که زما پرځای بل څوک هم وای،همدغه اکربه یې مــل وای اوهمداسې حالت به خامخا وردغاړې کیده... دهغې نازکو شونډو ته مې په ځیرځیریوازې کتل،اوپه فکرکې راتیره شوه نه چې په دغو درنو خبرو دهغــې ژبه اوشونډې نه وي زخمي شوې... دهغې دنګې غاړې ته مې وکتل چې نــورې هم ډاډول درنې اوزیږې خبرې په کې شته که پای ته ورسیدې....

هغه زما پر دغه حالت باندې پوه شــوه، چــې زه رښــتیاهم ددې خبــرو یوڅه سوچې غوندې کړم... له ځایه اوچته پورته شوه، داوږده دهلیز لــه هغــه سره یې په څو شیبوکې دشدوچای دوې تودې پیالی په لاس کې رانیــولې وې، یوه یې زما مخې ته کینښوده اوبله یې خپلې...

ــ وڅښه هوا سړه ده، تود تود یې وڅښه...

ــ مننه، هو داچای به زما سړه اروا یوڅه راتوده کړي...

ــ ستا سړه اروا؟

په همدغه خبره بې دزړه له کومې هیله راڅخه وکړه چــې نورنــو ددې خبرو بنه په بله خوا کړي، خپل لاس یې زما پرلاس باندې کینښود، دهغې لاس تود و، داسې چې کله یې زما پرلاس باندې کینښود، ما ته یې هم تودوالي خوند

(c) ketabton.com: The Digital Library



راکړ... لکه چې داهم زما پردغه احساس باندې پوه شوه، زما لاس یې په خپل لاس کې کلک ونیو، راته ویې کتل وشرمیده... پرتورو سترګویې د ختلو بڼو دروند والی ما له ورایه لیده، داسې چې په خورا سختۍ سره یې پورته اوکښته کولې... ځکه یې دخپل زړه په تړوله تودوخه کې راته وویل:

ـ تا کله دبرسات په شپوکې دجمنااویادافغانستان دکوم سیند په آرامه غیږکې دسپوږمۍ ننداره کړې؟

ـ نه، ما یوازې داوړې په زړه کې دهغو دزړونو فریاد اوریدلی دي...

ـ هو، جمنا زما په همدغه آرام خوتاوده احساس باندې خوښیږي... آه، زما... آه...

لایې هم زما سوړ لاس په خپل تاوده نازک لاس کې تود تود کیده چې هیله یې راڅخه وکړه:

ـ داسې یوه ښکلې لنډۍ دې په یاد ده چې دم ګړې زما په زړه باندې راسیوری شي اوزما... یوه ښکلې لنډۍ چې ښکلا یې په ژباړه کې زخمي زخمي نه کړي...

څوشیبې مې په داسې یوه لنډۍ پسې خپل ذهن څراغ کړ، چې وکولای شی دهغې زړګې تسل کړي، یوه راغله، خو ښه مې نه شوه، دویمه راغله هغه مې هم خوښه نه شوه دریمه خدای برابروله، برابره شوه اومخامخ مې دې ته ترخوله ور ووته:

اورچې بلیږي اخر مړ شي زړه چې مین شي همیشه لمبې وهینه...

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لکه چې هغې سمه وا نه وریده زریی ترخوله راووتل:**

**ـ څه شی، څه شی، یوځل بیا یوځل بیا....**

**اورچې بلیږي اخر مړ شي زړه چې مین شي همیشه لمبې وهینه...**

**لمرلویدلی و، چې هغې بیا په خپله کتابچه کې دغه لنډۍ هـم وکښـله، داځل دغې لنډۍ پرهغې باندې درنه اغیزه کړې وه، داسې چـې ځومـادې تـه هغه ویله اوپای ته مې رسوله دتورو زلفو سیوری یې په کتوکتوکې زما پرخـوا راپریوت، په مینه مینه یې خپل مخ زما پرمخ باندې راولګاوه، سـریې راپورتـه کړ، په ځیرځیریې راته وکتل، سترګې یې سره وغړولې، څو مره یې چې کولای شول، دومره یې دخپلومینه ناکو کتوپه غیږه کې ونیوم، داسې چې ما تـه یـې زما دمشرې خور مینه ناک کتل رایادکړل، هو، دهغې چې کله به یې په شوخۍ باندې ووهلم، زما به نورڅه له وسه نه کیدل په زوره زوره به مې ژړل، هغې بـه چې زما اوښکې ولیدې، زر به راغله اوپه غیږ کې به یې ونیوم، پـه یـوه اوبلـه خوابه یې ښکل کړم، زاری به یې راته وکړې چې نوردې نه وهم مور اوپلار تـه ونه وایې ... ، زما به هم زړه تسل شو، اوځان به مې آرام ونیو، لکشمي هم اوس ماته په همداسې یوه حالت کې بریښیده، زه اوس هم نه پوهیدم چـې ددې زه خوښ شوی وم که دغه خوږه لنډۍ اوکه دواړه، لنډې یې څو ځلې نوره هم پـه خپلوشونډو باندې یوې اوبلې خواته سره و زغلوله، ما ته یې کتـل اولـه ځـآن سره ګډه وه:**

**اور چې بلیږي.... اخر... مړ شی... اور... چې... به لیږي...آخر...**

(c) ketabton.com: The Digital Library



لايې دويمه مسره نه وه ورپورې پټليز کړې چې سترګې يې لــه اوښــکو راډکې شوې، غبرګې منګولې يې خپلو غبرګو سترګو ته ونيــوې، داچــې ولــې اودخه لپاره، داهغه څه وو چې ددې دزړه په تل کې وو، هغه يې ماتــه هــم نــه ويل،او کله کله به يې په هغوباندې لا ځورولم هم... نن هم زه نه پوهيدم، چــې پردې دغې ټيکی اغيزوکړ اوکه به نورڅه وو،هو، پرې پوه نه شــوم،ځکه چــې لکشمی کله کله داشان درنه خو نا سپړلې ژړاما ته په درنو درنو کتوکې کوله...

ترسکنې ماښام هم خبره تيره وه، هغې نن له ما هيله وکړه چې ترکوره يې بايد بدرګه کړم، ورسره ومې منله، ددې کورته چې کومــه لاره ورغلــې وه، هغه هم پرګڼوکوڅو اومالتو باندې تيره وه، په هرټکی کې به يې يوه يــوه نــوې خبره راته کوله، دلته هم مسلمان اوسی، انا مې وايی دلته هم پټانان اوســيدل، دلته لږ هغې خوا ته د...صوفی... زيارت دی....

لا دغه لږی پای ته نه وه رسيدلې چې موږ ددوې کورته خيرمه ورسيدو، دلويې بنګلې مخامخ يې دسړک په سر يوه لويه غريبه کورنې په چوپړې کــې اوسيده، اوټول عمر يې دهمدغه سړک پرسرتيرشوی و، دکورميرمنې دخپلــې چوپړی مخ ته اوربل کړی و اوله خپلو پچيانوســره خوشــاله ورتــه ناســته وه، اوربليده اوکرارې کرارې لمبې يې کولې، موږ لا دلکشــمی دوې کورتــه نــه وو رسيدلی چې د اورلمبې يې ورو ورو تتيدې، لکشمی هغو ته وکتل، اودهغو لــه کتو سره سمه يې لندی په شونډو راغله، دا له موټره کښته شوه، دکورموټروان يی په دروازه کې دريدلې و، چې ما بيرته خپل استوګنځی ته راورسوي، دې له ما سره خدای پامانی وکړ، بيايی په يوه اوبله خوا دزړه له کومی مچې کړم، کله

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې زه موټر ته وختم اوترهغومو چې دا له سترګو الونيا کيده، هغـــه ولاړه وه او لاپې هم دخپل زړه درد ته دهمدغې لنډۍ ببوزې په سوچ سوچ کې واهه چې:

آورچې بليږي اخر مړ شی...

آورچې بليږي... آخرمړشي...

زړه چې مين شي هميشه لمبې وهينه ...

(c) ketabton.com: The Digital Library



## (۶)

نه پوهیږم، څه مې لیکل، یوڅه خـومې لیکــل، پــه هغــه ورځ مــې ان ترماښامه بورې لیکنه وکړه، ګوتې مې پرقلم باندې درنې درنې شوې... دپـاڼې پرڅولیکل شویو کرښو مې کیښودې اودمیزله سره پورته شوم، دکوټې دهلیز ته ووتم، نوې دسکنې ما ښام څپه راخوره شــوې وه، تیــارې کرارکــرار ځــان راغوړاوه، په دهلیز کې پښه نیولی غوندې شوم، زما کــوټې تــه مخــامخ زمــا هندي ګاونډي انند پرکاش اودهغه میرمن چاندني دواړه تاوده تاوده ګر ځیدل، زما یې هم تلوسه کړه، څوشیبې ددوی برنډې ته مخامخ ودریدم، دلتــه بــه زه تل دریدم، کله کله به مې له همدغه ګاونډي اویادهغه لــه میرمنــې ســره لــه همدغه ځایه خبرې هم کولې، په دغه ورځ هم دلته ودریــدم، خــو دوی خــورا بوخت راته معلوم شول، څو شیبې نه وې تیرې چې چاندني یوه ګیډۍ شــمې په لاس کې راووته، یوه یوه یې دبرنډې پردیواله باندې له دغــه ســره ترهغــه کتارکیښودې اوبیایې له یوې نرۍ دعا وروســته هغــه ټــولې ولګــولې، شــمې ولګیدې، شاوخوایې ټوله رڼاکړه، دلګیدلو شمو تررڼا ورهغې خواته،داپه خپلــه له خپلې همیشنۍ موسکا سره ودریده ما ته یې وکتل اوپه خنداشوه:

ــ مه خواشینی کیږه اوس یې ستا دکور په مخ کې هم لګوم...

زه په اصلي خبره پوه نه وم، بې له دې چې پــه خبــره ځــان خبرکــړم، حاضرځوابی مې وکړه او ورته ومې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ ضروري نه ده، سپوږمۍ دستورو په منځ کې ترنـــژدې لــه لـــرې ښـــه ښکاریږي، زه یې له همدغه ځایه ګورم اوخوند ترې اخلم...

هغه زما دخبرې په نازکۍ پوه شوه ځکه یې نیغ ځواب راکړ:

ـ سپوږمۍ چې څومره لرې وي ښکلې وي، خو شمې کــه لـــرې وي لــه نظره لویږي، پریږده چې نژدې یې درته ولګوم...

هغه له یوې ګیډۍ شموسره راغله، زما دکور تیـــاره دهلیزیـــې هـــم پـــه شموراته روښانه کړاوراته موسکۍ شوه:

ـ وګوره شمې چې څومره نژدې وې ښکلې وي اوسپوږمۍ چې څـــومره لرې وي هغومره...

مایې هم په ځواب کې وویل:

ـ خوچیرې دسپوږمې ځلا اوچیرې دشمې...

زریې خواب راکړ:

ـ داشمې دداسې چا په قدمو کې بلې دي چې سلګونه، ســـپوږمۍ یـــې دنوکرۍ جوګه هم نه دي...

له چاندني سره ما تل ټوکې کولې، هروخت به مې ورته ویل چې ستانوم ډیرښکلی دی، موږپه پښتو کې چاندنی ته سپوږمۍ وایو... نن مې هـــم لـــه دې سره خپلې عادي خبرې شاعرانه کړې، څو شیبې لانه وې تیرې چې خاوند یې په یوه پتنوس کې څوډوله شیرنې اوحلوا رانیولي وه اوما ته یې راکړه... ده هـــم زموږ خبرې اوریدې ځکه مې له ده څخه دقضاوت پوښتنه وکړه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ــ ته ووایه چاندني رښتیاوایی که زه؟

ــ هغه خبره رالنډه کړه:

ــ تاسې دواړه رښتیاوایاست خونن به دچاندني ومنو...

ــ څنګه؟

ــ ځکه ته پوهیږې چې نن زموږ ډیره مبارکه شپه ده، نن لکشمي زموږ په کورونو ګرځی...

ــ لکشمي څوک ده؟

ــ هغه چې دنړۍ شتمنۍ له دې سره دي...

چاندني دخپل باورپه رڼاکې ددغې ننۍ شپې اودهغې دلوړتیا اومبارکۍ په اړه نژدې یوکتا ب خبرې راته وکړې اودغه شپه یې له خورا نیکمرغو اودرنو شپوڅخه یاده کړه، په دغوشپوورځوکې هندکۍ روژې نیسی، کورونه پاکوي، په دې چې دوی باورلري چې په دغو شپوکې لکشمي د دوی کره راځي، په ټولوکورونو ګرځي، ځکه خویی دوی په هرکلي کې شمې بلوي، اودخپلومرادو دپوره کیدوبرکتونو ته یې سترګې په لاره وي...

چاندني به چې هرځل دلکشمي نوم په خوله راووړ، نوورسره به له ډیرې مینې دچا خبره باغ باغ کیده، هغې یوځل داخبره هم یاده کړه چې لکشمي دشتمنیو ددنیا واکمنه ده، چاته یې چې زړه وغواړې هغه ورکوي... ما ته هم زما اولکشمي دلیدودلومړیوورځوخبره رایاده شوه چې دلومړي ځل له پاره لکشمي خپل نوم راته ویلی و اوماورته ویلي ووچې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ لکشمي، څومره ښکلی نوم دی،

ـ لکشمي هغه چې سړي ته شته اوعزت وربښي... ؛

اودې ځواب راکړچې:

ـ هو، هم هغه، خوزه غریبه یم، چا ته لکه هغه څه نه شم ورکولی...

په همدغو شیبوکې زموږ نورګاونډیان هم لاړل راغلل، هغوی هـم چـې څه تیارکړي وو ماته راکړل اوما هم ترې واخیستل... شپه ښه راتیـاره شـوه... دوې خپلوکورونو ته لاړل اوزه خپل ته... خو شمې لاهم داوږده دهلیز په اوږدو کې لګیدلې اودنژدې سکنې ماښام دتورتم شمال به په یوه اوبله خوا په مینـه اونازسره اړولې را اړولې... زه خپل کورته راننوتم، دخوږو ډک پتنوس مې هـم دمیزپرسر کیښود، لـه کړکـې مـې یـوې اوبلـې خواتـه وکتـل زمـوږ ټولـو ګاونډیانوخپل کورونه رڼاکړي ول، زه لاهم په کړکـی کـې ولاړوم،هغـه خبـره رایاده شوه چې لکشمي راته کړې وه، دلته خلک دډیروخدایانوښـه نمانځنـه کوي، درناوی یې کوي ځکه نوخدایان دلته خوشاله دي... زه په همدغه ســوچ کې وم چې تلیفون په شرنګا شو، له کړکې رادې خوا شوم غـوږی مـې پورتـه کړه، پلارمې له کابله په لین کې و، زما دجوړوالي پوښتنه یې وکړه، دایـې هـم راته وویل چې مشرورورمې دادوه ورځې کیږي وسله والـو کسـانو لـه کـوره ایستلی نه پوهیږم چې همدلته یې په ښارکې چیرې ساتلی اوکه یې شمالي ته بیولی دي...

په هغو شـپوکې پرکابـل بانـدې دغلواوسـړي وژونکـوچې دشـمالي دغلوداړې یې په سرکې وې واکمنې وې... زما یې هم فکرسره ګډوډ کړ، په دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې دهغه مهال وسله والو ته دانسان مرګ دچرګ ترمرګ هم اسانه و... ځکــه نوداډول ناوړه زيري هره ورځ زموږ ترغوږو يوې اوبلې خواته تلل اوراتلل، زه په همدغه غم کې وم، په دې فکرکې وم چې ورور به مې ژوندی وي که نــه؟ چــې بياتليفون په شرنګا شو، سره له دې چې لاس مې نه ورته، خــو زړه مــې وکــړ اوغوږی مې دزړه په زوررا پورته کړه، داځل مې د ورور غږ ترغوږ شو، هغه تــه مې دپلاردخواشينې خبره ورکړه، هغه هم خبرو، خوزريې راته وويل چې ته بې غمه اوسه، پرما تراوسه څه نه دي شوي...

غوږې مې کيښوده، زړه مې يوڅه سره راټول شو، سره له دې چې دغــو ثـــــو دقيقوزمـــــا دفکرهرڅــــــه ســــــره ګــــــډوډ کــــــړل، بيامې ترکړکې دباندې وکتل، لاهم دګاونډيانو پربــاماوادهليزو بانــدې شــمې بليدې اورڼاوويې هره خوا په سراخيستې وه...

زما دکور په دهليزکې هم دشموليکو خپله رڼاکوله، زما فکرلاهم دکابل په تياروکې نښتی و، لاهم ســم نــه وم آرام شــوی چــې زمــا دکــوټې دروازه کرارکرار راوټکيده... زه نژدې ورغلم اوغږ مې درباندې وکړ:

ــ څوک؟

ــ زه (نری ښځينه غږ)

ــ تاسې څوک يې؟

په خورا ناآشناغږکې:

ــ زه لکشمی يم...

(c) ketabton.com: The Digital Library



رښتیا زما خپله ټولګیواله لکشمي ګردسره په یادهم نه وه، خواوس مې چې دلکشمي نوم واورید په ټول بدن مې دچا خبره سږه لړه را ننوته، زمـا پـه ذهن کې یوازې د چاندني کیسه همداسې ژوندې پرته وه، بله داچې لکشـمی کله هم زما کوټې ته په داسې درنه اوتیاره شپه کې راغلې هـم نـه وه... یـوې اوبلې خو اته مې وکتل، هیڅ مې هم ترسترګو نه شول، له دروازې په یوه خـوا شوم چې دروازه بیا په ټکیدوشوه... بیامې زړه نازړه غږ پرې وکړ:

- څوک یې؟

هغې بیا په ډیره ارامه ژبه ځواب راکړ:

ــ زه یم.

ــ تاسې څوک یې؟

ــ زه لکشمی یم...

که رښتیا ووایم زه نورهم نارامه شوم، په دې چې څوشیبې مخکې زمـا ګاونډۍ چاندنی اودهغې خاوند داخبـره کـړې وه چـې نـن لکشـمي دیـوي پرټولوکورونو باندې ګرځي، ځکه نو زه په همدغه فکرکې لکه پاڼه اوس داسـې لړزیدم، په دغه شیبه کې چې مادهغې نوم واورید له ځان سره مې وویل چـې ګواکي: ( راباندې راغله...) اوس نه پوهیدم چې څه وکړم، اوڅـه شـان دروازه ورته خلاصه کړم، هره شیبه یې اوس غږ هم اورم چې راتــه وایــی لکشــمي... راتلل نور توروي که سپین... یوځل خو مې ژمنــه وکــړه چــې پریــږده دروازه ورخلاصه کړم، توکل مې د پرخدای وي، پریږده چې څــه راتــه وایــی اویاڅــه راباندې کوي... خو اوس زه دومره بې واکه شــوی وم چــې دخپــل ځــان واک

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوځواک هرڅه رانه تللی وو، په ځان کې مې ان ددریدو توان هم نه و، ځوځلې خو په زړه کې راتیره شوه، چې باید ځان له کړکې دبانــدې واچــوم، شــاوخوا ګاونډیانو ته مې پام شو، چې که مې دوی ووینې، بیابــه راتــه وایــی چــې نــه لکشمی وه اونه نورڅه هسې ځان درباندې تاوان و. زه په همدغــه ویرکــې وم چې یوځل یې بیا دروازه راوټکوله:

ـ ټک ټک ټک...

ـ څوک یې؟

ـ زه څوک یم، لکشمی یم... لکشمي... غواړې دروازه درماته کړم...

نورنو راکې هیڅ هم نه وو پاتې، اوس نو په دې پوه شوم، هغه سمه دمــه زما دروازې ته دریدلې اودپر یښودو مې نه ده، لــه ډیــره ډاره بیــا دروازې تــه ورنژدې شوم بیامې لکه چې شونډې سره بیلې شوې...

ـ تاسې څه غواړئ؟

ـ په داسې ښځینه غږکې یې چې ما ته ناآشنا راته ځواب راکړ:

ـ تاغواړم...

له سخته ډاره سره مې داجرات وکړ چې ورته ومې ویل:

ـ هیله کوم، زه دغه شیبه په ډیربدحال یم، ناروغه یم، پریږده چې آرام وکړم...

خوهغې بې له ځنډه ځواب راکړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ــ اجازه راکړه، چې زه تاآرام کړم... که ناروغه یی هــم چــې چـاره دې وکړم...

کله یې چې داځواب راکړ، نوره مې زړه ته ورسیده چــې بــس همدغــه وروستی خبره ده، اوزه نورنوددې نړې نه یم اونه به په دغه نړې یم، خدایی مې په ټوله لویی یادکړ، په داسې حال کې چې نورنو په ځان نه یم پوه شوی، لاس مې ددروازې ترځنځیرپورې ورسید، داچې ما څنګه هغه خلاصه کړه په هغــې هم نه وم پوه شوی، خوچې کله راپه حال کې شوم، سترګې مې سره وغړولــې، ومې لیده چې زما هم ټولګی لکشمي مې سرته ناســته ده اوزمــا لــه ګاونــډی چاندني سره یوځای دواړې راته په ژړا شوې...

ــ ولې په تاڅه وشول، څه خبره وه.... ولې؟ ولې؟

ما ورته وخندل، ورته ومې ویل چې هیڅ هــم نــه دي شــوي، خــودوې بیاهم زما په خبره باورنه کاوه، دوی فکرکاوه چې ما به شراب څښلــي وې، پــه داسې حال کې چې لکشمی پوهیده چې زه ددغه کارشازلمی نه یــم... نــورمې چاره نه درلوده، ټوله کیسه مې لکه څنګه چې وه په زور اوزیرورته تیره کــړه، دوې دواړې له خندا راته شنې وې، داسې چې زموږ ګاونډی پورته اوله ولاړیدو سره سم یې راته وویل:

ــ ما فکرکاوه چې ګواکي رښتیاهم بل څه دربانديې شوي، خو لکشــمې دومره راته وخندل چې په پای کې له ډیرې خندا خندا راته په ژړا شوه... زمــا په دغه حال یې ښه زړه تش کړ...

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه نن په دغه تورتم کې پر ماپسې راغلـــې وه چـــې مـــا خپـــل کورتـــه بوځي،هغې نن زما په خاطرخپل ټـــول خپلـــوان رابللـــی وو، زمـــا ټـــول کـــالي اودريشی يې راته راواخيستل، راوايې اغوستل، له کوره يې راوايستم، دهغـــې شپې دبلوشمو په منځ کې يې ترخپل موټره راورسولم اوپه خپل موټرکې يـــې په خپل څنګ کې کينولم، په هغه شپه زه ددوې ترکوره په ځان نـــه پوهيـــدم، سرمې په ټوله لار ددې په اوږه تکيه کړی و، هلته يې انا هغه چې لاهم دتاريخ دزيړو پاڼو پرمخ پردولت خان مينه وه، زما په انتظارناسته وه، کله چـــې زه پـــه لومړي ځل لکشمي خپل کورته لاس نيولی ننه ايستم، ما هلته لومړی ځل هغه نژدې اتيا کلنه ګل بانو په خپل ټول درنښت سره وليده، اوله هغې مې له ډيرې مودې وروسته په هغه لرې وطن کې دخپل قام، دخپلو پښتنو ډيـــرې خـــوږې اوډيرې ترخې ياترې اوخاطرې په هغـــه مبارکـــه شـــپه پـــه ويـــاړ ويـــاړ ســـره واوريدې...

(c) ketabton.com: The Digital Library



## (۷)

د ښايسته بنګلې د وره پرسر ديوې وړې کرښــې پــه ليکــه څراغونــو مړاوي مړاوي سترګکونه وهل، تياره وه، دانګړ دننه ګل ونې اوګلولې يوې اوبلې خواته غوړيدلې ځانګې ولاړې وې، په نرۍ وياله کې رڼو اوبوهم ځان لکه زرنــه داسې ښود، وړاندې اووروسته هم څه رڼاوې زما سترګوته راغبرګې نه شــوې، هيڅوک هم نه وو، هيڅا هم دلويې اوښکلې بنګلې په دروازه کې لکــه ميلمــه غوندې زما هرکلې ونه کړ، يوازې لکشمي ددغې ښکلۍ اودنګې بنګلې پريــوه اوبله خواتاو راتاوکړم، دبنګلی شا ته يې يوقبرراوښود،چې هغه يې دنيکه و که دغورنيکه، تردغه مهاله چې څو موږ ورتلو يوه وړه شمه چې نوره نودمړه کيدو په پوله دريدلې وه، يوې تتې رڼا بدرګه کوله اولاهم نرې نرۍ لګيده، په څنــګ کې يې زړه تاخچه چې يوپانې پانې کتاب پکې ايښی وتراوسه جــوړه وه، لکــه چې دتاخچې په ديواله کې سا نه وه پاتې، همداسې کتاب هم په ښکلي پــوښ کې واسکټ واسکټ شوې و، نه پوهيږم چې دڅومره کلونوبرســاتونو، بــادونو، نمونواوګرميو به وهلی وخوکله چې مايې له مودووروسته پاڼې سره واړولې راو ړاولې، دهغې وروستۍ شمې رڼا ته يې توری داسې روښانه راته ځليدل چې ما فکروکړ راته خاندي... ومې کوت، بيرته مې په درناوي سره لومړی ښــکل کــړ اوبيامې پرخپل ځای کيښود چې لکشمی راته وويل:

ـ ودې کوت، ودې لوست، پرې پوهيږې...

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورته ومې ويل:

ــ هو، لږ لږ...

خودې په داسې ځيره لکه چې رښتيا نه وايې راته وويل:

ــ زه چې په ښه اوبد پوه شوې يم، دا پاڼې پاڼې کتاب دلته ګورم...

ــ هو، ډيرزوړ دی، خو ليکنې يې اوس هم سړي ته خاندي...

ــ څنګه؟

ــ که دکتاب پښتې زړه شوې، خودهغه تورې لاهم چې څنګه لــه اولــه روښانه وو اوس هم روښانه دي...

دزاړه قبر پرسريوه ځانګه وره زړه ونه په خپلې ړنګې بنګــې تنــې، پــه خپلې سورې سورې ځيره لاولاړه وه، ډيرې ځانګې يې اوس هم لاوچې شــوې ورپرې زنګيدې، پاڼې خو دومره پکې لږ وې چې هغې خواته يې دآســمان پــه هسکو کې ســتورو لــه مــوړه خپلــه پــرده نــه شــوای کــولای، خــوولاړه وه اوپرقبرباندې يې تودو اوترخو بارانونو ته يې اوس هم خپله شکيدلې اوســورې سورې تنه لکه دمجنون ولې په شان نيولې وه. په همدغه ليدنه کتنه کــې وو، چې دبنګلې له خوا يوسپين ږيرې زموږ پرخوا دروند دروند کيده، اوږده پټانی کالي اوواسکټ يې پرځان کې وو، چې رانژدې شو لکشمی په څو لنــډو جملــو کې داسې راوپيژاند:

(c) ketabton.com: The Digital Library



(( دا حکیم خان لالا دی، دې زما لــه انــا ســره اوســیږي، دده پلرونــه اونیکونه هم زما دانې له میندو اوپلرونو سره اوسیدلي دي، ددې بنګلې هرڅه په ده پورې اړه لري...

چې ښه رانژدې شو، ما لاس ور اوږد کړ، خوده راته وویل چــې پــه لاس کارنه کیږي، سره غاړه غړی به شو... بیا یې په خوند غیږه راتــه خلاصــه کــړه اوکلک یې په خپله غیږکې ونیــولم. لکشــمې راتــه ونــه ویــل چــې دی هــم هندوستانی پښتون دی، خو کله یې چې زه په غیږکې ونیوم، نوبیایی ترغوږ په یوه ماته ګوده جمله کې راتیره کړه چې: زې بهی پټان یوم...

چې دحکیم خان لالا روغبړ پای ته ورسید نــو لکشــمی تــه یــې مــخ ورواړاوه:

ـ ځو چې میم صاحبه تاسې ته انتظارکوي...

موږ درې واړه د زړې خو خورا درنې ونې اوزاړه قبرله خوا دبنګلی په لور ور روان شو، ددروازې پرسریی څراغونو دیــوې وړې لیکــې پرکرښــه بانــدې مړاوي مړاوي سترګکونه وهل، تیاره وه، چې موږ پربنګله ورننوتو، حکــیم لالا مو مخکې واوموږ ورپسې وو. بنګله لکه څنګه چې له بانــدې آرامــه بریښــیده دننه دومره آرامه نه وه، کله چې موږ تر دروازه وردننه شو، څرګنده شوه، چــې دهلیز تــه لــه ښــی، کینــې اوبــرې خــوا یوشــور اودډیــرو غږونــو انګــازې اوشورماشورراته، تردغې شیبې زه په دې فکرکې وم چې دومره لویــه بنګلــه اودومره لویه خاموشي؟ خو اوس پوه شوم چې زما سوچ برعکس وخوت، بنګله چې څومره له باندې څخه آرامه ښکاریده دننه دومره آرامه نه وه....

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ په لومړي پوړ کې وړاندې ښې خواته ولاړو، هلته بيا ښې خواته کاږه شو، يوڅو وړې وړې زينې پورته ختلې وې چې موږ په هغو کې پورتــه وختــو، هلته ديوه لوی دالان په دروازه کې يوې ښايسته ډلې نجونــو اوهلکــانو زمــوږ هرکلی وکړاودروازه يې د ميم صاحب ددربارپــه لــور راتــه پرانيســته...دالان ډيرلوی و، ميم صاحبه هلته د دالان په هغه سرکې له ځونورو خپلوانوميرمنــو سره په خبرو لگياوه... لکشمی ترما دمخــه وه، کلــه چــې هلتــه ور ورســيده دخپلې انې لاسونه يې ښکل کړل، خو پښتوته يې لکه دهندکيونجونو په شان ورټيټه نه شوه، په يوه اوبله خوا يې ښکل کړه، کله يې چې زما په بــاره لنــډې خبرې په انگريزي کې ورته وکړې، بيايې ماته لاس راکړ، اوزما غبرگ لاســونه يې په خپلودواړو لاسو کې ونيول، کله چې ما دهغې لاس مچولو تــه ځــان تــه جوړکړ، نه پوهيږم چې دې ته څه په زړه کې ورتيرشول، دواړه لاسونه يې زمــا تربېروځنو راتاوکړل اوکلک کلک يې زه هم په يوه اوبله خوا لکه چــې موربــه مې ښکلولم، ښکل کړم اوډځوشيبوله پاره يې زما سرکلک په خپله غيږکــې و نيو. کله يې چې مخ زما له سره په يوه خوا کــړ، اوماپورتــه ورتــه وکتــل، لــه سترگويې نرۍ نــرۍ اوښــکې زمــاپرمخ راتــوبې شــوې، زه ورتــه ځيرشــوم، شاوخواته مې وکتل چې زموږ شاوخوا خپلوان يې هم ټول آرام ولاړدي اوزموږ ننداره کوي... ما لکشمي ته هم وکتل خو هغې هــم ځــان آرام نيــولی و. زړې گلبانو زما پرسرلاس کيښود، اوپــه خپــل ځنــگ کــې يــې پرځــوکۍ بانــدې دکيناستو هيله راڅخه وکړه، زه لاناست نه وم چې خپلې زړې خورته يې هغــه چې تردې هم مشره وه مخ وروا ړاوه او ورته ويې ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ــ بابا دې په یاد دي چې ویل به یې: په پټانانو او افغانانوکې تراوسه هــم مشر مشر دی اوکشرکشر... کله چې زمانه اخره شي، له مور به هرڅه هیرشوي وي، ډیرارزښتونه به مو له لاسه ورکړي وي، خو دوې به لاهم خپل هغه ساتلی وي اومور به زاری ورته کوو چې دخدای له پاره مور هــم ستاســې ورونــه یــو، ستاسې قام یو، مور له دغې ناآشنایی، له دغې بې ایمــانې اودغــې بــې پټــانی دروژغورئ....

مشرې خورېې په داسې حال کې چې ددې خبره یې واوریــدې دا هــم ورته وویل:

ــ داسې مې په یاد دي لکه دا پرون، دهغه داخبره هم زما په یاد ده چې ویل به یې: دوې چې څومره له کلکوکــانو او اوچتوغرونوســره عــادت شــوي، همدومره مهربانه اوله عاطفی ډک زړي خلک هم دي...

دلکشمی انا سره له دې چې ښی لاس یې زما پراوره ایښی و، زما په لور په ځیرځیروکتل اوراته ویې ویل:

ــ زه ډیره نیکمرغه چې تا ګورم، ستا په لیدو مې هره شــیپه دپخوانــو هغه زاړه یادونه چې له خپلوپخوانومې اوریدلي یویو په ذهــن کــې راچــورلي، همدا اوس زه فکرکوم چې زه دخپل ماشومتوب دوران ته ورستنه شوې یم.

ما چې ددې دزړه له کومي مینه ولیده، خپلــه لنــډه مننــه مــې ورتــه څرګنده کړه:

ــ زه خپله هم اوس نه پوهیږم چې څه حالت رامل شوی دی، له تا اوستا له کورنې څخه ډیره مننه چې ماته مو دلته بلنه راکړه، زه همداسې فکرکــوم،

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې په خپل غم لړلي خوديرراته ګران هيواد خواږه افغانستان کې لــه خپلــې کورنۍ سره، که څه هم موږ دا شل کاله داسې نه يو سره يوځای شــوي ناســت يم...

هغې پوښتنه راځخه وکړه:

ـ ما ته لکشمی ويلی چې دلته يوازې يی؟

ـ (په موسکا) يوازې يم خو ځان په دغــه ملــک کــې يــوازې نــه راتــه ښکاري، داچې ولې په دې تراوسه هم پوهيدل راته ګران دي، خو کله کله لــه ځان سره فکرکوم چې پاک الله زما دجوړولو ختڼه له همدغــه هيــواده مــا تــه خوښه کړې وي... ځکه داسې راته ښکاري لکه زموږ ښکلی افغانستان....

په خپلو نرمو منګولويې په اوږه وټپولم اوراته په خنداشوه:

ـ ته ربښتيا وايی، هنديان هم وايی چې آدم عليه سلام دلومړي ځل لــه پاره خدای پاک په هندکې پيداکړی... همداده چې موږ هم وايو چــې دهرچــا خاوره له کوم ځايه اخيستل شوې وي، هغه هلته خوشاله وي اوله هغــه ځــای سره داسې چې پرځان هم سم نه پوهيږي رڼه مينــه لــري، هغــه خــاوره يــې ورکاږي اوپه پای کې يې همالته...

ما بيا ورته وويل:

- تاسې دخوشال بابا خبره وکړه، تاسې خوشال بابا پيژنی؟

ـ خوشال چې کوم پښتون نه پيژني، پوه شه چې هغه خدای نه پيژنی... دهغه خبره ماته معلومه ده چې وايی: هرسړی پيدا دی خو خپل کارلره کنه....

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه ددې دغې خبرې په رښتیاهم هیښ کړم... حیران شوم چــې داخــو ترما هم خوشال ښه پیژني، ځکه مې په شرمیدلی توګه پوښتنه ترې وکړه:

ــ تاسې دخوشال شعرونه لوستي؟

ــ هو، هغه مهال چې زه لاپه اروپا کې زده کوونکې وم، ما دهغه انګریزی ژباړه لوستې وه... هغه ژباړه مې بیاله ځان هم راوړه اوس هم زما پــه کتــابتون کې شته... اوس یې هم کله کله وایم...

ګلبانو دهندوستان دپښتنونوابانو دیوې درنې کــورنې هغــه وروســتی څراغ وه، چې ددې دخپلې کورنی، دخپلې نوابی د زوال وروستی شپې ورځــې لکه دخوب دلیدو په شان په یاد وې، دهغې اوس هم په یادوو چې دا وړه وه، او ددوې په دربارکې به لوی لوی میلمانه هغه سرداران اودنامه خاونــدان وو چــې هغوی به له کابله راتلل اویا هم له کابله راغلي وو اودلته پــه هندوســتان کــې اوسیدل. دې ته په یادوه چې کله به ددوې دربارته سردارایوب خان پــه کــال کې یوځل دوه راته، ددوې دنوابی ټول درباربه سره ښوریده اوپه ټول دربارکې به یې هرچا له یوه اوبل سره داخبره کوله چې دکابل هغه سردار راځي چې پــه میوند کې یې په زرګونه انګریزان داسې نیمه خواکړل چې دماتې کیســې یــې تراوسه هم انګریزي بابا ګان خپلو لمسیانو ته کوي... خو دریغه چې اوس هغــه پښتنه شهزادګی دژوند دزوال پرخواوه، اوس هغــې کومــه رســمي دنــده نــه درلوده، دوې درې دورې یې دپارلمان دغړې په توګه کارکړې و. اوس بــه هــم چې سړي ورته کتل له څیرې عادي څوک نه ښکاریده، دنګې ونې، عتــو غتــو سترګو، او اوچت قد یې اوس هم په رښتیا دحمیدبابا هغه بیت چې: ( پښــتنې په قامت سترې نه دي څه دي... ) په یونظرسړي ته وریاداوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړې شهزادګۍ زما نوم له لکشمي څخه اوريدلی و، ما هم له هغې څخه اوريدلي وو چې دهغې هم ددولت خان نوم ډيرخوښيږي... ځکه چې هغه دهند په تاريخ کې خورا لوی افغان تيرشوی و. په دغه شپه هم دې ددولت خان په اړه دهندوستان دتاريخ په حواله خورا ډيرخبرې وکړې، که څه هم زما نوم دولت خان و، خو دهغه دولت خان له امله چې هغه دپښتنو پرتم خاورې ايرې کړ، زما له خپل نامه څخه هم بدراتلل، ځکه نو ددې دمينې په اړه له ماسره يولړپوښتنې وې، چې ولې ددې په دومره پښتنوکې دهغه له نامه سره دومره زياته مينه ده، کله چې مې په هغه شپه ورته وويل:

ـ دولت خان لوی سړی و، خو لويه ناسيالي اودهغې تور داغ يې پرمخ باندې پاتې دی، ځکه هغه خپل مټ په خپله توره پرې کړ...

دا راته موسکۍ شوه اوراته ويې ويل:

ـ که دا توداغ يې پرمخ نه وای بيا خو سلطان بهلول لودي و...

ـ ستا يې ولې نوم خوښيږي، پرتاولې هغه دومره ګران دی...

ـ ته رښتيا وايې دهغه نوم دسلطان ابراهيم لودي دزمانې په خورا مهموکسانو کې راځي، دهغه نوم مخکې تردې چې ناسياله شي ډيرمهم و، په دې چې مخکې يوبريمن سردارو، او وروسته دقام لوی شرم...

ـ نوبياموولې له هغه اودهغه له نامه سره دومره مينه ده چې وايې پرما دهغه نوم خوږ لګيږي...

زړې شهزادګې خپل زوړ غړپه کړيس کړيس پورته کړ، لاس يې زما پرسرکيښود اوترخوله يې راووتل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ــ زما دمينې اوزماد تورې اتل دولت خان، دويم دولت خــان دې، هغــه چې خان جهان لودي غوندې پياوړې اونرپښتون بچې ترې پاتې شــو... ددغــه وياړلی دولت خان داتلوالی اوپښتنولی له مخې هغه ناسـياله هــم اوس بدنــه راباندې لګيږي... ته پوهيږې چې خان جهان به چې په مغلي درباركې ناست و، له پاچا رانيولی ترپيره داره چا داتوان نه درلود، چې دده دزړه او ارادې خــلاف خبره وکړي... وايی چې يووخت دمغل پاچا لوی دربــارجوړو،ټول امرايــان لــه هرې خوا په کې راټول شوي وو، کوم چا له هوښياری اوکه له بې عقلــی وويــل چــې دهندوســتان وارث څــوک دي؟ درباريــانو هريــوه پــه خپــل وار ســره دغوړماليوپه ژبه دپاچا اودهغه دخاندان سندرې وويلې چې بــس عــالم پنــاه اودهغه کورنی دهندوستان وارثــان دي، کلــه چــې دده وار راغــی، دپاچــا او درباريانو په مخ کې په ډاګه داخبره وکړه:

ــ مغل څوک او څه... دي، ترهغه پورې چې دهندوستان پرلتــو بانــدې دپښتون دتورې شرنګ لګيږي، هيڅوک داحق نه لري چې ووايی پرته له دوې نورڅوک دهند واکمنان اووارثان دي...

پاچا اودرباريان ټول چوپه خوله شول اوهيچا هم نورڅه ونه ويل...

دالاماته غږيد ه، لايې هم تاريخ راته وايه چــې لکشــمي زمــوږ خواتــه راغله او د ډوډې دتياري خبره يې زړې شهزادګی ته وکړه، هغې خپلې خبــرې پرې کړې اوما ته يې اشاره وکړه:

ــ ځی ډوډې تياره ده،او دا اوږدې کيسې ديوې ورځې کيسې نه دي....

(c) ketabton.com: The Digital Library



زموږدغه لوی دالان ته مخامخ د ډوډۍ خوړلوکوټه وه، دومره لویه چې له یوه سره یې بل ته غږ نه رسیده، داسې ښکلي ځراغونه پکې لګیدل چې دښکلاساری ما تراوسه نه و لیدلې، دیوالونه اوشاوخوایې په رنګارنګ هنداره پسولل شوي و و، کله چې موږ ورننوتو، لومړې بې دغه لوی خوړنځي لویدیزې ځنډې ته لارښوونه کړو، زړه شهزادګۍ هم له ماسره وه، چې دې یې په باره کې راته وویل: دغه برخه په شش محل باندې مشهوره ده، داد هندوستان په ټولو لویو نوابیوکې نامتو اوبې ساری شش محل و، انګریز ویسرای هغه مهال چې لا زما اروابناد پلار ددغې سیمې نواب و، ددغه ځای دلیدو هیله وکړه اوله شملې څخه ددغه لوی شهکاردلیدو له پاره دلته راغی اوځوورځې دلته زموږ میلمه و...

زه اودا بیرته دډوډۍ سرته راوګرزیدو، دا زموږ په مخکې وه، هلته ډیروخلکو زموږ هرکلی وکړ، مانا داچې زه دلته نن یوازنی میلمه نه وم، بلکې یوازنی نوې ځوک وم. هلته مخامخ یې دهرکلي له پاره مشره نګور او وړه لور ولاړې وې، هغه یې یوه یوه راوپیژندلې، اوراته ویې ویل چې:

ـ دازموږ ددربار دود دې چې کله زموږ درانه میلمانه راځي، هلته به زموږ دکورسرشته داري میرمنې په تیره بیا لورانې اونږیندې اودهغو خاوندان دهرکلي کوونکوته د هرکلي له پاره دډوډې په سر دریږي... ما په دغه لاس سردار ایوب خان اودهغه ورور امیرمحمدیعقوخان ته ډوډۍ اچولې اودهغو هرکلی مې په همدغه لوی دالان کې کړې دي... دغه دود موږ تراوسه پالو اوتراوسه مو هم له یاده نه دې ایستلی... ان چې ځینې خاص دودیز څه هم لرو چې تراوسه پورې موږ نه غواړو هغه بل چا ته ور وښیو اویایی ورته ووایو...

(c) ketabton.com: The Digital Library



به هغه شپه څه ګلبانو بي بی اوڅه هم لکشمي ماته خپل ټول خپلـوان راوښودل اوراويی پيژندل، لکشمي خپل پلار مـدن لال ټـاکر هـم راوپيژانـد، موريې عظمی خان مدن هم راوپيژندله، هغه دګلبانو دويمه لوروه، چې پلار يې مدن لال ټاکر ته چې دهندوانو له يوې خورا درنې کورنې څخه و، اوپه دکن کې يې پلرونه اونيکونه لوی راجاګان تيرشوي وو ورکړې وه... اومـا تـه اوس هغـه خبره چې ما ولې لکشمي نه پيژندله دلومړی ځل له پـاره روښـانه شـوه... زه اوس پوه شوم چې لکشمي څـوک ده اوولـې يـې لـه ماسـره ناسـته پاسـته دنوروخلکو په شان نه وه، په هغه شيبه کې يې چې خپله موررا پيژندله يوڅـه شرميدونکې شان شوې وه خو ما زردټوکې په ټوګه دهغې مورته وويل:

ــ ماته خو اوس معلومه شوه چې ته دنواب صاحب لـوريې، اومسـلمانه يې، نه پوهيږم چې ستاسې لورڅوک ده؟

دې راته وخندل، سره له دې چې يوڅه حيا هم ورته دريدلې وه ځـواب راکړ:

ــ هغه هم زما لور ده...

پلاريې هم زموږ ځنګ ته ولاړ و له هغه مې چې کله پوښتنه وکړه، هغـه هم يوڅه ټکنی غوندې شو، ځکه هغه هم زرځواب راکړ:

ــ هغه زما لورده...

ما لکشمي ته وکتل،هغې په داسې حال کې له خندا شنه وه پرته له دې چې زه پوښتنه ترې وکړم ځواب راکړ:

دوی دواړه رښتيا وايي...

زه ددواړو د دواړو داسې لوريم چې دباور لاره مې يوه ده ...

(c) ketabton.com: The Digital Library



## (۸)

زما اولکشمي اړيکي لکه څنګه چې وو هم هغسې وو. يوځاى مــو درس وايه اوپه يوه ښاركې سره تېټ وپــاس كيــدو. يوځــاى بــه كلــه كلــه دهنــد بيلابيلوښارونو ته هم په سفرتلو، اګره، راجستان، اجميــر ديــره دون،کلکتــه اوبمبی داټول موږ په ګډه سره وليدل. زما او ددې ترمنځ تراوسه هــم داخبــره چې زه له دې سره مينه لرم اويادا له ماسره نه دې ته څرګنده وه اونه هم نورو ته، پرما خو څکه ګرانه وه چې زه يې کله هم په يوازيتــوب نــه ســپارلم، لکــه سيورې داسې به راسره وه، ډيروخو فکرکاوه چې موږ له يوه اوبله بيليــدونکي نه يو، په داسې حال کې چې زموږ دواړو ترمنځ دنژديوالي داسې څرګنده نښه هم تراوسه نه وه، خو له دې سره سره هم موږ پــه خپــل کــالج کــې دټولوپــه خولوکې غبرګ نومونه وو:

لکشمي اودولت خان، دولت اولکشمي...

يوځل خو يې يوه خپلوان زمااوددې دواړو نومونه دواده په يوه کارت کې ګډ هم ليکلي وو. مانا داچې ډيروداسې فکرهم کاوه چې ګواکي موږ ســره واده شوي اوياکوژدن شوي يو اوکه نه نو ديوه کوراوکــورنۍ غــړي خوخامخــا يــو. خوآره خبره داوه چې زموږ دمينې اوراشه درشې رمز دمينې اومنتوب په تارنه و سره تړلې، ماته هغه ښکلې ښکاريده خوداسې نه چې زه بايــد هغــه دهغــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماشوم غوندې چې دګل په قدرنه پوهيږي په خپل لاس کې واخلم او پاڼې پاڼې يې کړم، ما ته هغه لکه زيږ ام په خپله ونه ښکلې ښکاريده، څـومره چـې مـا دهغې له لرې لرې تماشې څخه خوند اخيست، هغه تصورمې له نژدې نه کـاوه، هغه مې خوښيده خو داسې نه چې دهغې په سترګو کې د خپل کاته دشهواني ليونتوب په اوږدوکې ورک کړم، هغه ماته تردغو هم اوچته ښکاريده، کاته يـې اوس ماته،زما روح اوزما ژوند اوزماتاريخ تـه ديـوې درنـې کيسـې پـه شـان رادغاړې شوي وو. زموږ په کالج کې نورې نجونې هـم وې، پوجـا دراجسـتان ديوه راجپوت سردار لور، چې زموږ په ټول کالج کې يې دښکلا سارې نه و، هم له موږ سره په يوه ټولګي کې وه، هغې به تل ويل چې دهغـې لـه پـاره زمـوږ ناسته پاسته يوه ناسپړلې غوټه ده، هغې له موږ سره ناسته ولاړه درلوده، خـو زموږ په باب يې دپوهيدوله پاره چې څومره هڅه وکړه بريالۍ نه شوه، يوځـل خويې دلکشمي دوړاندې زه په يوه اوبله خوا کلک کلک ښکل کړم چې بيـايې هغې ته وويل:

ــ حال دمعلوم کړه کنه، يوه ورځ به يې همداسې ژوندې درڅخـه ورک کړم...

هغې يوازې ورته وخندل اوورته ويې ويل:

ــ ته دومره ښايسته اودې دومره بدرنګه کله سره جوړيږئ...

ــ داخبرې پريږده ماته دزړه حال ووايئ...

هغې ورته وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ زه خو په زړه کې څه نه لرم چې تاته يې ووايم...

بيايې ما ته مخ راواړاوه اوراته موسکی شوه:

ـ ستا په زړه کې که هم څه وي قبول مې دي راته ويې وايه...

ما هم مړه مړه ورته وکتل اوهم هغه شان ماهم ځواب ورکړ چې:

ـ زما په زړه کې هم څه نشته...

لکشمي يې په غاړه کې لاس ور واچاوه اوپه موسکانه څيره يې پوښتنه ترې وکړه:

ـ ستا په زړه کې دولت خان ته څه تيريږي؟

هغې لنډ اوګنډ ځواب ورکړ:

ـ ولې نه، زه تياره يم، چې ستا په اجازه واده ورسره وکړم، خو دده رضا حتمی ده...

ما ته خندا راغله، زړمې خبره خپل پښتنې دود ته راواړله او ورته ومې ويل:

ـ زه خوار مساپرپټان اوته دومره لويه شتمنه راجپوته...

خوځان يې سره تاوکړ، شونډې يې سره کش کړې او په حيرانی يې لنډه ترخوله راوايسته:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ــ مانا؟

ــ مانا داچې زه دومره غریب یم چې له ډیرې غریبۍ مــې خپــل هیــواد پرېښې اودلته دهغې غریبۍ دلرې کولوپه خاطر درس وایم...

ــ غریبي مانا نه لري، زما سره واده وکړه، زما پلاردومره څــه لــري چــې هغه زما اوستا دزامنو خولا څه کوې چې دلمسیانو له پاره هم بس دي...

ما ته خندا راغله، دازما خندا ته جدي غوندې شوه:

ــ ولې دې وخندل؟ په رښتیا پورې سرې نه خاندي...

ما هم په رډه ځواب ورکړ:

ــ خبره دې اوس خرابه کړه...

ــ څنګه؟

ــ په دې چې ته زموږ په دود نه پوهیږې...

ــ نه، پوه نه شوم لږ مې پوه کړه...

ــ موږ خپلې میرمنې ته خپل شته سپارو، له هغې څخه یې نه غواړو...

ــ خیر ته داسې فکروکړه چې ته اوس په هندوســتان کــې یــې نــه پــه افغانستان کې...

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ نه زه داسې فکرنه شم کولای، په دې چې پرما کوم نوم (دولت خـان ) زما مورپه افغانستان کې ایښې هغه په هندکې هم دولت خان دی...

لکشمی اوپوجا دواړې زما دغه جدیت ته له خندا شنې وې، په همدغـه حالت کې یې بیاخپله خبره راغبرګه کړه:

ـ ته دې له میرمنې څخه مرسته نه غواړې؟

ـ مرسته بیله ده اوداشان آسانه شته اوشتمنی بیله، زموږ خلـک یـوه خبره کوي، یومتل وایی چې: ( دخره څټه... دښځې ګټه... )

هغه زما په دغه خبره سره له دې چې زما نه وه اونه ما منله، یوڅه نیولې غوندې شوه. خولکشمي زر داورپسې وتړله:

ـ کاشکي دازموږخلک داسـې وای اوداډول تمیزیـې درلـودای، زمـوږ نجونې خو ترواده دمخه همدغه غم زړوي...

پوجا لکه څنګه چې ښکلې وه، هماغسې یوه اصـیله هنـدکۍ هـم وه، برابره ونه، تور وزمه خواږه اننګي، په تورو کې څه زیړرنګـې سـترګې، خپلـو راجپوتي دودونو اوآرونو ته یې وفاداره اوپرهغوباندې ویاړمنه روحیــه، داتـول هغه څه وو، چې ددې په کړو وړو کې یې زما له پـاره، دډیرونـورو پـه انـډول توپیردرلود، دې ته زما ددرناوي یولامل هم دغه اصل و، ښایی همداسې شـان خانګړنې به وې چې دې زموږ سره ناسته پاسته کوله، توکې به موسره کـولې، دتاریخ په باره کې به سره غږیدو اوهغه تیرې ورځې بـه یـې رایـادولې چـې پښتنو په هندوستان کې څه کړي، له دوې سره څه شوي دي... په دغـه بـاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې موټل خبرې سره کولې، يوه ورځ خو مو خبره دې ته هم سره ورسيده چې دې خپله درنه ويله اوما خپله، خبرې موسره کولې، دخبرو په منځ کې يې راته وويل ته اوس له ما ددغه عصرله هندوستانی سره داسې خبرې کوې لکه چـــې پانی پت دې همدا پرون فتح کړی اوپه ډيلي کې ناست يې...

ماورته وويل چې زه اوس هغسې څوک نه يم، خو يوه خبـــره ده اوهغــه داچې ملتونه داحق لري چې په خپلو تيروباندې ووياړي، ځکه چې دغه تيرپــه خپله دوې ته د دوې دروحی تسل يوه ښکلې نښه ده، زه اوس هغه څه چې ته زما په باره کې فکرکوې نه يم، خو دومره حق راکړه چې درته ووايم:

په پخوانو سترګومې ګوره اوس مې جامې دملنګۍ اغوستې دينه

لکشمي پوه شوه، چې زه لنډې هروخت نه وايم، په دې چې هغه خپـــل اهميت لري... اوپه خپل ځای کې بايد وويله شي...ځکه يې غږ راباندې وکړ چې يوځل يې بيا ووايه:

ما هغه يوځل بياورته وويله، اودوې دواړو په خورا غورســـره واوريـــده... دواړو ته يې خوند ورکړ، سره له دې چې زموږ بحث ډيرجدی و، خوکله يې چې زما لنډۍ واوريده، راته موسکۍ شوه، اوهيله يې وکړه چې دويم بيت يې يوځل بيا ورته ووايم:....

اوس مې جامې دملنګۍ اغوستې دينه...

څوشيبې په فکرکې راته ډوبه وه، راته کتل يې، څـــوچې ښـــه رانـــژدې شوه، خپل غبرګ لاسونه يې راخخه تاو کړل، اوددې ټولو خبرو ښنه يې رانـــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وغوښته... خوما ورته وويل چې ته څه وايې، دلته دبښنې هيڅ اړتيا نــه شــته، موږ دهغو شپوورځو نسل نه يو، موږ خپلې خبرې لــرو اوخپــل قضــاوت، مــوږ داحق لرو چې که يوځه موپرتــاوان هــم وي، بايــد ويــې وايــو، پــه دې چــې نورنوانسانی ژوند داسې يوه پړاو ته رسيدلې چې يوازې په رښتياوو باندې يــې ســـــــــــړی ويــــــــــاړلی شــــــــــــي اوبــــــــــــس...
هغه اوس له قهره لويدلې وه، هغې نوره دتاريخ خبره هم نه کوله، يــوازې يــې هڅه کوله چې ګواکي ما له خپل جديته راکوز کړي، نوځکه يې خبره بلې خــوا ته کړه مخ يې لکشمي ته ور واړاوه اودګوډې کړې سترګې په چــل يــې ورتــه وويل:

ــ زما خو دولــت خــان يــوازې پــه همــدغو لويولويواورښــتينو خبــرو خوښيږي، که ته واده نه ورسره کوې، نوبيايې ماته راپرېږده.

خولکشمي بيا په خندانه خوله ورته وويل:

ــ په دغه کې تا څه ليدلي، زه خوپه دې باورلرم چې دې داسې دی لکه چې زموږ دزمانې سړی نه وي، په دې چې يوشمير لويې لويې خبرې چــې دی کوي هغه زموږ دزمانې خبرې نه دي... اونه هغه زموږ د زما نې بوی لري...

ــ هو، زماهم مطلب دادې چې که دې صيقل نه شي، زمانه به يې له ځان سره همداسې شډل مډل خچې پچې کړي...

زه ددې پرځای چې آرامه شم، نورهم په دغه خبره نارامه کيدم، زه پــه خپل ځان پوهيدم چې داخبرې لکه چې رښتياهم پرما ښې نه لګيږي... خودې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته مې هم پام و چې که لړغنم لانده دي نويوڅه خو ژرنده هم پخه ده... پوجـا دخپلو خبرو په لړکې يوځل پريوې بلې پوښتنې ورمخه کړه اوماتـه يـې مـخ راواړاوه:

ــ تا ته معلومه ده چې دتاريخ په اوږدو کې څومره پښتانه په هندکې وو اوڅومره نورهند ته راغلل؟

ما پرته له دې چې فکروکړم ځواب ورکړ:

ــ ډيرزيات...

ــ هغوی څه شول؟

زه سره له دې چې پوهيدم هغوی څنګه اوڅه شول خودې ته مې ځـان ناګاره واچاوه اوورته ومې ويل:

ــ نه پوهيږم...

لړراته جدي غوندې شوه، لکشمي ته يې وکتل، لکشـمي ماتــه وکتــل، بيايې دې ته وکتل، څويې خپله خبره وکړه:

ــ داڅوک ده، داپيژنې؟

ــ هو، ولې نه، لکشمي...

په دغه شيبه کې يې يوڅه ځان ناګاره واچاوه، خبره يې نيـولې پـا تــه شوه چې لکشمي په نرمه خوله ځان راواړاندې کړ اوويې ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ هو، دې اوس ما ښه پيږني...

خو پوجا بيـاهم پـه ځيرځيرراتـه کتل،داسـې چـې تـا بـه وې، پـه خپلوسترګوکې مې خوري، روانه وه، دتلوتلو په همدغه حالت کې يـې خپلـه وروستۍ موسکا او سره يوه کړه اوراته ويې ويل:

ـ ګوره له لکشمي تيرشه... زه ان اوس ستاسره واده ته تياره يم... ګوره بيابه ارمان کوې او بيابه اوبه ترورخ تيرې وي...

ددې دغې خبرې په رښتياهم زه پرځـان پـورې حيـران کـړم، زرمـې لکشمي ته وکتل، هغه راته په خنداشوه، مازر دپوجا ځواب ته ځـان جـوړکړاو ورته ومې ويل:

ـ زه خو له لکشمي سره هم د واده په خاطر ناسته پاسته نه کوم...

خودې زما ددې خبرې ځواب هم رډه راکړ:

ـ چې ناسته پاسته مو د واده له پاره نه وي، نو بيا يې اړتيا څه ده...

ـ زه له هغې سره دټولګيوالۍ اړيکي ساتم، موږ خو په يوه کالج کې يـو اويوځای درس سره وايو...

لکشمي بيا زموږ په خبرو کې راوغورځيده اوپوجا ته يې وويل:

ـ که دولت خان ستا سره واده وکړي، ستا له پاره به څه وياړوي، ته يوه هندکۍ نجلۍ يې او دې يوپټان اوبيا مسلمان...

(c) ketabton.com: The Digital Library



**هغه بیا ورته موسکۍ شوه:**

**ــ دا هندوستان دی،دلته داخبره ډېره مهمه نه وه اونه ده...**

**رښتیا خبره خوداوه چې موږ په دغه ورځ په دغــو خبــرو ښــه ســرونه وخوږول، څو په پای کې مویوه اوبل ته داسې سره کتل چې هرچا فکرکاوه پــه دکان کې سره ولاړیو اودکوم ټوکرپه بیه باندې له یوه اوبل سره چنې وهو...**

**ما په پای کې په ډاګه ورته وویل چې:**

**ــ زه په دغه ملک کې یومســاپر اوتاســې دلویولویــو کورنیــو نجــونې اولورانې یاست، زموږ اوتاسې ترمنځ ډېرتوپیرونه دي چې هغو ته باید دومــره هم په ساده نظرسره ونه ګورو...**

**پوجا نه پوهیږم چې ټوکې کولې اوکه رښتیاهم جدي وه، همــدا خبــره کوله چې ګوره راځه ته هم لکه دپخوانیو پټانانو غوندې یــوه فــداکاري وکــړه راځه چې زه اوته هم په دغه عصرکې یوه نوې پاڼه سره واړوو...**

**خو ما به ددې ددغو ټولو خبروپه وړاندې ناغیږي کوله او ځان به مې په هغه اودغه ترې تیراوه...**

**نژدې مانښام و، چې موږ له کالج راووتو، لا دونو لــه ګــڼ ځنګــل څخــه دعمومي سړک سرته نه وو راوتلي،چې یوبس رانښکاره شو، لکشمې نن خپــل ګاډی نه و راوستلی، هغې زر له ما سره خدای پاماني وکړاوبوجا یې هم تــرلاس ونیوه، خو دپوجا زړه تراوسه نه و راباندې یخ ځکه یې تروروستي شیبې پورې**

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپلې خبرې کولې، ان چې په هغه شیپه کې یې وروستۍ خبره هم ماتــه داوه چې:

ـ ناځواني مه کوه، راځه ګوره ما پښتنه کړه، تاته معلومه ده که نــه،چې ډیرو راجپوتو میندو خورا میړني میړنی پښتانه زیږولي دي...

ګوره مه کوه (په موسکا )... پښیمانه به شې...

دوې دواړې په بس کې کیناستې،زه خپل کورته راوګرځیدم، زما له پاره په هغه شپه دپوجا داخبره ترټولو جالبه وه چې:

ډیرو راجپوتو میندو دهند په پراخو لتو باندې داســې میړنــي میړنــي پښتانه چې په نومونو یې هندیان اوپښتانه دواړه ویاړي زیږولي دي... !!!

(c) ketabton.com: The Digital Library



**(۹)**

**پوره يوه اوونۍ کيده چې لکشمي همداويل چې: انامې ناروغه ده... کله به چې له درسه خلاصه شوه، په بيړه بـه يـې پـه سـترګوکې خـدای پامـانی اوروغبړ دواړه په يوځل راسره وکړل او زربه دکورپرخوا روانه شوه، زما هم پـه زړه کې وه چې دهغې پوښتنې ته بايد ورشم، ځکه هغې زما خـورا ښـه عـزت کاوه اودزړه له کومي وربانديې ګران وم، ان چې هره ورځ به يې ځان زما له حاله خبراوه. لکشمي ته به يې همداويل چې زما له هرڅه بايد ځـان خبرکـړي، ان لادايې هم ورته ويلي وو، چې مورِ هنديان دوی ځکه نه پيژنـو چـې دوې لـه ژونده دسرتېکونې اوچا ته په اسانۍ سره دلاس اوږديدووالاخلک نه دي... ما له ځان سره پريکړه وکړه چې کله سبا کالج ته لاړم له لکشمي به هيله کوم چـې ماله ځان سره بوځي، خوکله چې په سبا يی زه کالج ته ورسـيدم ترمـامخکې لکشمي راته وويل چې:**

**ــ انه مې دې ډيريادوي، ويل يې چې يوځل يې راوله...**

**خوماورته وويل چې ما هم نن هوډ کړې و چې له تاسـره يوځـای بايـد يوځای دهغې پوښتنې ته لاړشم، کله چـې زمـورِ درس پـای تـه ورسـيد، زه اولکشمي دواړه دهغې په موټرکې دهغې دانـا دکورپـه لوروخوځيـدو، زمـورِ دکالج او دشهزادګۍ ګلبانودکورترمنځ ډيرواټن نه و، په څوشيبوکې مورِ دواړه دهغې بنګلې ته ورسيدو، چوکيدار په ځانګړي درناوي دروازه راته پرانيسـتله**

(c) ketabton.com: The Digital Library



اومورِ ور دننه شو، حکیم لالاپه هم هغـه شـان لکـه چـې پخـوامې لیـدلی و ښکاریده، دبنګلې دباندې یې دربارکړی و، داسـې چـې کـه چانـه پیژانـدی، نوخامخا به یې ویل چې ددغې لویی بنګې اصلي خاوند که دې اوکه نه دی دی خپله دی، کله یې چې زمورِ په موټرسترګې ولګیدې راپورته شـو، اوپـه بیـړه بیړه یې ځان راورساوه، زه لا له موټره سم کښته شوی نه وم چـې مـا لاس ور اوږد کړ، خوده زما لاس ته ونه کتل اونیغه یې غاړه راکړه اوپـه غیـرِ کـې یـې ټینګ ونیولم:

ـ ته چیریې... له ډیرې اوږدې مودې وروسته، پـه خیرراغلـې... مـیمم صاحبه ناروغه ده، ډیردې یادولې...

لکشمي خپل موټرودراوه مورِ دواړه دبنګې په لورپه داسې حال کې چې حکیم لالا مو مخکې و، روان شو، کله چې تردروازه وردننه شو، داخـل داوږده دهلیزپرځای مورِ پر هغو زینوقدمونو کیښودل چې دروازې ته مخـامخ پورتـه ختلې وې... دویم پوړ ته وختو، نن په ټوله بنګله کې دهغې ورځې پـه انـډول آرامي وه، ان له هغه اوږده اولرې دهلیز څخه هم نه دوړو اونه دزړو غږ راتـه... په دویم پوړکې یوه کوچنۍ دوه پله یـې دروازه حکـیم لالا راتـه پرانیسـته، یوکوچنې دهلیز لابل هم هلته و، دغه دهلیزته مخامخ یووړراخلاص و، مورِ هم په همدغه وره ورننوتو، هلته د دویمې کړکۍ څنګ ته دزړې شهزادګۍ پالنګ پروت و، کله چې مورِ ورننوتو داپه نمانځه وه، لمونځ یې کاوه، په څنګ کې یې دچا خبره یوه بله مامره دنګه ښکلې ښځه ناسته وه، چې هرچا فکرکاوه خدای په خپل حکمت سره جوړه کړې ده، هغې ګلبانو ځارله اودهغې په چوپړکې وه، هغې مورِ ته هرکلی ووایه اوهلته یې په یوه خوا کـې هغـو مخـامخ څوکیوتـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاربښونه کړو، لکشمي راته وويل چې دايې نگورده. دهغې خاوند اوس هم لــوی دولتي ماموردی، هغه ټول عمر له هندوستان څخه دباندې په اروپااوامريکا کې خپل ماموريت ترسره کړی دی، ددې نيکه هم ترويش دمخه دهندوســتان لــه لويو نوابانو څخه و...

گلبانوله لما نځه وروسته، له مور سره هم تود روغبړوکړ اومخامخ مور ته کيناسته، خوداځل يې رنگ اوځيرې ډيربدلون کړی و، بڼه يې زيږه شــوې وه... خو څه بې چې داځل ترتيرځل هم تاوده وو هغه ددې تــود اودزړه لــه کــومي هرکلی و... دا دويم ځل و چې دزړه حمله پرې راغلې وه، ځکه يې په خنــداکې وويل:

ـ زما ناروغي خورا بده اونامرده ناروغي ده، داده دويمه ديکه يــې هــم راکړه...

سره له دې چې ډاکټر ورته ويلي ووچې ډيرې خبرې بايد ونه کړي، زما مخکې ته يې کابلي بادام اوکشمش راوړاندې کړل اوله هغوسره سم يې وويل:

ـ هغه مهال چې زه لاځوانه وم، مور ته به دابادام له کابلــه راتلــل، هــو، هغه مهال زما پلار ژوندی و، هغه دجنرال نادرخان همزولی اوملگری و، هغــوی هم ډيره موده دلته په هندکې وو، په هغه کال چې زما خــدای ښښــلي پــلاردا بنگله جوړوله ان پرهغه مهال هم دوې لاکابل ته نه ووتللي، له مور ســره يــې راشه درشه درلوده، ان چې وروسته کابل ته ولاړل، دوی به په کال کې يوځــل دوه دلته راتلل اومور به کابل ته ورتلو، هغوی ښه خلــک وو، پــه هغــه مهــال ددوستۍ اوميني خلک دوی وو...

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما ددې خبرو ته غوږ نیولی و، چې یوناڅاپه یې پوښتنه راڅخه وکړه:

ــ ښښنه غواړم، اوس په کابل کې بادام پیداکیږي؟

په دغو شپوکې پرکابل باندې سختوجنګونو خوله لګولې وه، راډیوګانو، تلویزیونو اواخبارونو په هغو شپوکې دکابل دورانې اوبربادۍ لـه وحشــته ډک خبرونه د نړۍ ګوټ ګوټ ته رسول، کابل به یې ښــوده اودوژنــو هغــه ناپایــه بهیربه یې ښود چې انسانان هلته خپلو متو او وزرو ته لیوان شوي وو، ځکه نــو زه هم ناچا روم چې باید ورته ویلي مې وای:

ــ هو، بادام شته خوپه وینولړلي... دکابل دهغو شپو بادام چې تالیــدلي اوخوړلي وو له اوسنیوهغو سره خورا زیات توپیرلري...

څوشیبې په یوه اوږده سوچ کې ډوبه شوه، بیایې لکشمي تــه مخــامخ ورواړاوه:

ــ رښتیا وایی، کابل ټول وسو، کابل ټول وران شو، کابلیان ټول له کابلــه وشړل شول، اوریدلي مې دي چې اوس په کابل کې داسې کور اوداسې کــورنۍ نشته چې دکورنۍ یویاڅو غړي یې نه وي وژل شوي... زه خوهره ورځ دغه بده ورځ چې پرکابل باندې روانه ده پرتلویزیون باندې ګورم... خــدای د دکابلیــانو مل شي... زموږ خو له دعا پرته نورڅه له وسه نه شی کیدای...

لکشمي هم دکابل پرحالاتوباندې ښه خبره وه، هغې به لاماته هــم کلــه کله دکابل په اړه ویل چې زه به هم نه وم پرې خبر، هغې به ماته داسې خبرونه اوشعرونه راوړل چې هغه به ټول کابل ته اودکابل له پاره ویل شــوي وو... مــوږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاهم په همدغه ويرکې وو چې دګلبانو نګور راوترپل اوزمــورږ دخبرولــړۍ يــې يوپه يوراپرې کړه سترګې يې زما په سترګوکې راخښې کړې اوويې ويل:

ــ زه نه پوهيږم چې ستاسې ماغزه ولې کارنــه کــوي، څــومره جګــړې، څومره ورانۍ، اوڅومره بربادۍ... تاسې پوهيږئ چې نړې ستاسې په بــاره کــې څه وايی؟ ځوانان هلته مري، ښځې هلته مــري، ماشــومان اوبوډاګــا ن هلتــه دګوليوله ډاره سا نه شی اخيستی، سپی په کوڅوکې دانسانانو دمړو غوښې نه خوري، جنت غوندې هيواد مو په دوزخ اړولی دی ولې... دڅه له پاره؟ څه شی لرئ چې نه پرې جوړيږئ، ولې له خدايــه نــه ډاريــږی، داڅــه چــې اوس پــه افغانستان کې روان دي دغو ته کوم انسانی وجدان کتلای شي، داشــان کــړه وړه دکوم الهي قانون له اصولو سره ورته والی لري؟

ماچې کله دهغې دغه په رډو رډو کې خبرې واوريدې، زما زړه تــه کلــه هم نه رسيده چې دداسې ښکلې ميرمن خوله به هم په داسې سپينو ټکولکــه چې ماته يې وويل راخلاصه شي، ما په هرڅه ځان ورته ناګــارکړ اوهــيڅ مــې هغې ته دويلو له پاره نه درلودل ځکه نو همداسې غلی پــاتې وم خــو داچــې دهغې خبرو ځواب غوښت ځکه مې په کاږه ورميږه ورته وويل:

ــ زه هيڅ هم نه شم ويلای، زمورږ هيواد داځل دډيروبدوخلکو منګولو ته لويدلی، داسې فکرکيږي چې دهيواد حالت به تردې هم وران شي، په دې چې جګړمار نه دې پوهې دي اونه هم دخپل هيواد دجــوړونی، پــه دې چــې دوی پرديويوازې دورانيوله پاره روزلي دي اودخپل کور ورانولو اوخپل ورور د وژلــو زمريان اواستازي دي، دوی نه خپله اراده لري اونه غــواړي چــې هغــوی چــې دخپلواکې ارادې خاوندان دي په خپل ځنــګ کــې ومنــي اويــايې وزغمــي...

(c) ketabton.com: The Digital Library



همداده چې لویوځواکونو جوړکړي اتلان نن هماغه لوی ځواکونه په خپله سړي وژونکو او تمدن بربادوونکی بولي... اوپه دغه پلمه پرافغانسـتان رابلوسـيدلي اود دوی په پلمه، دادي ددغه هیـواد نـن اوسـبا پربربـادۍ اوورکــې بانــدې سپاري...

لکشمی زما دخبرې له پای ته رسيدو سره داترغوړ راتيره کړه چې دې هم خپلې زده کړې په لندن کې کړې دي. خاوند يې تل په سياسې دنـدو وي، ان چې په کابل کې يې هم يوه موده تيره کړې ده... خو زما له پاره ترټولومهمه داوه چې ما له داسې ښکلې، دنګې اوسپين رنګې ميرمنې څخه څومره سپينې خبرې واوريدې اوپه څه شان يې دزړه له کومې راتــه وکــړې... تـورې اوږدې زلفی، غټې غټې سترګې، ترلې تورې وروځې، جګ قـد، درانــه پښـتانه کاتــه داټول هغه څه وو، چې دایې اوس زما په وړاندې دهوسۍ سترګو هغو غونــدې درولې وه، هرځل به مې چې ورته کتل بیا به دحمید بابا شعربه رایاد شو:

چې دباغ صبرې يې پستې ترقامت دي...

زړې شهزادګۍ ډیرې خبرې نه کولې، دهغې له پاره اوس دخبرونه کولو روژه دډاکټر له خوا منظوره شوې وه... په دغه ورځ يې هم ترډیرو پـورې لکــه چې زموږ خبرې دچاخبره دزړه په زور واوريدې چې اصلي خبــره بیــاهم داوه چــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــې:

ــ ستاسې ماغزه کارنه کوي، ولې مو دهغه ښکلي هيواد پرتم اولــوی نامــه تــه دومره په سپکه سترګه وکتل، ولې مو افغانان اوافغانیــت پــه ځمکــه وواهــه... اوولې موددغه هيواد تاريخ ته ونه کتل...

(c) ketabton.com: The Digital Library



زموږ ټولې خبرې په همدغه ټکي وې، زه يـې هـم پـه همدغـه ګنـاه ترګواښ لاندې نيولی وم، داسې چې ګواکی دازه وم اويازه يم چې افغانسـتان ته، افغانيت ته، اوانسانيت ته په خپل لاس اوراچوم. اويادازه يـم چـې دخپـل هيواد پرتاريخ باندې دجناياتو داســې يــوڅپرکې ور زيـاتوم چـې هغـه هـم دافغانستان اوهم دجهان له پاره دشرم يوه بيلګه دی... دګلبـانو زړه هـم پـه همدغه ټکي درد کاوه، ځکه يې ما ته مخ راواړاوه اوپه ناروغه څيره يـې رانــه وپوښتل:

ــ داڅه وشول، داڅه هلتــه روان دي، تـه راتــه ووايــه چــې دمحمــود اواحمدشاه پرلتو باندې اوس داسې يوڅوک نشــته چــې دغـه خلـک اودغـه وياړلی ملت له دغه شره وژغوري...موږ تـل همــداوايوچې ولــې دهغــو لويــو نوميالیو ځای اوس خــالي دی، اوکــه خــالي نــه وي نوبيـا ولــې مــوږ تــه نــه راښکاري...؟

دزړې شهزادګۍ داپوښتنه لاسمه پای ته نه وه رسيدلې چې حکيم لالا اودهغې درملونکی ډاکتر دواړه جوړه پرکوټــه راننوتــل، زمــوږ دخبــرو لــړۍ وشکيده اوهغه موږډاکترپه ليدو ګردې په ټپه ودرولې، لکشمي اودګلبانو نګور دمخامخ کوټې دروازه خلاصه کړه، موږ هلته ولاړو، هلته موږ درې واړو دخپلــو خبرو تګلوری په بله کړل، هغه سترې سترې خبرې چې دلته يې نه يوازې زما بلکی دنورو زړونه سترې کول اودسترو زړونو خبــرې وې، هغــه مــو ګردســره پريښودې، لکشمې هم په څه شي پسې دباندې ووتــه، زه اود زړې شــهزادګۍ ښکلې نګور يوازې سره پاتې شوو، داچې زه يــې دخپلــې خبــرې پــه ســيده ګوزارونو ويشتلی اوپيکه کړی وم، زما له پاره داهم اوس دهغې ترخواښې کمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه ښکاریده، داچې ډیره ښکلې وه، دهغه انځورېي زه اوس هم په ذهن کې نــه شم جوړولای، ځکه مې نورهرڅه په خپل ځای پرېښودل اوددې دنامه پوښتنه مې ترې وکړه چې دې راته وویل:

ــ زه ددغه کورناوې یم...

ــ زه پوهیږم چې ته ددغه کورنه یوازې ناوې یې بلکې ښکلې ناوې هــم یې خونوم مو؟

ــ نوم مې لیلا خان دی...

ــ ډیرښکلی نوم مودی خو...

ــ ولې خو؟

ــ هیڅ هیڅ ( په موسکا )...

ــ له خو څخه مو موخه څه ده مهرباني وکړئ راته ووایی... پــه زړه کــې یې مه ساتی، هیله کوم...

لیلا راته جدي غوندې شوه، په دې چې ما هغې ته هسې دســترگو پــه رپ کې دا ناڅاپی پوښتنه چې زه پوهیدم پرې راوپاریده پیداکړه، هغه په دغه خبره یوڅه سره نیولې غوندې شوه، ان چې په ښکلي مــخ کــې یــې دنــابللې سرخی څپې سره لاړې اوراغلې... زرمې ورته وخندل اوورتــه ومــې وې چــې دومره مهمه خبره نه ده، ته باید دومره سره نارامه نــه شــې... خوهغــه نارامــه شوې وه ځکه یې بیا وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ــ زه هيله کوم چې خبره مووکړئ، کومه خبره چې دويلو وي اوونه ويله شي، هغه دوې ستونزې رامنځ ته کوي او دوه لوري سره ځوروي...

ددې دسختو احساساتو په ځواب کې ما خپله خبره چې دې ته به هــم ډيرنادره وه اويابه نه وه وکړه:

ــ وايې چې ليلا دومره ښکلې نه وه لکه چې ته يې...

ډک زړه يې سره خالي شو، په خندا راته شنه شوه، دواړې وروځې يــې نورې هم يوې بلې ته سره نژدې شوې اوويې ويل:

ــ هې بابا زما خود زړه راپه درد کړ، نژدې وه چې لکه بي بــي پرمــا هــم حمله راشي،... ليلا که ښکلې نه وای کيسې به يې نه کيدې، نوم به يې ښــکلی نه و، اودښکلاهنگامه به يې ترمورږ پورې په ښکلاسره نه رارسيده، ته چې وايې ښکلې نه وه، زه داخبره نه منم ليلاښکلې وه...

ــ وايي چې دومره ښکلې نه وه، خو دمجنون ليونۍ مينه وه چې هغې ته يې ترښکلاهم لوړه برخه ورکړه...

ــ بس ته داومنه چې ليلاښکلې وه، داکه دمجنون پــه ســترگو وه اوکــه دنورو...

هغه ښکلې وه...

مورږ لاپه همدغه دربه کې وو چې لکشمي راننوته اوويې ويل چې ډوډۍ تياره ده، خو ليلې هغه کينوله اوپرهغې يې زمورږ دخبرې ســپيناوی پيــل کــړ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغې په پیل کې فکرکاوه چې مورې تراوسه هم هغه سیاسي خبرې سره شــاربو، ځکه یې هغې ته وویل:

ــ ببو، پریږده، دغه خوارکي ته اوس هم دکابل غموځه نه دي ورپرېښې، دهغه خپله زړه له وژنو اوبدمرغیو شین شوی دی...

خوکله چې لیلې زمورې دپوښتنواوخبروتېوله کیسه له سره ترپایــه ورتــه وکړه نوبیایې ورته وخندل:

ــ په دې کې خو شک نشته، چې زما په ټوله بابــاګنۍ کــې ترتاښــکلې ښځه نشته، دی رښتیاوایی... ته یې باید ومنې ځی چې هلته ډوډۍ تیاره ده... زما خبره ستاسې دواړو په منځ کې داده چې ته هم رښتیاوایې اودې هم...

دډوډۍ په هال کې مورې ټول یاره، لکه چې لــس تنــه ســره راغلــي وو، ښایسته نجلۍ ترهرڅه دمخه تیار اچولی شــراب رامیــدان تــه کــړل، هرچــا یویوګیلاس واخیست، زماپه زړه غله راګډشول، چې اوس څنګه وکړم، نه مــې ویلای شوای چې نه اونه مې بله پلمه په درواغوخولې ته راتله، په دې چې دلته هغه څه چې زما فکرواویاچې ما باید هغه په نظرکې نیولی وای یوازې لــه یــوه تظاهره پرته بل څه نه ښکاریده، ځکه مې له هغې ښکلې نجلۍ څخه یوګیلاس لکه دنورو په شان په طبعي توګه واخیست اوله څه خوارکې توکو سره مې لــه ځان سره ونیو، هیڅا هیڅ هم ونه ویل اونه څوک دڅا په فکرکې وو،ما ته هغــه مهال قوماندان یارجان رایاد شو، چې خارجیان به ورته راغلل له هغوســره بــه یې شراب خوړل، خو چې هغه به ترې تللی نه وو، ده به بیا ترهرڅا دمخه چغې وهلې چې: « ولله چې ځان یې راباندې مرکړ چې ورسره مل شم، شراب ورسره

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وخورم خو ایمان مې اجازه نه راکوله، ماویل چې داجهاد به مې په خـــاورولاهو شي...»**

**په داسې حال کې چې دې خپله خلکو لیده چې دهغوی په ســترګوکې خنګه خاورې ورشني...**

**په همدغه مهال کې ډاکټراوحکیم لالا هم راغلل اوله ټولویې هیله وکړه چې له بې بي سره څوک ډیرې خبرې ونه کړي... ډاکټر لاداهم وویل چې:**

**ـ څوک مه ورځې، کیدای شي، کومه بله حمله هم زروربانديې راشي، له هغې سره خبرې مه کوئ... ماته يې وکتل اوپه خنداکې يې راته وویل، چـــې زه خو باید ورسره ونه غږیږم پـــه دې چـــې زمـــا خبـــرې دومـــره درنـــې دي چـــې ډیرپیاوړي زړونه يې واوري هم نه شی ورته ټینګدای...**

**هغه په رښتیاهم ناروغه وه، خوله دې سره سره موږ نن لـــه هغـــې ســـره خورا زیاتې خبرې وکړې، خوداچې ډاکتر وویل تاسې به نه ورځي زه پـــه دغـــه خبره یوڅه خپه شوم... په دې چې هغې کومه پوښته له مـــاکړې وه، مـــادهغې ځواب باید دې ته ویلی وای...**

**زه په همدغه سوچ کې وم چې لیلې زما اولکشمي په مخ کـــې دســـاقی نجلۍ له ټوکرۍ دوه نورګیلاسونه هم دمیزپرسرکیښودل... نوروهم واخیستل، لیلې له ټولو هیله وکړه چې ددې خبرې ته ټول یوغوږ شي... ماته يې لاس ونیو اوویې ویل:**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ داښاغلی دولت خان دی، له کابله راغلی، له لکشمي سره یوځای پــه یوه کالج کې درس وایی، نن زموږ ګران میلمه دی،موږ تل دخپلو پخوانو مینــه په ده ماتوو، همداده چې دده په سرسلامتي به یې....

لیلې لا داخبره پای ته نه وه رســولې چــې ټولــو زمــا پــه سرســلامتې وغږنګول... لږ مهال لا نه و تیرشوې چې له هرې خولې بیا هم هغه یــوه خبــره راووته چې:

ـ په دې وطن کې مو څه حال جوړکړی، ولې دپردیو منــۍ، ګــورئ کــه یوڅل کمزوري ورمعلوم شوئ، بیا دربانډې راځي او داسې غلامان به درڅخــه جوړکړي چې نه یوازې به دوې ملنډې دربانــدې وهــي بلکــی ټولــه نــړې بــه دربانډې خاندي...

خوما یوازې دومره ورته وویل:

ــــ نــه پــوهیږم چـــې پرمـــوږ څـــه وشـــول؟ څـــه بـــه کیـــږي اویاموږدکوموسترګوبلاوخوړو... یوازې دومره درته ویلای شم، چې زموږ خلک لاهم پرهغو رازونو چې داشل کاله ددوی پــه څنــګ کــې روان دي اودهغــوی پرمکاریو چې ددوې پرســریې کــوي نــه پــوهیږي، دوی یــوازې خپلــو ارادو اوسپیڅلتیاوو ته رښتینې دی زموږخلــک دزړه لــه کــومي زړه ســواندي دي، میړاني دي، په خپله خبره ولاړ دي، آزادي خوښونکی دي، له یوه اوبل سره پر دښمنی باندې دتل له پاره باوري نه دي، خو داسې ښکاري چــې یــوه څــواک اویوچا یوداسې جادووربانډې کړې چې تراوسه نه دوی اونه هم نور څوک پرې پوهیږي...

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ليلې ځان په خبره کې راواچاوه:**

**ـ داخبره زمونږ له پاره هم څرګنده ده، مونږدکابلي والا په نيت اوديانــت باندې له ډېرپخوا څخه پوه يو، خو اوس پوښتنه داده چې دغــه جادګر،اودغــه ځواک چې دغه هيواد ته يې دبدنيتۍ تلک ايښى څوک دي؟**

**ډاکتر مخکې تردې چې زه څه رښتيا او دروغ نوردوی تــه ووايــم، زمــا وارونيو اوويې ويل:**

**ـ تاسې پوهيږې چې دايدس ناروغي په پيل کې په څه شان خپر يده؟**

**ما لکشمي ته مخ ور واړاوه اوپوښتنه مې ترې وکړه:**

**ـ ايدس څه شي ته وايي؟**

**ـ يوه ناروغي ده...**

**ـ څه ډول؟**

**خو هغې ځواب راته ونه وايه، ډاکتردلکشمی ځواب ته سترګې پــه لاره و، ځکه يې ماته نورڅه ونه ويل اوهغه ته يې ځواب ورکړ:**

**ـ که مونږ په دغه راز پوهيدای اويامو په دغه باره کې معلومات درلودای، نومونږ به هم تاغوندې ډاکتران وای...**

**ډاکترداپوښتنه زما دخبرې په اړوند رامنځ ته کړې وه، نورچاهم دځواب په توګه څه ورته ونه وې ځکه يې بياخپله ځواب کړه:**

**ـ هغه مهال چې ددې ناروغۍ په اړه خلک نه پوهيدل، ډاکتران هم نــه پوهيدل، ناروغان هم نه پوهيدل، هره يوه به هم داخبره کوله چې داڅه شــان**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناروغي ده، چې نه پرې پوهيږو اونه هم کوم دوا درمل لري...څوک په دې هم نه پوهيدل چې له چا څخه ده اوله کومه راپيداکيږي؟ دولت خان هم اوس دافغانستان په اړه هماغسې خبره وکړه چې نه پوهيږي هيواد يې دچا له خوا دڅه له پاره اوس په دغه ورانوونکي اورکې سوځي اوخلک يې ولې داسې کړيږي؟

دډاکټر خبره موږ ټولو ورسره ومنله، خوزه دايدس په مانا نه پوهيدم، لکشمي هم راته ونه ويله ځکه مې نه دې ښه ځواب ورکړ اونه هم دبد اونه مې نوره دوی ته ورښکاره کړه چې زه ګواکې دايدس په مانا نه يم پوه شوی... په همدغه وخت کې حکيم لالا هم خپله وکړه:

ـ مسلمانانو لاره، نه لاره همدايوافغانستان يې لاره داسلام دښمنان اوس پرې پوه شول چې داسلام خرابې او آبادی په همدغه هيواد پورې تړلې ده ځکه يې داده ملاورته راوتړله چې بايد وران يې کړي، داسلام ددغو دښمنانو په بربادۍ يې پورته کړئ...

لکشمي اوليلی داتيارې پيالې نورې هم ماته راوړاندې کړې اوويې ويل:

ـ وښبه داهم وښبه حکيم لالا ددښمنانو دبربادۍ په هيله يې وښبه... ځکه چې دلته يوازې ډاکټر... دی. زه خو شکرالحمدالله داسلام په دښمنانانوکې نه راځم.... که داونه ښبې زه پوهيږم چې حکيم لالا دې دوزخ ته ليږي...

ما داګيلاس هم په سرواړاوه اوحکيم لالا ته مې دکوټې له دغه سره دشاباسي په نامه لاس پورته کړ، خولکشمی په دغه نښه يوڅه نارامه شوه په

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې چې هغې وویل: حکیم لالا دې وپړساوه، اوس یې ګوره چـې نـورې نـورې نادرې هم راوباسي... خوهیله یې ترې وکړه چې نورڅه ونه وایی...

ټول سره تاوده شول، لکشمی اوس دنشه یانو سره مل شوې وه، لیلاهم، خویوازې زه وم چې تراوسه هم نه نشه وم اونه مې دنشـې آحسـاس کـاوه... یوازې لیلا لکه چې پوهیده دهغې پرما پام و، هغه راغله اوله ما اولکشمي سره یوځای کیناسته، له ناستی سره سم لکشمی بیاهیله ترې وکړه چـې هغـه لـه ماسره دکابل دغمونو په باب خبرې ونه کړي.ځکه یې هغې ته وویل چې دولت خان یوډول لنډۍ وایی چې دوه بیته یې سرې لیونې کوي..

هغې په حیرانتیا وپوښتل:

ـ هغه څه شی دي؟

ـ شعرونه دي لکه ستاسې د روهیلکنډ چاربیتې خو ترهغو هم خـوږې اوسوځونکې...

لیلا راته موسکۍ شوه اوراته ویې ویل:

ـ نورو پوښتنوته خومې دځواب رانه کړچې لنډۍ راته ووایې دامو هـم قبولی دي...

زه له لکشمي سره اوس حیران وم، هرچیرې به چې کیناسته زما اوخپل بازاربه یې په لنډیو توداوه، داسې کټ مټ پیښه زما له تقدیرسره له ډیرپخـوا جوړه شوې وه، هغه مهال چې زه لا ماشوم اودښوونځي په دویم اودریم ټولګي کې وم، زموږ په کلي اوشاوخوا بانډو کې به چې دڅا خوښي اوخوشالي وه، زمـا نیکه دخدای وبښي هغه خو به خامخا پکې و، زه به یې هم له ځـان سـره روان

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړم، دیوعالم خلکوپه منځ کې به ودرولم ترانې به يې راباندې ويلې، زه به لـه خلکو شرميدم خو داچې نيکه به مې امرکړې و، دهغه خبـره چـا پـه مځکـه غورځولای شوه، بس نو دچا خبره چالان به وم، اوس هم کټ مټ کانه راباندې شوې وه، بس لکشمي وه اوزه چې وبه يـې ويـل لنـډۍ نوبيـا بـه زمـا سـرو اودښکلواستانه... لنډۍ به مې ويله له هغه وروسته بـه مـې هغـه پـه هماغـه نازونزاکت سره ورته ژباړله چې هماغه نازکی يې بايد دوی هم احساس کړي...

دليلې دغوښتنې سره سم مې لکشمي ته مخ ورواړاوه، هغه پـوه شـوه، زريې قومانده راکړه چې:

ـ دشرابو په باب خو دې يوه ورځ هم خوله نه ده خلاصه کـړې، وګـوره يوه داسې لنډۍ ووايه چې دشرابوپه باره کې وی، دښکلو په باره کې وي...

ليلالکه چې په دې رضا وه، چې په دغه اړه يوڅه ورتـه ووايـم، دهغـې څيره هم بل ډول شوې وه، ځکه نو مخکې تردې چې دشـرابو سـتاينه وکـړم خولې ته مې يوناڅاپه راغله چې:

مخ دې په سپين کې سرخي وايي لکه خاصه چې پرګلاب وغوړوينه

لکشمي هغه لنډۍ ترما دمخه هغې ته په خپله ټوله نازکۍ سره تشريح کړه، داسې چې دهغې په اوريدوسره نورهم سره شوه، نوره هـم ګلابـي شـوه اونوره هم سره وغوړيده،داسې چې هرچا ورته کتلي وای، نوهغه زموږ دمشرپه وينا بچی خو مې نه و چې نام خدا او يايي ای شو !؟ نه وای ورته ويلای...

ماخودالنډۍ ډيره، ډيرو ښکلو ته ويلې وه، خو دومره اغيزيې چې پرليلا کړی وپرهغوی يې ګرده سره داسې نه و کړې لکه مارچې دمداري شپيلۍ تـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ملاراماتيرې هغسې ويارې شــوې وه اواحســاس يــې پــه رښــتياهم خــورا لوړشوى و. چې ماهم داسې احساس ډيرلږ ليدلى اوحس کړى و، هغې له دغــې لنډۍ وروسته ما ته په روغ نظرنه کتل، هغې فکروکړ، چې دالنډۍ به ما همــدا اوس ددې دښکلادخيرا ت له پاره جوړه کړې وي...

لکشمي هم پرې پوه شوه، هغه پوهيده چې ددې لنډيو ويــونکى ســاده څوک نه دي، همداده چې په زړونو لگيږي اوزړونه له زړونو خبروي...ځکــه نــو دخپلې هغې په انتظاروه، رښتياخوداوه چې لکشــمى خپلــه اوس پــه داســې لوړتيا کې وه چې له ما پرته يې اوس نورڅه نه لوړليدل اونه يې غوښــتل چــې ويې وينې، ځکه خويې يوځل چې سرزماپر مټ راکيښود يوه نرۍ زونگــه يــې ترغوږ هم راتيره کړه چې گواکې دا ستا غمونه دي چې زه...

په دې خاطرچې ما يې پام په بله خواکړى وي، زرمې ددې دبوختيــا لــه پاره ورته وويل:

ــ لنډې دې اورې که نه؟

ــ وايه ما ترليلا دمخه غوښتې وه، نــه پــوهيږم چــې هغــې څــه جــادو دربانډې کړې چې هغې ته گورې هرڅه ترهغې ځــاروې، زمــا لنــډۍ دې هــم ترهغې ځارکړه...

ــ غم مه کوه،غم، ستادپاره ويل شوې...

ــ وايه،زه باورلرم چې دشرابوپه باره کې به نه وي ځکه پښتانه شراب نه خوري او نه يې ستايي

مازر ورته وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ــ نه لنډې دهرڅه په باره کې شته دشرابو په باره کې هم شته، پښــتانه دومره هم نه دي چې شراب به نه پيژني او يابه يې په سندروکې ځــای نــه وي ورکړی:

هغې مخ زما پراوړه باندې کيښود اوماهم په نرم آهنګ سره ورته ووې:

شراب په شرعه ناروا دي ما ته روا دي ديارغم پرې غولومه...

لکشمی لاڅه چې ليلا يې هم سره وبوږنوله، دلکشمي خو ســترګې لــه اوښکوراډکې شوې، ما ته يې داسې وکتل، چې زه يې دزړه په غــږ بانــدې پــه همدغو يوکتوکې پوه شوم، هغې زر خپلې کوربنې اوښکې دسترګو لــه دالانــه زما له ميلمنو کتو څخه په يوه خوا کړې اوترخوله يې راووتل:

ــ مافکرکاوه چې تاسې به يوازې لکه چې خلک وايې دجګړو پهلوانــان ياست، خو داسې نه ده زه اوس پوهيږم چې له تاسې ســره دښــکلا اوعــاطفی ليونی پرښته هم تل خپله ملتيا کوي...

لکشمي خورا ځيرکه نجلی وه، هغې نه غوښتل چې لــه خپلــې مينــې څخه نانځکه جوړه کړي اويايې دهرچا په خوله کې ورکړي، ما اوهغې تراوســه هم يوه اوبل ته په دغه باره کې خپله وروستې پريکړه نه وه ويلې، همداوه چې دې هم تراوسه چا ته دا نه وو ويلی چې ګواکې دا اويازه له يوه اوبل سره مينــه لرو.

په دغه شيپه کې يې هم خپله تلوسه ترپښولاندې کړه اوخبره يــې پــه خورا ځيرکی سره په بله کړه:

ــ رښتيا ووايه زموږ ببو ډيره ښکلې ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ليلا ما ته وكتل،له كتويې پوهيدم چې غواړې دخپلې ښكلا په اړه له مابياهم څه واوري ځكه مې زرځواب وركړ:

ــ دخاوند يې دنصيب شي، هو، ډيره ښكلې ده...

ــ ته څه پوه شوې چې هغه ډيره ښكلې ده؟

ــ داخودپوهيدو خبره نه ده شرعه حاضرته ګوري، هغه چې هرڅوك ګوري وايي ښكلې ده، ښكلې ده اوښكلې ده...

ــ زه خونه پوهيږم چې دهغې څه شى ښكلي دي،

ــ كه زه درواغ وايم ته زما په ځاى شه اوپه ځيرځيرورته وګوره...

هغې بياهم باور ونه كړ، په خبره كې يې خبره راويسته اوويې ويل:

ــ نه ته دې خپله دښكلانښه راته ووايه، خلك هسې شي ته هم ښكلى وايى...

ما لادلكشمى خبرې ته ځواب نه و وركړې چې دليلا ترخوله راووتل:

ــ كه زه پوهيداى چې خبره به دومره تودېږي، نومابه پرتارحم نه و اوكړى اوستا به هم داسې حال و لكه دنورو...

زه حيران شوم، چې داخه وايى، لږ سوچ مې سره وكړ، راياد شوه، چې داددې لورينه وه، چې ان دشرابوله پيله يې زما ګيلاس بيل كړى و اوزه يې له خدايي ګناه څخه ژغورلى وم. زه حيران وم چې زه ليونى يم كه دوى؟

خوماورخلاصه كړه چې زه تردې نورڅه نه لرم زمور لوى نازكخيال شاعر، كلونه مخكې پرهم دغه هندوباربانډې نصيب ورپيښ كړې و، ګوره چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



به ده هم په کوم دیاراودربارکې لکه مور چې نن دلته سره ناست یو، لــه یوچــا سره، له ښکلوسره ناست و، څکه یې یوه همداسې ښکلا چې زه یې په هســې ساده الفاظوکې یادوم ده په خپل شعر سره ستایلې وي، زه هم وایم، چې لــیلا ښکلې ده، داسې:

چې دباغ صبرې یې پستې ترقامت دي

پښتنې په قامت سترې نه دي څه دي

ښکلي غاښ دې مرغلرې نه دي څه دي.....

شپه ناوخته شوې وه، زمور دمجلس یاران ټول هرې خواته سره واسکټ واسکټ شوي وو، خو حکیم لالا اوډاکټر ناست وو، ما لکشمي ته مــخ ورواړاوه چې انایی باید دخداپاماني په خاطروګورو، هغې لیلې ته وویل، لیلــې ډاکترتــه وکتل دهغه خوښه نه وه، له دې سره سره هم لیلا ورغله خو چې بیرته راووتــه ویی ویل چې هغه دم ګړی ویده ده، څکه نو مور ونه شوای کــولای چـــې هغــه دشپې په هغه تنګ زړه کې وګورو، یوازې مې لیلا ته مخ ور واړاوه اوورته ومې ویل چې که دخدای رضا وه زه به بیا ډیرزر راشم، هغې راته وخندل اوراته ویې ویل چې که ته رانغلې زه بــه درپســې درشــم... نورتــه زمــور لــه دامــه پــه سپکوڅانګونو الوتی نه شې...

زما میلمه پالي چې تراوسه په لاره تلای شول ساړه څانګونه، دښــکلې بنګلې په زینوکې له ماسره راکښته شوې، لیلاچې لا یــې راکوزیــدو تــه دوې زینې پاتې وې، بیاراته په خندا شوه،اوترغور یې راتیره کړه چې داځل خو مــې دلحاظ وکړ، بل ځل به که نصیب وته هم پــه دغوزینــوکې داســې روغ رمــټ

(c) ketabton.com: The Digital Library



دمځکې ترتله رانه ونه رسيږي... خوما بياهم مننه ترې وکړه، مــوږ لــه بنګلــې راووتو ليلا مې يوې خواته وه اولکشمي مې بلې خواته، هغې خواته ترهغــه زړه ونه لاندې په هغه زاړه قبربانديې چې تيرځل مې له نژدې ليدلی واوځنــګ تــه يې يوزوړ کتاب په روښانه توروکې هم ايښی و شمې بليدې اونرۍ نرۍ زيــړې رڼاوې يې له لرې هغوی ته چې هغې خوا ته به يې کتل داســې چــې تابــه وې وروستۍ شيبې يې دي کولې.

دلويې سرداري بنګلې د انګړدننه مو خدای پاماني سره وکــړ، ډاکترلــه پاسه راکښته نه شو، حکيم لالاهم راونه ووت، يوازې موږ درې واړه اوس دلتــه ولاړوو، لکشمي خپله موټر راويست زموږ په څنــګ کــې يــې ودراوه، بيرتــه راکښته شوه، ليلې ته يې مخ ور واړاوه نه پوهيږم چې پوښتنه يې تــرې وکــړه اوکه يې تشريح ورکړه:

ــ ببوا دولت خان دې خوښ شو، بدزلمی نه دی؟!

ــ ددولت خان عمردې ډيروي، ماته يې نن داسې احساس راوباښه چــې له ماشومتوبه ترننه چا نه ورابښلی، هو، هغه ورک احساس، هغه مــرور اويولــه پيړيو پيړيو ورک احساس، لکه چې هندوان هم وايې چې موږ پــه يــوه او بــل جنم کې داسې وو اوياداسې... اوموږ هم لکه چې په يوه جنم کې له يــوه اوبــل سره ډيرنږدې خپلوان وو...

لکشمي له ليلا سره خدای پاماني وکړ، زما سريې په دواړولاسوکې ونيو، په يوه اوبله خوايې داسې ښکل کړم لکه چې کله به لــه غزنــي ځخــه کورتــه سترې ستومانه راغلم اوموربه مې په مينه مينه ښکلولم، ماهم دا داسې کلکــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کلکه په یوه خوا اوبله خوا ښکل کړه چې دزړه له کومې یې خوند راکـړ ځکـه مې داهم ورته ووی:

ـ تا رښتیا وویل، ما هم نن داسې احساس وکړ چې زمـا اوسـتا اروای ښایی هغه خوراو ورور وي چې کوم وخت په دغه لوی ملـک کـې کـوم ظـالم واکمن له یوې بلې څخه بیلې کړي وي...

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۱۰)

یوه اوونۍ لانه وه تیره چې دزړې شهزادګۍ پوښتنه مې پر مغزوبانــدې درنه درنه کیده، له لکشمي سره مې دجمعې مبارکه شپه وټاکله چې دجمعــې له لمانځه وروسته به دواړه دهغې کورته ورځو، ما په زړه کې داجوړه کــړې وه چې هم به یې دحال پوښتنه

وکړم اوهم به یې هغه پوښتنه چې هغې تــه ځــواب ورکــول پــه دغــو شپوکې ګرانه خبره وه یوځه ړنګه بنګه ځواب کړم،هغه چې په تیرځل لیدوکې یې له ماکړې وه:

ــ داحمدشاه اومحمود دبریمنو غازیــانو پــه خیلخانــه او ټــاټوبي کــې یوداسې سړی نشته، چې نن سبا دغه خلک اودغه ملت له دغې بدمرغۍ څخه وژغوري؟

زه خو دزړې شهزادګۍ دغې پوښتنې په رښتیاهم له یوه څرګند ګواښ اوانديښنې سره مخامخ کړی وم، دې په دغه ټکــي ټینګارکــاوه چــې کــه پــه افغانستان کې ددغې ګډوډۍ لړۍ اوږدیږي، دابه پرنیمه وچــه اونــړې بانــدې دتورتم یوپیرړ سیوری راټیټ کړي،

دنیمې وچې مسلمانان هسې هم دلته داوبوځګ شوي یو، که هلته هــم دغه حال وي بیانو موږ هم ختم دربوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



رښتیا خبره خوداوه چې ما داډېره موده په دغه اړه په ذهن کې ډول ډول ځوابونه جوړول اوهیرول، کله به په زړه کې راتیره شوه چې ورته ووایم:

ـ نورهلته څوک نشته، هغه دبابا خوبونه نورله یاده وباسه...

بیابه مې زړه ته راتیره شوه:

چې سود و زیان دې په کې نه وي غمازه ولې بدوې دخلک زړونه

ځکه به مې داله ځان سره جوړه کړه:

ـ ځنګل بې زمریه نه وي... شته یاران شته، ځوانان شته، راځي... خو اوس دم درحال به دادخداي رضاوي...

خوزه پوهیدم چې زما داډول نانیولې زرګونه مرغۍ به هغه راسره ونه مني اونه به

دهغې دروان تسل له پاره یوپوخ پتم شي... همداوه چې زه په دغو ورځو کې ددې دغې پوښتنې سره ړنګ وبنګ کړی وم، داسې چې دخپلوعادي درسونو لړۍ یې راته دړې وړې کړې وه...

زه دپنجشنبې په ورځ په خپل پخواني دود کالج ته لاړم، استاد لاهم ټولګی ته نه و راغلی، زما له راتګ سره سم زموږ ټولګیوالو نجونو اوهلکانو په لکشمي پسې یوې اوبلې خواته سترګې اړولې چې څنګه تراوسه نه ده راغلې، یوه دوو خو له ماخخه دهغې پوښته وکړه، خوما دواړو ته داسې ځواب ورکړ لکه چې تاسې نه یاست خبر زه هم نه یم خبر، نه پوهیږم چې ولې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



تریوه وخته خو مې فکرکاوه کیدای شي ګاډی یې وران شوی وی، خــو وروسته وروسته معلومه شوه چې هغه رانغله، رښتیا دالومړی ځل و، چې هغې ما ته دخپل نه راتګ په باره کې څه نه وو ویلي، کله چې تیــره غرمــه کورتــه راورسیدم ګاونډی مې راته وویل چې نن ډیرزیات تلیفونونه درته راغلل...

ما لا خپل کالي نه وو اغوستي چې بیــاهم هغســې تیززنګونــه راغلــل، زرمې غوږی واخیسته اوغوږته مې ونیوه چې دلکشمي چغه مې ترغوږ شوه:

ــ زه یم، لکشمي... زما انا... نوره له اوپروالا سره یوځای شوه...

ددې په دغه دردمن غږ ماهم د درد احساس وکړ، دیــوه ژور درد، هغــه درد چې انسان یې هروخت نه شی کولای... اوخپل دریغی مې په درد کې ورته څرګند کړ... هغې غوږی کیښوده، سترګې مې په یوازې کوټه کــې دیوالــه تــه ونیوې، لږ ګړی وروسته مې ښه پام شوچې اوښکې مې راغلې، راتویې شــوې، چې په دغه شیبه کې دهغې پوښتنې ځان راته راغبرګ کړ:

ــ داحمدشاه اومحمود دبریمنو غازیــانو پــه خیلخانــه او تــاتوبي کــې یوداسې سړی نشته، چې نن سبا دغه خلک اودغه ملت له دغې بدمرغی څخه وژغوري؟

ددې هغه مینه رایاده شوه چې دې د دولت خان له نامه سره درلوده، له هغه نامه سره چې هغه دسوري شیرشاه د زوی اودخان جهان لودي دپلار زیب و، هغه نوم چې دهند دموسیقی پلار تان سین دهغه ( دشیرشاه د زوی دولــت خان ) ترسیوري لاندې وځلید اووغوړید... اوزړې شهزادګی په هغه نامه باندې ان په شلمه پیړی کې هم و ویاړل... دهغوتیرو اتلولیو، میړانو اوپښتو ته یې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل هغه چاپيريال کې چې څوک نه پرې پوهيږي اويانه غواړي ځان لکه يوشميرپيښوري اردو ژبي او کابلي فارسي ژبې پښتانه پرې پوه کړي درناوی وکړ...

زماله پاره دهغې دمرګ غږزما دموردمرګ ترغږکم نه و، زرمې خپل کالي بيرته واغوستل، تکسي ته مې تليفون وکړ، هغه هم راورسيد، ډيره شيبه لانه وه تيره چې د زړې شهزادګۍ کورته، هغې ښکلې بنګلې ته چې نږدې ديوې نيمې پيړۍ رزمو اوبزمو ته يې په خپله غيږه کې ځای ورکړی و، هغې بنګلې ته چې ديوه پښتون نوميالي پرتم يوروښانه ځراغ اوس هلته په کې په خاموشۍ سره غزيدلې و اوددغې نړې درنګارنګ ګلونو وروستۍ غاړه کۍ يې دغاړې پرځای ترتابوت راچاپيره شوې وه... هلته چې نورڅوک نه پوهيدل چې بيا به دلته هم څوک دهغه تيربرم اوپرتم کيسې له چا سره زمزمه کړي... په مړاوې خيره ورسيدم.

هلته مې دهغو ګلونو په منځ کې دهغې پښتنې شهزادګۍ چې احساس يې دژوند ترورروستۍ سلګۍ پورې پښتون و، وروستۍ ننداره وکړه اودزړه له کومې مې خپلې اوښکې اودعاوې دهغې په وړاندې چې اوس يې دخپل خالق رضاته ځان سپارلی و، وښندلې،هلته زما يوشميرټولګيوال چې خبرشوي ووهم راغلي وو، پوجا مې وليده، چې پرما پسې يې سترګې اړولې، رانږدې شوه، راته ويې چې ما نن څوڅو ځلې تليفونونه دروکړل، په کورکې نه وې... ماخپله خبره ورته وکړه، خودې راته وويل چې ماښام زما له ليدو پرته ولاړ نه شې، زه اوته به ګډ ځو...

(c) ketabton.com: The Digital Library



جنازه دبنګلې ختيزته جومات ته څرمه ترسره شوه، په ســلګونو تنــه چې دلته راغلی وو، ټول دهغې په بدرګه له هغې سره هديرې ته چې ډيره لرې نه وه روان شول،دهغې په جنازې کې ډيروخلکو برخه اخيستې وه، ډيره ګرانه وه چې سړی پوه شي چې څومره يې خپلوان اوڅومره نوريې دوســتان وو، مــا خويوازې دلکشمي پلاروپيژاند، چې راغلی و، خوهيڅوا ته نه ښکاريده چې هغه به پښتون نه وي،هغه په رښتياهم ډيرخواشينی و، هغه دزړه له کــومي د زړې شهزادګۍ په مرګ ژړل، اودهيڅافکرته هم نه ورتله چې مدن لال هندو اوميم صاحبه مسلمانه ده، هلته نورو هندوانو اومسلمانانو په ګډه دهغــې پــه مــرګ ژړل، هلته سړي ته ښکاريده چې انسانيت اوسړيتوب ترهرډول ګروهې اړيکو لوړدي، دانسان غم دانسان غم دي، دانسان مرګ دانسان مرګ دی، اودانسان خوشالي دانسان خوشالی ده،انسان ژبــه، ګروهــه، کــالی،کور کلــی اوهيــواد بدلولای اوله لاسه ورکولای شي خوڅه چې نه شي بــدلولای، هغــه دده غــم، خندا، ژړا،مينه اوعاطفه ده چې دې دژوند له پيله ترپايه په هرځای اوهررنــګ کې يوشان بدرګه کوي... مرګ سره له دې چې هرڅوک اوهره ډله هغه ته پــه کرکه ګوري، په کرکه يې يادوي، نه يې خوښيږي خو يوه ورځ داسې راځي چې بايد دخپل ژوند قيمتی مرغلره په همدغه بــدغوني ســوداګرباندې وپلــوري... دژوند وروستی سوداګرهم دی دئ او هغه له هرچا په هرډول اوهره بيــه چــې وي اخلي، خو هيڅوک نه پوهيږي چې څه يې کوي اوپه څه برخليک يــې لــه هغه وروسته ور اړوي...

موږ لا په هديره کې وو چې لمرولويد، لمر، هغه چــې دهرڅــه اوهرچــا رازونه اويادونه ورسره دي، هغه چې هغه ورځ يې هــم پــه يــاد وه چــې دغــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



شهزادګۍ په هغه ورځ دلوي نواب په کورکې پــه ځــه شــان اوشــوکت ســره وزیرېده اوڅه خوشالۍ نه وې چې په هغه ورځ یې ددوې محــل پــه ســر نــه و اخیستی، لمرهغې هستۍ چې نه یې په هغه ورځ د دې له کورنۍ سره په هغــو پرتمینو خوښیوکې برخه واخیسته اونه یې نن هم دیوې شیبې له پــاره دیــوه ساده اخ په نامه شاته راوکتل، هماغه لمر، هماغې رڼایې پرهغه مهــال ولویــده اومور ټول ساړه ساړه لکه بایلي جوارګر خالي لاســونه، یــو یــو، دوه دوه، درې درې او...له هدیرې بیرته راروان شو.

کله چې محل ته بیرته راغلم بوچا دبنګلې په دروازه کــې وه، نیــغ یــې دلکشمي مورته وروستم، کله یې چې سترګې راباندې ولګیدې راته په کوکــو شوه، داسې لکه چې په رښتیاهم زه ددوی دکورنۍ کوم مهم اونژدې غړی یــم، اوپه رښتیامې کومه ډیره نژدې خوک له لاسه ورکړي ده، هغې زه پــه غیږکــې ونیوم، اوپه چیغو چیغو کې راته وویل:

ـ دولت خانه زویه، زما شهزادګۍ مور خو ستا په لیدو سره دهندوستان ټول درانه درانه غمونه له یاده وایستل، کاشکې ته خو څوکالــه پخــوا راغلــی وای... پرهغې ته څومره ګران وې اوتاته څومره خوشاله وه...

لیلې ته مې هم تسل ورکړ، هغه له خپل خاوند سره چــې نــن ســهارله خارج څخه دخپلې مورپه مړینه راغلی و، ولاړه وه اوهغه یې ماتــه راوپیژانــد، نواب رحمت الله خان... چې اوس یې په کوم هیواد کې دهند داستازې په توګه دنده درلوده...

له هغوی سره مې خپله خواخوږي وښوده، لیلې په نیولي غږ راته وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ دببو وروستۍ شيبې وې اوستا نوم... په هغه شپه چــې تاســې ولاړئ ځو ځوځلې يې له ماپوښتنه وکړه چې:

ـ ددولت خان عزت وشو كه نه... ما هغه ونه ليد...

دهغې خاوند چې له ځيرې يې پرتم ښكاريده دخداى پاماني په وخــت كې په غيږ كې ونيوم اوراته وويل:

ـ مور خو ولاړه، لكه چې يوازې يې پريښودو هيلــه مــن يــو چــې تــه مو يوازې پرى نږدې، پښتانه څه وايي؟ زما اوس فكركارنه كــوي... كيلــه راځــه كيله به زه... (نورنه پوهيږم )....

ما تراوسه ژړلي وو، خوداسې نه چې غږ مــې د زړه لــه اولكــې دبانــدې ووزي، خو كله مې چې د رحمت الله خان داخبره واوريده، نــو نــه يــوازې مــې تسل ورنه كړ بلكې په ژړا مې هم زړه ښه ورســره تــش كړ...ښايســته شــيبه ورسره ودريدم، څه خبرې مې هم ورسره وكړې... په تلوتلو كې يې بيا ترغــوږ راتيره كړه چې هغه سندره څنگه ده؟ خوله مې يې غوږ ته ورنږدې كــړه اولــه هغې سره سم مې دم گړۍ خداى پامانى ورسره وكړچې:

مينه په تلو راتلو زياتيږي كله راځه كله به زه درځم مينه...

(c) ketabton.com: The Digital Library



## (۱۱)

ماښام تیاره و، ما اوپوچا دواړو له لکشمي سره هم خدای پامــانی وکــړ، هغه بیرته پرمحل ننوته، ما بوچا ته وویل چې همدلتــه ودریــږه،زه زر یوځــل ترزړې ونې لاندې قبرته ورغللم، زر مې یوه دوه رکعته لمونځ وکــړ، دعــا مــې وکړه، په تاخچه کې ایښی دروند کتاب هغه چې کرښې یې تراوســه هــم لکــه مرغلرې روښانه وي مې ښکل کړاو زربیرتــه راغلــم، دهغــې پــه څنــګ کــې کیناستم اودواړه دزړې شهزادګۍ له کوره راووتو... ماپه همدغه مهال پوچا تــه ووې چې زه سیده خپل کورته ځم ځکه چې هم خواشینی یم اوهم ستړی، خو دې پرته له ځنډه ځواب راکړ:

ــ سمه ده ځان آرام ونیسه، هم هلته دې بیایم...

دغه شپې دمیاشتې وروستۍ شپې وې، ځکه نوشپه زرتیاره کیــده، زه هسې هم په دغه ښار کې نابلده وم، دشپې به چې په موټرکې وم نه به پوهیدم چې چیرې ځم اویاپه کومه خوا روان یم، په دغه ماښام هم پوچاموټرته داســې پونده ورکړې وه، چې یوه خواهم سمه نه راته بریښیده اونــه پوهیــدم چــې دا کوم ځای دی اوپه کومه خوا روان یم...هم یې موټرچلاوه اوهم دځه په باره کې راته ګډه وه خو زه نن په خپل حال کې نه وم، یــوازې ســرمې ورتــه ښــوراوه، لاسونه یې لکه دځوښ شویو شیدوڅپه له خبروسره همداسې راپورته پورتــه کیدل. په دغه شیبه کې ماته زموږ دکلي دخدای ښبلي مــلا ســحرګل خبــره

(c) ketabton.com: The Digital Library



رایاده شوه چې کوم کال غزنې ته راغلی وهلته یې کومــه ښـځه داخلـــي کــه خارجي لیدلې وه چې موټرېې چلاوه، کله چې بیرته رشیدانوته راغلی نوټولو ته به یې همداویل چې:

ــ آخره زمانه شوه، په غزنی کې مې ښځه ولیده چې مــوټرېې چــلاوه، خدای ترې وساتلم که نه دې خو غوښتل چې سم دم یې راباندې راوخیژوي...

داچې څومره به یې رښتیاوې خدای به ترې خبرو، څوجمعې یې ډوډۍ خیراتوله چې خدای دې ترې بچ کړې و، آخرهم لــه خــره راولویــد اومړشــو، زامنویې هم خیرات پسې ونه کړ...

اوس چې پوجا موټرچلاوه ماته زما دماشومتوب همدغه کیســه رایــاده شوې وه، په همدغه سوچ کې وم، چې پوجا خپل موټردیوې بلې خورا ښــکلې خو په زاړه انګریزي ډول جوړې بنګلې مخــې تــه ودراوه، دګــراج دروازه پــه اتوماتیکه تننۍ خلاصه شوه،، پوجاخپل موټر وردننه کړ، ما په زوره ورته وویل:

ــ دخدای له پاره دادې چیرې راوستم ما هیله هم درڅخــه وکــړه چــې ما...

دې راته وخندل:

ــ یوسری انسان یې ستایې له کورسره څه، چې چیرې ښه هلته شپه...

یوځل مې بیا هیله ترې وکړه چې زه ســتړی یــم، زه نــه غــواړم چــې نورڅوک راسره سرګردانه اوخواشیني شي... خو دې هیڅ هم نــه ویــل، راتــه موسکۍ وه، چې په همدغه شیبه کې دوو نوکرانو لــه دوو خواووزمــوږ دمــوټر دروازې پرته له دې چې موږ یې کلپ ورخــلاص کــړو خلاصــې کــړې اوزمــوږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



هرکلی یې وکړ، ماهغې ته ووې چې دانوڅنګه کیدای شي چې هغـوی دکلــپ دروازه چې دننه خوا څخه ورخلاصــه نــه شــي خلاصــه کــړي، دې اول راتــه وخندل،خو وروسته یې راته وویل چې داموټر یې پلارپــه دې ورځــو کــې لــه خارجه راوستی دی،هغه کوم کمپیوټري حساب لري چې دبلدوکســانوپه لاس اوغږ باندې پوهیږي...

دلته هم لوی کورو، لویه بنګله وه، داسې لکه دلکشمي داناغوندې دننه اوباندې یې څراغونه روښانه وو، لوی ډنډ یی په منځ کــې و، پــاکو اوبــویې پــه پاکۍ سره په منځ کې ځان په آرامۍ سره غــوړولی و، ډیرخلــک ننــه کښــته اوپورته کیدل، داسې چې سړی پوهیده دلته یوڅه اویا یوه لویه پیښــه شــوې ده. زه اوپوجا دواړه دماښې دننه شو،هلته یې مور، پلار، مشرورو اوکشــره خــور ټول داسې ولاړوو لکه چې دمیلمنو هرکلی کوي، زه پوجا دوې ته په یوه لنــډه جمله کې وروپیژندلم:

ـ دادولت خان دی، له افغانستانه څخه راغلی، دلته له مورږ سره په یــوه کالج کې درس وایی...

پلاریی لومړی ما اوبیا خپلې لورته موسکی شو:

ـ ډیرښه، ډیرښه، زمونږ پټان ورور دی؟

ـ پوجا زرځواب ورکړ:

ـ پټان نوښه پټان دی، که څه هم چې پټانان هندتــه هرمهــال راغلــي، هغوی ددې خاورې شوي،هرڅه یې له لاسه ورکړي، خو دې لکه چې داسې نــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي، په دې چې دې غواړی هم غازي شی اوهم بیرته پټان خپل وطن ته ستون شي...

هغه ورته وخندل اوورته ویې ویل:

ـ داپه رښتیاهم زما تربوردی...

ټاکر پیاری لال دپوجا پـلار و، دې هــم راجپــوت هنــدو و، ځــان یــې راوپیژاند اوویې ویل چې دې له هغو جنرالانوڅخــه دی چــې جنــرال نیــازی اودهغه پوځ یې په ډاکه کې کلابند کړ، دهند اوپاکستان په نورو جګړو کې یې هم برخه اخیستې وه. په خنداکې یې خپله داهم ترغوږ راتیره کړه چې، دتــره زوی دې هم ډیرې جګړې کړې دي...

له همدغې ورځې وروسته به جنرال زه په نامه نه یادولم تل به یې دتره زوی بللم... ځکه ده به راته ویل چې یووخت دهند په ټوله نیمه وچه کــې دوو قومونو یوبل په ویاړسره یادول، چې یو پټان و اوبل راجپوت، دوې سره لــه دې چې له یوه اوبل سره دجګړو اونښتو خورا ترخې کیسې لري، له یوه اوبل ســره ډیرنژدې اودیورنګه ځانګړتیاوولرونکي قومونه هم وو...

زما اودپوجا دپلارلنډکی کیسه لاپای ته نــه وه رســیدلې چــې دنــورو میلمنو یواوړد لام پردالان راننووت، نارینه اوښــځې، ځوانــان اونجــونې، زړې اوپخې، په ځو شیبوکې دغه سالون دچا خبره لکه رستورانت داسې راډک شو، زه دسالون په برسرکې وم، خلک سم نــه راتــه ښــکاریدل، خــو چــې پوجــا اولکشمي زما پرخوا راروانې وې په زړه مې غله راګډ شول، اودا په ذهــن کــې راتیره شوه چې ګواکې ټول دوې سره خپل دي، چې ښه ځیرشوم اوشاوخواته

(c) ketabton.com: The Digital Library



مې نورهم وكتل، ډيرې خيرې، ډيرخلک پيژندګلوي وو، ليلا خان هم له خپــل خاوند اودوو بچيانو سره راغلې وه، دلكشمي كورنۍ اود دوی نورخپل خپلــوان هم ګرده راغلي وو، په همدغه مهال چې كله پوجــا اولكشــمي دواړې راغلــې اوزما څنګ ته كيناستې، دوی ماته داخبره دلومړي ځل له پاره په ډاګــه كــړه چې دوې دواړې سره سكنۍ ترلې دي. دامعلومه شوه چې دوی دواړې په يــوه كورنۍ پورې اړه لري،ډيرڅه يې له يوه اوبله نه يوازې پټ نه دي بلكــې هرڅــه يې سره يورنګه دي. دوې چې كله داخبره راته وكړه ما په هماغــه ځــای كــې خپل تندي ته ټس وركړاوله خدايه مې شكريه وكړه چې كومه ورځ مې د دوی په منځ كې ديوې اوبلې په باره كې څه نه دي ويلي... لاسونه مې لاهم داسې په تندي باندې نيولي وو، په دغه شيبه كې ما تــه هغــه زمــوږ ددفتردهمكــارې شيرنې خبره رايادە شوه، چې يومهال يې راته كړې وه چې: دروسي يرغل پــه شپوورځوكې په پيښوركې دافغانانوله پاره ډيرې مرستندويې ټــولنې جــوړې شوې، چې دهغو له بركته موږپيښوريانو ته هم په كې كارونه ميلاو شول، ماهم په يوه موسسه كې كاروموند ځوكاله وچليده خو وروسته دپانګې دنشته والــي له امله په ټپه ودريده، په دغه موسسه كې ډيروافغانانوكاركاوه، مافكركاوه چې دوی به دافغانستان له بيلابيلوسيموڅخه وي... دموسسې له رنګيــدو ځوكالــه وروسته چې دافغانستان په لوبه كې سرويس تبديل شو، زه جلال آباد ته لاړم، چاراته وويل چې زموږ دهغې پخواني موسسې دامرپلار مړشــوی، زه هــم لــه نوروپيژندګلووسره بهسود وته ورغلم، هلته مې ټول هغه دموسســې ملګــري وليدل چې تاوده تاوده يوې اوبلې خواته ګرزيدل، بيــامې هــم فكروكــړ چــې داخودعا ده،دوی به هم لكه ماغوندې خبرشوي وي ځكه راغلي دي، لــه يــوه دوو مې پوښتنه وكړه چې څنګه خبرشوې چې دلته نن راغلئ، هغه راته وويل

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې دا آمرخو زماوروردی، بل راته وويل چې زما دتره زوی دی، خبره ان دماما اونورو خپلوانوترزامنوپورې ورسيده... لنډه داچې راته روښانه شوه چې هغه زموږ موسسه ټوله يوې کورنۍ چلوله خو هلته يې ناسته پاسته داسې سره جوړه کړې وه چې هيچاهم فکرنه کاوه چې ددغې موسسې غړي به له يوه اوبل سره پيژني...؟

پوجا څه شي ته پورته شوه، لکشمي مې لاس له تندي راکښته کړ، په غمجنه څيره، په داسې څيره چې خواشيني له ورايه ترې ښکاريده راته موسکۍ شوه اوراته ويې ويل:

ــ څه خبره وه، که دې څه ويلي هم واي، څه به دې ويلي واى؟ موږ خوڅه تاسې غوندې نه يوچې ديوې دومره وړې خبرې له پاره هم تندی په تيره ماته کړو... خوماهغې ته دشيرنې کيسه وکړه، هغه داسې په خنداشوه، چې اوچت غږېې په دغه حال کې زياتروخپلوانو واوريد. خو زريې ځان راخوندي کړ، مايې دانا دمړينې له امله خپله ژوره خواشينې يوځل بيا ورته څرګنده کړه، ددې په سترګوکې اوښکې لکه چې پرګلاب باندې باران واوري اوبيا يوناڅاپه پرې لمرشى اوس دتالاربلورينو څراغونو ته سلامي شوې وې، داسې چې زما سترګې يې هم ناچارې کړې چې بايد لکه ددې دهغوپه شان شي. خونه، په همدغه حالت کې يې ستونی راډک شو اودې هم هماغه تيره خبره راته وکړه:

ــ کاشکي څوکاله مخکې راغلی واى، پرهغه مهال چې زما انا دغه ناروغي نه درلوده، هغه ستاپه راتګ دومره خوشاله وه چې هغې به تل ويل ته خداى ددې له پاره هندوستان ته راليږلی يې... ان چې کله کله به يې ما ته هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترغوږ راتيره کړه چې له دولت خان سره... په دې چې په اوسنې نړې کې که په انسانانوکې دوفا، باور اورښتيايني بيلگې پاتې وي هغه به په پټانانوکې ترنوروخلکوزياتې وي...

خومايې زرځواب ورکړ:

ــ هو، هغه ډيره مهربانه وه، ما ته هم داسې ښکاريده لکه زما مور، هغه يوازنۍ څوک وه، چې ما يې په څيره کې دخپل پښتون ژوند يوه اوږده لړۍ وليده، مايې دروښانه څيرې په هنداره کې دخپل تيربرخليک د آواره وريځو درنې لړۍ وليدې... اوهغه يوازنې څوک وه، چې په شلمه پيړۍ کې يې دشپاړسمې پيړې دپښتنې مينې اودرنښت هنگامه له ځان سره ژوندۍ ساتلې وه... خودريغه چې مايې هغه پوښتنه ورځواب نه شوای کړای، هغه پوښتنه چې رانه کړې يې وه:

ــ داحمدشاه اومحمود دبريمنو غازيانو په خيلخانه او ټاټوبي کې يوداسې سړی نشته، چې نن سبا دغه خلک اودغه ملت له دغې بدمرغۍ څخه وژغوري؟

نن هم شپه ډيره ناوخته شوې وه، موږ په هغه شپه دپوجادوې کره وو، هلته دلکشمي اودهغې نورخپلوان ټول راغلي وو، دپوجا پلار زموږ په دود نن شپه دوې ته ( ويروسي ) کړی و، پرما هم ناوخته شوی و، پوجا بياځان رادمخه کړاو راته وويې ويل چې زه دې کورته رسوم، مايې غوږ ته خوله وروړاندې کړه چې داځل مې په دې نيمه شپه کې په بله خوايونه سې، خو دې راته وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ــ نه داځل دنيغ کورته رسوم، زه هم له ځان سره يوچوکيدارڅوک چې له هغې خوا يوازې نه وم بيايم،...**

**په همدغه دغه کې راووتو، دپوجا موټرهلته وړانــدې دانګړبــاغچې تــه نژدې ولاړو، ما له کوربنوسره خدای پاماني کاوه چې دا خپل موټر ته ورغله، زه اولکشمي هم وروړاندې شو، کله چــې دې غوښــتل دمــوټر دروازې تــه لاس وراوږدکړي، دمخې دټايرله څنګه يې يوه برابرمار ځان ورښوراوه اوددې پرخوا يې ځان راوخوځاوه، چيغه يې وکــړه، لړراديخواتــه وچــه کلکــه لکــه لرګــې ودريده،د لکشمي دلته زما په څنګ کې واړې وختې اوما ته يــې وويــل چــې وړاندې ولاړنه شم...دپوجا هغه ژبه چې لکه بياتې داسې به چليده اوس ګونګۍ شوې وه، حالت يې ډيرخراب و، ماپه آرامۍ له لکشمي څخه پوښتنه وکړه چې که زه داماروو‌ژنم څوک خو به پرما بدنه وايي؟ هغې راته وويــل چــې وړانــدې ورنه شي داستاکارنه دي، زه چوکيداران رابولم چې هغوی يــې مړکــړي، خــو مارهمداسې دپوجا پرخوا راروان و، په څنګ کې مې دسيمټو يوه ټوټه پرته وه، هغه مې راپورته کړه، په ډيره آرامۍ سره مې دهغه سرپه نښه کړاوپرهغې مــې وويشت، يو دوه لټه واوښت راواوښت، نورهمالته له حرکته ولويد. پوجا له ډاره لړزيده، هرڅه يې له لاسه ورکړي وو، خوکله يې چې وليــد مــار مــا وويشــت، يوڅه سره آرامه شوه، ترلاس مې راونيوه اومارته مې نژدې ودروله چې يــوازې لکۍ يې ښوريده، دې ته مې تسل ورکړچې هغه نوردخوځيدو نه دی،خو هغــه داسې ډاره شوې وه چې رنګ يې زموږ دخلکو په وينا دځراغ پلتــه شــرموله، مايې دمخ خولې په خپل دسمال ورپــاکې کړې،لــه هغــه وروســته يــې پــلارا**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ونورخپلوان اوخوکیداران له اوږدو اوږدو لکړو سره راورسیدل، پلاریې پوجا په غیږکې ونیوه، په سریې لاس ورتیرکړ، ورته په موسکا شو:

ــ غټ پیاوړې پټان دې په ځنګ کې دی ته لــه مــاره ډاریــږې... زمــوږ نیکونو به تل موږ ته ویل چې که ملګرتیا کوئ نوله پټان سره به یې کــوئ، کــه هغه درسره وي دزمانې بدې بلاوې خوځه کوې چې دځنګلونو زمریان بــه هــم لاردرځخه چپوي، شیرشاه زمری نه و وژلی چې دولت خان به یوه مارتــه ســزا ته ورنه شي کړای؟ دلکشمي پلار خپل موټروان ته غږوکړ، چې راشي اوماخپل کورته ورسوي، پوجا اوس ایله لږآرامه شوې وه، لکه چې باوریې نه کیده راتــه ویې ویل:

ــ ته مارهم وژلی شې؟

ماورته وخندل:

ــ ولی څه شک درته ښکاري؟

ــ داچل دله چا زده کړی، چې په یوه وارسره دهغه ځای پرځای کړ.

ــ زموږ خلک وایي ماردښمن دی... ددښمن په وړاندې باید سړی ناګاره نه وي...، هغه هیڅ چل نه غواړي...

ــ نه، نه مطلب مې دادی، چې دماروژلو درس دې لوستې، چادرښــودلی که ځنګه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ هو، ما ته دماروژلوچل زما نيکه خدای دې وبښی راښوولی دی، هغــه موږ ته ددښمن داکه ماروي، کــه زمــرې، کــه ليــوه اوکــه يرغلگرانســان لــه دغوټولوسره دمقابلې چلونه راښودلي دي...

ددغې لنډې پيښې له دړدنگه وروسته،مې بياله ټولوسره هغــوی چــې دلته ولاړ وو خدای پامانې وکړ، پوجا اولکشمی له څيرو ښکاريدې چــې ښــې ډارې شوې وې،ځکه يې اوس نه ويل چې موږ به دې ورسوو، زه تــرې موټرتــه وختم، دپوجا زړه صبرونه کړلکه چې عادت يې و اوورستی خبره يې تل ځانته ساتله رانژدې شوه،ترغوږ يې راتيره کړه:

ـ ځه خدای دې مل شه، نوربه دنيکه ته هم دعا کوم چې تاته يې داچل درښوولی و، اوکه نه نونن شپه بــه زمــا هــم لــه اروابښــادې ببوســره وه، خــو لږناوخته...؟؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



## (۱۲)

له لوی اختره څوورځې تیروې چې زمونږ دکالج ځـوملګرو ســره جــوړه کړې وه چې له لکشمي سره د غمرازي په نامه، دیوې دوو ورځوله پاره باید په ګډه یوې خواته دهند دلیدنووړښاراوسیمې ته سفروکړو، دټولو رضــاوه، چــې باید ولاړشو، خو توپیرپه دې کې وچې په نه سره جوړیدو چې چیرې ولاړشــو، چا به ویل اجمیراو راجستان، یوشــمیرخو لاویــل چــې مســوري، دهــره دون اوهریدوارته، نورلاویل بنګال اودارجلنګ ته... داټول ځایونه زمونږ په لست کې وو، خومونږ سره جوړ نه شو، ټولو واک لکشمي ته ورکړ چې هرځای هغه ووایې هم هغه ټولو ته دمنلووړ دی، دهغې سلا په اګره راغله، پرتاج محل، په دې چې پردې باندې تاج محل ډیرګران و، داهلته څوځلې پخوا هم تللې وه خو لــه دې سره سره یې هم زړه نه وترې را ټول شوی، داځل یې هم هغه خوښ کړ، زما په یاد دي چې کله یې اګره یاد ه کړه ماته یې وکتل اوبیایې پوښتنه راڅخه وکړه:

ــ ستا تاج محل خوښیږي؟

ماورته وخندل اوورته ومې ویل:

ــ داسې زړه، داسې خیال، اوداسې څوک به هم وي چې ووایی زمــا نــه خوښیږي.

تاج محل دهرهغه چا چې په سینه یوځه دزړه په نامه لري خوښیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ــ ولې دهرچا خوښېږي؟ (په موسکا).

يوه شيبه ورته غلی شوم،خو بيامې زرځواب ورکړ:

ــ زه به ستاداخبره هلته ځواب کړم چې کله تاج محل ته ورسيږو.... ـــ سمه ده، خو پام چې که زما هيره شوه، چې بيايې راپه يادکړې...

فکرکوم چې په هغه ورځ دجمعې ورځ وه، تيرماسپښـــين و، چـــې مـوږ اگرې ته ورسيدو، هلته مو دشپې له پاره هم په يوه هوټل کې ځايونـــه ونيـــول، هرچا دځان له پاره يوه يوه کوټه ونيوه، پوجا اولکشمی په يوه کوټه کې ديـــره شوې، ما اواکبرخان هم ځانته يوه کوټه ونيوله، په هغه ورځ مو ترمازديگره پـــه هوټل کې آرام وکړ، په دې چې موږ غوښتل ناوخته تاج محل ته ولاړشـــو، پـــه دې چې پوجا ويل چې تاج محل په دغوشپوکې تورورځې دشـــپې ښـــکلی وي، ځکه چې اوس سپوږمۍ هم دڅوارلسمې ده. له ماسره اکبرخـــان هـــم و، هغـــه زموږ دکټواز يوښايسته اوزده کړې زلمی و، سره له دې چې زموږ داوطنـــداران په هرڅه پوهيږي، خو يوڅه چې دکلونوپه اوږدوکې يې ملاورته ماته شـــوې وه هغه زده کړه وه، چې نه دوی ورته ليوال وو اونه يې خپل زامن او اولادونه ورته هڅول، خو اکبرخان ته خدای خپله کورنې په ښه کړې وه اوخپلې زده کړې په ښه شان سره ترسره کړې وې،دنوی ژوند په ټولو نازکيوباندې لکه دعصرزلمی، نه دکټوازداسې پوهيده...دکورنۍ نوروغړو يې اوس هم په اسام اوبنگـــال کـــې ددوې په وينامعاملې درلودې خودی له هغوټولولاس پـــه سرشـــوی و اوملايـــې يوازې زده کړو ته ترلې وه، اوس يې هم له يوې جاپانې کمپنې ســـره کارکـــاوه چې هرڅه يې درلودل. خوله دې سره سره يې تراوسه په کومه نجلـــۍ بانـــدې داسې چې دځان له پاره يې وړوبولی لاس نه و ايښی، په دې چـــې پـــه عـــادي

(c) ketabton.com: The Digital Library



**نجونو دده زړه اوبه نه څښلې او هغه چــې ده غوښــته هغــه ورپیداکیــده نــه. مازدیگرمهال و، چې مور په تاج محل ورننوتو،، په ځوشیبوکې راباندې ماښــام شو، ما اومصطفی چې زمور ملگری و، هلته دتاج محل دمــانې پــه څنــگ کــې دماښام لمونځونه وکړل، هرڅوک چې تاج محل ته لاړشي، هلتــه دیــوه پــرتم احساس، دیوه جوړونکي اوهستوونکي قدرت نندارہ پرته له دې چې فکرپکې وکړي په خپلوسترگووینې، اودرښتینې هستوونکي په پرتم اولویي هلته تربل هرځای زیات دسړي باورپیاوړی کیږي...**

**دتاج محل ښکلا اوځواني اوس دسپینوځراغونو غیږې تــه لویــدلې وه، دمانې پرننیودیوالونو باندې دیاقوتو اومرغلرو ځلاوو دهرچــا ان دهغــو مســتو نجونو اوشازلمو سترگې هم خیره کولې چې ځانوته به یې دښکلاپه لحاظ دچــا خبره یوڅه ویل، دشاجهان اوممتازمحل ارواوې چې دهغــو پرقبروبانــدې پــه شپوپه ورځو، په میاشتو، میاشتو، اوکالونو کالونو دیوه اوبل په کتو کتوباندې نه ستړې کیږي، دیوې اوږدې اوتلپــاتې مینــې کیســه هرچاتــه چــې پــه دغــو کیسوپوهیږي وایي... اووریادوي چې ځوان خرم اوښایستې تاج بی بــې دلتــه دڅه شان یوې مینــې هنگامــه جــوړه کــړې وه چــې تودوخــه یــې تراوســه دهنداونړی خلک له ورایه احساسوي.**

**زه اولکشمي هم یوځای وو، کله موچې دتاج ننداره وکړه، کلــه مــوچې هلته هرڅه دزړه په سترگوولیدل، هغه اوس گردسره په یوه بله دنیاکې ورډوبه شوې وه،زه پوه شوم چې دهغې جسم له ماسره په تاج محل کې روان دی خــو روح یې په کې نه وه،دهغې دسترگو سپینوالي لکه دتاووس دسترگو په شــان دسپین تاج محل په منځ کې دتاج محل سپینو ځراغونوته مینتوب اولیونتوب**

(c) ketabton.com: The Digital Library



په يوځل كتو كې وربښل، ما نه شواى ورته كتلاى، ځيره مې يې دتاج دســـپين ديواله په سپينومرمرو كې ليده چې لكه بت غوندې راته ښكاريده، ترلاس مې كلكه راونيوه اوپوښتنه مې ترې وكړه:

ــ ما وينې اوزما خبرې اورې؟

هغې ځواب راكړ: وينم دې نه، خو خبرې دې دتهولې اورم...

ــ پوهيږې تاج چا جوړ كړې؟

- هو، پوهيږم...

ــ چا؟

ــ مينې، يوې ليونۍ مينې اويوه مينه ناک احساس...

اونوريې څه ونه ويل...

موږ تهول له تاج محله راووتو او دتاج له څنګه مودجمنـــا ننــداره كولــه، دڅوارلسم سپوږمۍ هم هسكه راغلې وه، دجمنا اوبوپه دغــو شــپو كــې ايلــه دسيند مخ پوښلى و، اوبه يې ډيرې نه وې، لكشمۍ دسپوږمۍ انځور په جمنـــا كې وليد، پوجا غږ ورباندې وكړ:

ــ لكشمي پورنيما وينې؟

هغې ورته وخندل او ځواب يې وركړ:

ــ هو ښكلې ده، خو په تاج محل كې نه، په دې چې دلته له تـــاج محلـــه پرته بل شى ښكلي نه ښكاري...

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوی دواړې سره یوې خواته شوې اکبرخان زما خواته راغی، لاس یې زما په لاس کې راکیښود اولومړی پوښتنه یې رانه داوه:

ــ دتره زویه، دابله(پوجا) خو دې زما ډیره خوښه شوه...

مامې لاس دده پراوړه کیښود او پوښتنه مې ترې وکړه:

ــ اکبرجانه لالیه، داتاج محل دی، همدلته د زړه مراد غواړه، هرڅه چې غواړې؟

پوجا زما اودده انځوراخیست، پاروتی هم له اکبرخان سره خپل عکس واخیست، ما په ټوکه ترغوږ ورتیره کړه:

ــ اکبرجانه لالیه خدای دخیرکړي... شنې کوترې خو دربانـدې رامـاتې دي،...

ده پاروتي ته په ځیرځیرسره وکتل:

ــ یه یه دادې درنیسه... داپه ونه وړه ده... هغه بله خو که ښکلی ده ونـه هم لري...

تیرماښام موږ دتاج محل له جادویی غیږې راووتو، داګرې دښار په سړه اوآرامه غیږه کې روان وو، هلته چې دتاج دشاوخوا په انډول ډیرروښانه نـه و، دواټ پرغاړه په سلګونو خواران داسـې چـې تـا بـه ویـل دایـې همیشـنې استوګنځی دی یوې اوبلې خواته په خواړه خوب باندې ویده وو. لاره تیاره وه، لکشمي اوپوجا ځنګ په ځنګ روانې وې، ما په همدغه مهال پوجا ته وریـاده کړه چې شاجهان لکه چې اګره له سامان برجه په همداسې یـوه تیـاره شـپه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ليدلې وه چې خپلې ګرانې لورجهان آرا ته هغې ته چې دژوند ترپايه هم له ده څخه ديوې شيبې له پاره بيله نه شوه ويلی وو:

که له دې زندانه داځل ووتم اوبخت ياري راسره وکړه داځل بـه دتــورو مرمرو تاج داګرې ښارته ورډالی کوم...

زما خبره لا پای ته نه وه رسيدلې چې دپوجا پښه په کــوم شــي بنــده شوه، نژدې وه چې پړمخې ولويږي، اکبرخان راکلکه کړه، ترهغو چې هوټل تــه نه وو رسيدلي،دوی دواړه لاس ترلاس سره روان وو. همالته زما زړه ته ورسيده چې اکبرخان لالی هسې هم دغرو واو دغروشو....

په هغه شپه مورږ ترناوخته داستوګنځي په بڼ کې کيناستو، ټــول ســره دوه دوه شوي ول اوپه خپلوخپلــو کــې ســره ډوب ول، لکشــمی لــه ماســره ترناوخته پورې ناسته وه، اکبرخان لالي له پوجاسره ګــوتې خــوږې کــړې وې اوهغه نور له نوروسره څوک يوځای اوڅوک بل ځای کښته پورتــه کيــدل، پــه هغه شپه لکشمي ډيره هڅه وکړه چې زما له خولې يوڅه واوري... يوځــل يــې راته وويل چې تا خو ويلی وو چې له تاج سره دمينې خبره به هلته درته کــوم اوس خوهغه وعده پرځای کړه اوراته ويې وايه...

مابياهم ورته وخندل او ورته ومې ويل:

ـ تاج محل ديوې تلپاتې مينې نوم اونښه دی،دمينې، د هغه څــه چــې انسان بې له هغې څخه انسان نه دی،انسان له هغې پرته ديوه سپيره بيابان په شان دی چې څوک يې هم په خوند او رنګ نه يادوي...

دا راته موسکۍ شوه لاس يې زما پرمخ را تيرکړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ــ ته هم مینه پیژنې؟

ــ هو، لږ لږ ځکه چې ما ته هم ځان انسان ښکاري...

ــ راته ویلای شې چې مینه څه ته وایی؟

خوما خپل عذر ورته څرګند کړ او ورته ومې ویل:

ــ له بده مرغه چې یوخوله بابادمه تراوسه مینه چا تعریف نه کــړه، بلــه داچې ماته هم دمینې دستاینې او تعریف له پاره ویی او کلیمې پــه خولــه نــه راځي....

ــ په زړه کې دې هم څه نه درځي؟

ــ یوڅه خو شته، خو دویلو له پاره یې یوڅه لکه ژبه نه لرم...

ځوشیبې په فکرکې راته وزنګیده، بیایی ترخوله راته ووتل:

ــ نو چې داسې ده، له تاپرته چې ټیکــی اولنــډۍ واورو نــوره ښــه نــه دربانديې کیږي، یوه ټیکی راته واچوه...

موږ همدا خبرې سره کولې چې منیش په پاروتی باندې لاس وراچــولی وو. اوزموږ په وړاندې یې څو څو وارې کلکه کلکه ښکل کړه، له لکشــمي یــې دلنډۍ نشه والوزوله، او ما ته یې په وارخطاډول وویل هلته وګوره...

هغوی یوه اوبل ته داڅوومه مچکه ســره ورغبرګــه کــړه، خومــا ځــان ناګاراچولی و. هغې ته مې په دغه اړه هیڅ ځواب هم ورغبرګ نه کړ... له هغــې خوا پوجا اواکبرخان سره خوا پرخوا را روان وو، زموږ خواته راغلل، پوجا راتــه وخندل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ـ اکبرخان غوندې څوک ما غوښت لکه چې خدای.... دده ټول عمر پــه هندوستان کې تيرشوی...**

**مااکبرخان ته وکتل، سترګې يوڅه خړې راتــه ښــکاره شــوې، دپوجــا ځواب مې په خندا ورغبرګ کړ:**

**ـ بس نوره ته پوهيږې او دی... تاسې دخدای سره جوړکړي موږ دغلــه وو...**

**نه پوهيږم چې اکبرخان په څه شي پسې يوې خوا ته شــو، لکشــمی زر خپله خبره پوجا ته وکړه:**

**جلکی کوښښ وکړه، چې درنه خطا نه شي، تو د يې وســاته، پــام چــې دولت خان غوندې درنه نه شي...**

**ما ته بيا دځان په اړه پوښتنه پيداشــوه، لکشــمی لکــه چــې اور پــرې لګيدلی وی پرمــا بانــدې پــه هغــه تــوره شــپه کــې راغرمــه غرمــه شــوه... ـ ته نه پوهيږې چې دا يويونيم کال زه تا اوبه اوبه کړم، زه خو څه اوســپنه نــه يم... زه انسان يم... هيله لرم، زړه لرم... او داټول ما پرتا پورې تړلي دي خوته...**

**ماددغې خبرې لاره لاډيره پخوا څارله اوپه دې فکرکې وم چې يوه ورځ به خامخا دشهوت دتوپان له همداسې يوې څپې سره په يوه همداســې ځــای کې غاړوځم... مايې لاس په لاس کې ونيو، پرمخ مې يــې کــينې لاس راتيرکــړ، داوښکولارې مې يې پرمخ، پرښکلي مخ ورلنډې کړې او ورته ومې ويل:**

**ـ ته مه خپه کيږه زه هم مينه درسره لرم، پرما هم ګرانه يې خو...**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ نوخو یانې څه؟

په داسې حال کې چې لاس یې زما پرلاس باندې موښه ما بیاورته وویل:

ـ آیادا اړینه ده چې څوک له چا سره مینه کوي، دچا چې څوک خوښیږي هغه باید یوازې د... په مقصد وي؟ اوکه نوررارزښتونه هم باید په پام کې ونیول شي...زه خو فکرکوم هغه هم په درناوي سره په پام کې ونیول شي او یادکړه شی...

ـ نور ارزښتونه یانی څه؟

ـ دا خو اړینه نه ده چې انسان دې په خپله دومره لو یې سره دومره کمزوی شي چې یوازې دې دشهوت جنډه ترنورو ارزښتونو لوړه وبولی په شهوت که دانسانیت بنسټ ایښودل شوی، خوبیایی دشهواني لویی مانۍ هم په خورا بده بڼه رانسکوره شوې ده. انسان دې ته اړتیالري چې له مورسره مینه ولري، له خورسره یې ولري،له طبیعیت سره مینه ولري، له انسان سره مینه ولري اوپه پای کې له هغه ابدیت سره باید مینه ولري هغه چې تقدیریې ورپورې تړلې...

زماداخبره لاپای ته رسیدلې نه وه چې لکشمي مې په خبره کې راولویده:

ـ ستا ددې لویې فلسفې له مخې زه په کومه ډله کې راځم؟ زه خو نه ستا موریم، نه ستاخوریم اونه هم ستا غرنی طبعیت یم... زه باید څه وکړم؟

ماورته وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ــ زه هم ستا په اړه تراوسه وروستی پایلې ته نه یم رسـیدلی اوپــه دې تراوسه هم لاسم نه پوهیږم چې زه له تاسره ولې مینه لرم اویایې نه لرم؟

هغې راته وخندل اولاس مې یې په خپل لاس کې کلک ونیو:

ــ دا لاس دې چې اوس زما په لاس کې ایښی په دې هم څه احساس نه درته پیداکیږي؟

ــ داسې هم نه ده چې ګواکی زه بې احساسه یم، زه احساس کوم خو په خوند او ارزښت سره نه، زه په دې پوهیږم چې ته پرما ګرانه یې خو...

خودهغې زړه زما دغه خبره لکه چې یانه منله اویــاداچې نــه یــې درک کوله... ځکه یې راته وویل:

ــ زه نه غواړم چې ته باید ټول عمر زما مینې ته دصبرخیمه ووهــې، زه شیبه غنیمت ګڼم، له ماسره داوږدو عمرونو خبرې مه کوه، یوازې دا راته ووایه چې دم درحال دې څه نیت دی؟

ماورته وخندل اوپه سړه سینه مې ترخوله ورته راووتل:

ــ نه شم کولای چې ځان په دغه سیند له موزو اوپڼو سره یوځــای لکــه چې ستاخوښه ده ورلاهو کړم...

ــ ولې؟

ــ ځکه چې زما اوستا دژونــد اواحســاس، او ان عواطفــو دنیــا خــدای محکومه پیداکړې ده... زه او ته په بیلو بیلو کړیو اوپنجرو کې د ژوند اوتــاریخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



دګناهګارانو په شان پراته يو، احساس مو بندي دی، ژوند مو زندی دی، او عواطف مو لاهم غلامان دي...

ــ پوه نه شوم څنګه، داخو ډېره درنه فلسفه وه...

مابيا ورته وويل:

ــ وګوره ته دم غنيمت بولې، اوزه دژوند غم خورم، ته وايې چې زما همداګړی سمه تيره شي، اوزه وايم چې اوږد عمرښايي موږ ته په مخ کې وي... ته وايې ټوله دنيا دې په ماپسې بد وايي اوزه وايم چې که يوه دروغ او ناروا هم راپسې وويله شي، زه بايد ځان ووژنم، ستا موراوپلار به وويارې چې ته يوملګرى پيداکړې، خو زما مور اوپلار که داسې څه دبل په خوله هم ورواري، ښايي ټول عمرله شرمه چا ته سترګې هم ورپورته نه کړي، لوی ويارِ به يې داوي چې ياما ووژني اوياهم خپل ځانونه... ته ووايه زه څنګه کولای شم چې دپيړيو پيړو، دهيلو او اميدونو اوګروهوپردرنه جونګړه مې ديوې لنډ مدتې احساسي شيبې له پاره اور پورې کړم... هو، دريغه چې ما دومره جرآت درلودای اويامې داکارکولای شواى... زه هم انسان يم، زه له تاسرمينه لرم.... خو؟

زه پوهيدم چې زه په دغه شان خبرو داسې څوک ښکارم چې ګواکې آسمان په توپونو ورته ولم، زه په دې هم پوهيدم چې دا هغه دشګو بندونه وو چې ما ځانته جوړول او ددې د درانه احساس سيلاب په خپلو خپوکې له ځان سره وړل او وړل... زموږ دميزپه سر دشرابو بوتل ايښی و، هم يې ماته اوهم يې ځانته ګيلاسونه ډک کړل، ما که هرڅومره ورته وويل، چې زه ددې کارميړنی نه يم، زه له دوزخه ډاريږم، زه نه شم کولای په هغه دنيا دخپلې دغې ګناه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځواب ورکړم... خو دې همدا راته ويل چې ته دا په سر واړوه، زه ســتا پرځــاى دهغه سوال اوځواب ميدان ته ورځم، موږ هم مذهب لــرو، مــوږ هــم دخــداى دلارې پيروان يو او موږ هم په هغه خداى له تاسې سره شريک يــو چــې هغــه دهرڅه بادار دى او هرڅه دهغه په اشــاره جــوړيږي او ورانيــږي... تــه دا پــه سرواړوه، ما هم په ټول ژوند کې داليونۍ اوبه په څکه هم نه دي څکلې، خو نن يې له تاسره څښم، هو له تاسره چې زړه دې دخپلــو توروغرونوپــه شــان لــه ژونده تور دى، ته دا په سرواړوه... اوله هرڅه بې غمه اوسه...

ما چې دشرابو ګيلاس ته وکتل،له زړه مې يوازې يوخداى خبــرو، هــيڅ لاره مې نه درلوده، که رښتيا ووايم په همدغه شيبه کې دلکشمي لــه خبــرې سره سم هغه لنډۍ رایاده شوه چې:

چلم وهه دوړې يې باسه دتمباکيوبه دې زه ضامينه شمه...

پرمايې هغه ګيلاس لکه دجادوګرې په شان په سرواړاوه، څو نورمــاهم پسې وڅښل... اوتوکل مې پرخداى وکړ، له ځان سره مې وويل چــې پرســيند خو لاهو شوم څه يوه نيزه اوڅه لس... داپه همدغه شيبه کې لکه بلبلــه راتــه لګياوه لايې ګيلاس هم په سر نه واړولى چې همدايې راته ويل چې:

ـ ته نورمه وايه چې زه له تاسره مينه لرم، اوس زما وار دى چــې ووايــم زه له تاسره مينه لرم... په دې چې ته خو نه دځان دآزادۍ پــه اړه فکرکــولاى شې اونه هم دنورو...

تردې زياتې يې يوڅو نورې هم راته وويلى، زه يې دومره راوپاروم چــې له ډيره درده مې هغه ليک چې په همدغو ورځو کې مې خپل پلارته په همدغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



اړه استولی وای چې دانوځه ګناه ده چې که زه له دغې هندوستانۍ سره چې تول عمر يې له ما سره تيرشواوزه يې په هرڅه باورلرم واده وکړم، زه پوهيږم چې دغه نجلۍ به کله هم ما بدمرغه نه کړي... خوهغه يوازې دايوه اوږده غونډله راته ليکلې وه چې:

– ته پوهيږې اوکاردې، که ته له هغې سره واده وکړې نو هغه ورځ هم راتلونکې ده چې هغه به لکه موږ غوندې مري، خو موږ به په کلي کې نه پوهيږو چې دهغې دمرګ په ورځ به موږ دهغې له پاره دقبربندوبست کوو اوکه دلرګيو؟ يوازې دغه ستونزه يې حل کړه نوربه خدای خيرکړي...

مادغه جمله دې ته لکه څنګه چې وه ولوسته، هغه زما په څنځير اوزولانه شوي تقديربانديې پوه شوه، په دې پوه شوه چې زه او ياهم داخپله ځومره محکوم يو، هغه پوه شوه چې زما په زړه کې دهغې په اړه څه نشته اوهرڅه لکه په اوبوکې لمر داسې روښانه دي، په خپله تړوله ښکلا يې يوځل بياد زړه له کومي غيږه راکړه اوپه يوه اوبله خوايي داسې مچې کړم چې دغاښود تاو درد يې ترډيرو پوره زما پرمخ باندې خپل سيورې له نري نري درد سره غوړولی و. له دغه شان مچولووروسته يې دخپل زړه درد په دغه خبره کې ترخوله راويوست:

ـ زه مينه درسره لرم، هو، دومره مينه، چې ان قبرته له هغې سره درسره ځم، سره له دې چې قبراوسوزيدل زما هم لکه ستا په شان نه خوښيږي، خو که بله لاره نه وه، هغه هم درسره منم...

شپه ترنيمايي اوښتې وه، هغې په دغه وروستۍ شيبه کې هم هيله راڅخه وکړه او راته يې وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ــ یوه لنډۍ، یوه وړه لنډۍ چې دزړه تسل مې پرې وشی، نوره نو شـــپه په سپیده چاود باندې خپله کډه وراړوي... ماڅوګیلاسه په سرواړل خوداســې نه ښکاریدم چې زه به له چتې وتلې وم او نه هم لکشمي داسې راته ښکاریده، له هغې مې پوښتنه وکړه چې داڅنګه شــراب دي چـــې پرمـــایې هـــیڅ اغیــز تراوسه هم نه ښکاري، هغه راته په خندا شوه اوراته ویې ویل،داشراب نـــه دي، په دې خاطرچې ته دوزخ ته ولاړنه شې،ما له هغو ډډه وکړه... زماعقیده هم له شرابوسره مروره ده....

ما نن هغې ته دزړه خبره وکړه، هغه چې دا ډیره موده ما نه شوای ورتـــه کولای او زما پرزړه یې درنه کیږدۍ وهلې وه، خو نن یې زړه ته ورسیده چې زه هم دې غوندې انسان یم، لکه دې غوندې د ژوند په رمزبانـــدې پـــوهیږم، خـــو یوازې په یوه توپیر چې دې په خپل ژوند کـــې پـــه یوشـــمیرهغو خنـــډونوچې دانسان په مخکې وي برې موندلی و اوما نه شوای کولای چې ځان له هغوڅخه راوباسم.همداوه چې ددې زما دژوند شډل تو ب خوښیده، دا زما په شډ والـــي باندې پوهیده اودهغه هرڅه یې په زور او زیر دواړه ورمعلوم وو او په هغو کـــې یې خپله نیکمرغی لیده، هغې ته زما حیا، زما وفا، زما ژوند زما له تاریخه ددې په مخ کې پراته وو اوهرڅه یې انې اونورو مشرانو لکه هنداره داسې ورښودلي وو،خوماته داسې څه چا نه وو ویلي، زه وم چې ددې په باب مې هرڅه یـــوازې ددې په ظاهرکې کتل، ان چې ددې په ظاهر کـــې مـــې هـــم دځـــان لـــه پـــاره دبدمرغی څه نه لیدل، په دې چې هغه زما پرخوا را روانه وه خوما په ځان کـــې داتوان نه لیده چې هغه زماد اندوژوند پرپراخه ورشوپه څـــه شـــان راګـــډیږي اوځان هغه سرمنزل ته رسوي لکه چې یوه ورځ زه اوهغه په یـــوه وینـــه اویـــوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مینه پورې هلته ترلی وو... هو په هغه مینه چې دې اوس په کیسوکې لیــده او په هغه وینه کې چې تراوسه یې رنګ اواحساس لکه زما دهغې په شان و.

زه یې ترلاس ونیوم، لاس یې زما په لاس کې و، دهغې دبــدن تودوخــه مادهغې له لاسه په خپل ټول درنښت سره احساسوله، پــه هغــه شــپه یــې د وروستي ځل له پاره دچا خبره پــه مــزه مــزه ښــکل کــړم او بیــا یــې خپلــه دپلاراونیکه حق لنډۍ دنورو ډیرو تودو هیلو پرځای رانه وغوښته، هو، لنــډۍ هغه چې دې به تل دخپل تاوده زړه تسل پرهغې باندې کاوه، زه لږ تــرې یــوې خواته شوم، مخامخ ورته ودریدم اوپه مینه مینه مې ترخوله ورته راووته:

یاري دنه کوم ډاریږم           دلرې لرې تماشې به دې کومه...

اوپه هغه شپه زموږ دمینې بنډار دهغې په موسکا کې تیت وپرک شــو... لږشیبه وروسته زموږ موټر متورا ته ورسید هلته مو له یــوه پــرتمین جومــات څخه دحق آذان ترغوږ شو، ما هلته دسهار لمونځ وکړ، خو چې لمرراخاتــه نــو بیا موږ دهمدغه ښار په زړه کې هلته په لوړ باندې د رادها اوکرشنا له طلایــی مجسمو سره ولاړ وو، هلته چې هندکیو نوي په خورا درنښت سره دهغــو پــه پښو کې خپل ارادتونه او سهارني ګلان په مینه ښــندل او شــندل او دهغــوی دتلپاتې مینې اوارات قدردانی یې کاوه...

لکشمي هم درادها ترمجسمې لږ رادیخواله ځان سره یوځه ویل، داسې چې ما نه اوریدل، خو کله چې را نژدې شوه، وامې وریدل چې له ځانه سره یې اوس هم زما هغه لنډۍ زمزمه کوله، هو، لنډې

یاري دنه کوم ډاریږم           دلرې لرې تماشې به دې کومه...

(c) ketabton.com: The Digital Library



## (۱۳)

زما دزده کړو وروستی کال و، له هيواده په نژدې ځو مياشتوکې په پرله پسې توګه بد خبرونه داسې چې ملاماتوونکی وويوپربل پسې رارسيدل، وطن خونه يوازې لوټ اوبرباد شوی و، له هغه اوس دملانصرو بڼستن جوړه شـــوې وه چې په هره څنډه کې غلو يوبـل وربانـــدې واژه. دکابـل لـــه ورانيـــواوس هـــم دپټواورونو لمبې پورته کيدې، داسې چې مساپروبه يې کيسې کـــولې، زنـــدی پرزندی پسې دهيواد دمورغاړې ته ددې دخپلوناپوهو زامنو په لاس ورلويـــده، داسې چې يوه به تربلې پياوړې او کلکه وه... دهرې ورځې په تيريدو ســـره بـــه يې دهيواد دموردخپلواکی دعمرکمپله ورلنډوله، ملاجان خپله وکـــړه او ولاړ، طالب جان خپله درلوده چې دهغې له پاره يې خپله ځواني پـــه اور لاهـــو کـــړه اوپه خپله سپينه لوبه کې يې سر دغورمې بوی کاوه...

داتټولې وشوې، راغلې اولاړې، تردغه مهاله خو هم هرچا داويلای شول چې ګواکی دا زما کوردی اوځه مې چې زړه غواړي هغه په کې کومـــه... ددغـــه وړو وړو سيليو مخه ديوه تو پان په لور خپله لاره ورنژدې کوله، هغـــه تـــو پـــان چې دهغه په پايله کې امريکايی ليونو دشوروي په پلونو خپـــل ليـــوني پلونـــه کيښودل اولکه ليونی غوا پروطن له يوې درنې سراړمی ســـره راغبرګـــه شـــوه داسې چې نه يې وچ کتل اونه هم لانده، پلمه يې يوه وه او کړل يې بل څه، لـــه راتګ سره سم يې يوه توره بلا پرهيواد باندې را غبرګه شوه، زموږ کلی چې ان

(c) ketabton.com: The Digital Library



دشوروی دیرغل په شپوورځوکې هم په بمونو نه و لګیدلی په دغه کـال ددوی په بمونوکې لولپه شو، زموږ زیات کلیوال په کې ومړل، زما دموراوپلار شهیدې جنازې هم دړنګ کور له انګړه ترهدیرې پورې ورسـیدې، دهغـوی لـه مرګـه نژدې یوکال تیرو، خوما ته چا ددغې غمیزې په اړه څه نه وو ویلی، په همدغـه کال چې زما وروستی کال و، زما یوه ورور دخپل لیک پـه ځنـډه کـې داهـم لیکلی وو چې:

ـ دخدای امر وشو، مور اوپلار دواړه دامریکایانوپـه بمبـاریوکې نـژدې یوکال دمخه له موږه بیل شول...

دهغوی لایوکال نه وپوره شوی، چې یو ورور مې هم په کټ مټ لاره لـه موږ بیل شو، اوس مې یوازې مشر ورور واو دژوند داټولې ستونزې...

دهمدغوبدو خبرونو را تګ او رارسیدنګ و او زما دسختې ناروغۍ پیل، نژدې شپږمیاشتې زما دغې ناروغۍ دوام وکړ، ډاکتران یې هـم پـه لاملونونـه پوهیدل، ځنې ډاکتران خو تردې حده راسره حیران شول، چې له ناچارۍ بـه یې راته ویې ویل، ستا ناروغي هم د انسانانو ناروغیو ته ورته نه ده، دوی سـره له دې چې ماته دغه خبره نه کوله خو له یوه او بل سـره بـه یـې زمـا پـه اړه کوله،کله کله به یې داهم راته ویل که ستا دغه حالت وي کیدای شـي لیـونی شې... سره له دې چې زما له پاره دلیوني کلیمه کارونه ډیره زیاته داندیښنـې وړ نه وه، خو زما یوشمیردوستان یې خورا ځورولي وو، یوه ورځ زموږد پښـتنو مشر اسدخان لالا چې په حیدرآباد کې اوسیده هم زما پوښتنې ته راغی، یـوه ډاکتردهغه ترغوږ هم ورتیره کړې وه چې کیدای شي انډیوال دې لیونی شي...

خوده پرته له دې چې دډاکترپه خبره باندې سوچ وکړي ورته ویلي وو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ خیر، هغه پخوا هم په حال نه و، له دغې ناروغۍ خو به جوړشـــي خـــو چې نورڅه نه وي...

اسدخان لالا یوه میاشت راسره پاتې شو، زه هم یوڅه سره په واک کـــې شوم، ورته ومې ویل چې ته نوردرځه زه نورجوړیم او خپل کارونه که دخـــدای رضا وه ترسره کولای شم، خو هغه راته وویل چې، ته دخپل وروستي امتحانونه زر پاس کړه، چې هغه خلاص شول، زه یوڅه واړه کارونه نورهم لرم، چې هغـــه ترسره کړم، له هغه ورسته به درځخه ځم... جالبه خو داوه چې کله بـــه پوجـــا اولکشمی زما لیدو ته راغلې، ترما به یې له اسدخان لالا ســـره ډیـــرې خبـــرې کولې ان چې کله کله به له ما هم سره جلاشول او له ما پرته به ترډیـــرو پـــورې سره غږیدل، داسې چې زه به یې په هغوباندې نه خبرولم...

اسدخان لالا هم زده کړی سړی و، دژوند په رمزوراز او دهغه پـــه نـــوي ترنګ ترونګ باندې هم ترموږ ښه پوهیده، دی تر ما هم اکبرخان ته ورسکنی و، داسې ښکاریده چې دهغه او زما دواړو په ستونزو باندې هم ښه خبرو، دهغه په مینه هم خبرو... ده اوس هم اکبرجان او پوجا دزړه له کومې پیژندل او هـــم یې لکشمی اوزه، هم زما دپلار اونورو خپلوانو په رضاپوهیده او هم داکبرخـــان دپلاراوکورنی...

لکشمی پوره شپږ میاشتې له ما سره هغه څه ترسره کړل چې مـــا هغـــه په ژبه نه شوای ویلای... هغې زما له پاره په شپو شپو وژړل، زمـــا دروغتیـــا پـــه خاطر یې دزیارتونو اومندرونو نذرونه ومنل،پونې ته تللې وه هلته یې دپښتنې باباجان پرمزار چې زما معنوی پیره وه دزړه له کومې دعاوې کړې وې، زمـــا لـــه پاره یې دومره روپۍ په روغتو نواو درملونو باندې خرڅې کړې چې زما غوندې

(c) ketabton.com: The Digital Library



يوه زده کړي يا زده کوونکي له پاره هغه نا شونې وې... ان چې ډاکترانوته يـې ويلي وو چې که زما درملنه له هندوستان څخه بهرهم شونې وي، دا تيـاره وه چې ماهلته وليږدوي...

داټول هغه څه ووچې زموږيـارانو او پـه خپلـه اسـدخان لالا هـم پـه سترګووليدل، کله چې زه له ناروغۍ راپورته شوم، يوځه چې ما اوس په خپـل شاوخواکې محسول،هغه داووچې اوس مې له خپلووطني يارانو هغـه پخـوانۍ کنايې اوکترې هم نه اوريدی لکه چې پخوا به يې ويلی:

دهندوستان نجونه لولۍ مړبه دکړينه...

اوياهم هغه څه لکه چې پلارمې هم په خپل ليک کې راته کښلي وو...

ما ناداچې دهغوی دغه شان خبرو اوس دسړيتوب په وړاندې خپـل زوړ له لاسه ورکړی و، او ګونګې شوې وې... داسې ښکاريده چې اوس ټول پـه دې باوري شوي وو چې ژوند له يوې داسې سـرچينې را پيـل کيـږي چـې هغـه دانسانيت سرچينه ده، داسې څو ک به وې چې دماشوم له خندا خوند وانخلي اودهغه خندا به ورسره بدرګه نه کړي؟ داسې څوک بـه وي چـې دسـل کلـن اړبوډا بابا خدمت ونه کړي او په درنښت دې راشه درشه ورسره ونه کړي...؟ که داسې څوک موکله وليد چې دغه ځانګړتيايې نه درلوده هم هغـه انسـان نـه دی...

د ۲۰۰۰ زرم کال ورستۍ شپې ورځې وي، يوه ورځ سهار وختی له کوره و وتلم، چې اسدخان لالا دومره راته وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ زه ځم درشي مې درته جوړه کړي، له غرمې وروسته يې درتــه راوړم، مقصد تر دريو بجودمخه به دلته سره ګورو...

زه هم ولاړم، خو خپل کار مې زر را خلاص کړ، داچـــې دهغــه امــر اوس زموږ له پاره دپلار ترهغه هم مهم و. ځکه نو دده له امراوقومانــدې ســره ســم تردريوبجو دمخه بيرته کورته را ورسيدم، کله چې مې دکوردروازه پرانيســته، زموږ په کورکې دناستی له پاره ځای نه و، دکورمخه په موټرانو ډکــه وه، زمــوږ چې څومره دوستان اوخپلوان وو، هغوی ټول راغلي وو، داسدخان لالا مشــره خور هم له څو نورومیرمنو سره راغلې وه، زه يې دښځو کوټې تــه ورلاړښــونه کړم له شا مې داسدخان لالا غږ ترغوږ شو، چې خپلې خورته يې وويل:

ـ لږ لاس مساس پرې ووهی، دريشی يې هلته ده، هغه وروغوندی، نور به له خيره سره روانيږو...

زه د لالا په دغه خبره باندې په ربښتياهم سره حيران شوم، ځکــه دوی په دغه باره کې له ماسره ډيرلږڅه هم نه وو ويلی، اکبرخان ته مې وکتل، هغــه راته وويل چې:

ـ ځه ځان تيارکړه... خبره دقام ده... لالا هرڅه په خپله جوړکړي، څــه تاوان نه کوو...

زه پوه شوم چې اکبرخان له يوې خوا له ويشه په تالان رضــادی او لــه بلې خوا په هرڅه باندې له پخوا خبرو ان چې پــه ډيــرو ځــايو کــې يــې زمــا استازيتوب هم کړی و...

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوه شوم، چې خبره څه ده، کالي مې واغوستل، رښتیا خو داوه چې نور نو زه هم له اوږده رنځه وروسته په ژوند پکو شوی وم، اوس یوڅه چې ما هغه ته اړتیادرلوده، هغه مرسته وه، ځکه نو مې هیڅ هم ونه ویل اونیغ له اسدخان لالا سره دهغه په ښکلي او نوي ماډل موټرکې کیناستم، لاهم نه پوهیدم چې چیرې ځو اکبرخا ن نن داسدخان ماما موټر په خپله چلاوه... یوازې دلارې په اوږدو کې اسدخان لالا ترغوږ راتیره کړه:

ـ بچیه اخرمې ناخبره ور واده کړې... ددې بل خره خبره مې هم له تاسره یوځای کړه... مانا داچې زما اواکبرخان دواړو ودونه نن داسدخان لالا او بي بي حاجي په خوښه نیول شوي وو اومور اوس ټول زما دواده په ورا روان شوي وو...

ما هیڅ هم ورته ونه ویل اونه مې دومره جرات درلود چې دبي بي حاجي په وړاندې دې په دغه باره کې څه ووایم، په دې چې څومره چې اسدخان لالا پرمور برلاسی و، همدومره بی بی حاجي هم وه... په دغه شیبه کې ما ته زما فرانسوي هم صنفۍ کرستینا خبره رایاده شوه چې یومهال ماورته ویلی وو چې مورته نجونې زموږ پلرونه ټاکي، کیدای شي کله زموږ خوښه هم پکې وي خو زیاته نه... خوهغه په دغه خبره دومره حیرانه شوې وه چې وویل: که پرما باندې زما پلاراومور داسې کانه وکړي، زه خو به ځان مړکړم...

خوما ځان اوس درښتیاني زوم په شان نیولی و. بي بي حاجي اوس موږ ته دمور ځای درلود او داهرڅه ددې په خوښه اورضا تردغه حده را رسیدلی وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېروخت نه و تیرچې زمونږ دورا شل دیــرش مــوټران ټــول دلکشــمی دبنګلې په شاوخوا کې ودریدل، دبنګلی په هغه خوا باغچه کې لویه خیمه چې تر زرو زیات میلمانه په کې ځاییدل وهل شوې وه،دهغه له منځه مې دډولونــو غږ واورید، کله چې انګړ ته ورننوتو نو دومره دوستان او یاران راغلــی وو چــې حساب یې په یوه خدای و، په دغو شپوورځوکې ډیلی په افغان مهاجرو ډک و، داسې چې په هربازار او هره مالت کې به یې لس او شل کوره اوسیدل... ځکــه نو دهغوی ډیری راغلي وو، له بمبی، اسام او حیدرآباد څخه په ســلګونو زمــونږ سود خواره ماما خیل اوپه نویو زده کړو بوخت همزولی زلمیان راغلی وو چــې اوس ټول دلته په وار سره غرپنده ډولونو ته غوږې ځنې اوښــتل را اوښــتل... مونږ دمانې په انګړ کې دننه له موټره کښته شو، دلکشــمي مــور اوپــلار زمــونږ هرکلی وکړ، بي بي حاجي مخکې او مــونږ ورپســې روان وو... مــونږ دلکشــمی موردمانې دننه لارښوونه کړو، هلته لکشمي دواده په ځانګړې سینګار کې چې په اول ځل لیدو خو ما هیڅ ونه پیژندله زمونږ لاره څارلــه، کلــه یــې چــې پــه ماسترکې ولګیدې راته موسکی شوه، دبي بي حاجی او اسدخان لالا پښــتوته ورتیټه نه شوه، بي بي حاجي ته یې لکه زمونږ دښــځوغوندې غیــږه ورکــړه او لاسونه یې ور ښکل کړل، داسدخان لالا لاسونه یې هم ښکل کړل، هغه یې هم لکه دخپلې لورپه شان په سرلاس راتیرکړ او په درنښت یې بدرګه او وپنځوله، زما دغې ننداري ته ښه پام و، دډولونو مست دربی اوچــت و، زمــونږ دځوانــانو مشر خان زاده ان ترغرمې دمخه هلته رسیدلې و ځوانانو په وار وار سره اتڼــو نه اچول، اودلکشمي دپلار بنګله نن په رښتیاهم درنو خوښیوپه سراخیســتې وه. زه لاناست نه وم، چې دلکشمي مور دمیزله سره زمونږ سپیځلی کتــاب پــه خورا درنښت سره دمیزله سره راکوز کړ لومړی یې زمــونږ پــه ســرونیواوبیایی

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرموړدواړو باندې ښکل کړ، ماهم ښکل کړ، لکشمی هم ښکل کړ... کله چې دهغې سترګې اومخ پرهغه سپیڅلي کتاب ورپری وتل دزړه هغه درزامې چې دغې مانې ته راننوتی وم او راسره پیداشوې وه اوس آرامه شوه... لکشمی زما مخې ته له بسم الله ویلو سره رانژدې کړ، ما په درناوي سره ښکل کړ، زما له درناوي وروسته یې دهغه لومړی پاڼه راواړوله، او ما ته یې وویل چې لومړی مخ (الحمدالله ) یې زه ولولم... ما هغه ولوست، خو ترڅوچې مې ترپایه رساوه، لکشمی زما څو تیروتنې را سمی کړې، دویم مخ که رښتیا درته ووایم، زما سم نه و زده، دهغه په لوستلو باندې دې پیل وکړ، ذالک لکتاب لاریبه... هغه یې په داسې زور اوزیرسره ولوست، چې زه یې حیران کړم، ددې داکار زما له پاره داسې هیښنده جتکه وه چې ما فکروکړ زه کوم خوب وینم او که په دغه دنیاکې نه یم... اوهغه مخ یې ترپایه ولوست...

بی بی حاجی هم په ټوله کیسه خبره وه، یوازې زه وم چې لکه پردی اوس له داسې یوې نوې پیښې سره مخامخ کړم، ما لکشمي ته وکتل، هغه راته موسکی شوه، ان چې دلومړي ځل له پاره یې داهم ترغوږ راتیره کړه او راته ویې ویل چې:

ــ زما لس سیپارې قران شریف په یاد هم دي...

اصلی خبره خو داوه چې لکشمی له هغې ورځې چې کله زیږدلې وه، له خپلې انې سره اوسیده، له هغې سره لویه شوې وه اوهغې یې دمور اوپلار په خوښه او سلا هغه مسلمانه روزلې وه، اوپرهغې یې ټولې اسلامي زده کړې کړې وې، ان چې دهغې نوم هم بل څه و، خو داچې پلاریې ته یې خورا ګرانه وه، دې ځان اوس دپلارپه خاطر په دغه نامه سره نا متوکړی و... زما له پاره دنه منلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبره داوه چې اسدخان لالا او بي بي حاجی چې په خورا سختۍ سره بـه یـې داسې یوې خو شالې ته رضایت ښود اوس داسې شوي وو لکـه روانـې اوبـه... هغوی په دغه باره کې له ماسره هیڅ نه وو ویلي، ما فکرکاوه چې ددې خبـرې لامل به داوي، چې هغه زموږ دواړو په ټولګیوالتوب باندې خبردي، هرڅه ورته څرګند دي اوهم نه غواړي چې په دغه برخه کې ما ډیروغـږوي، پـه دې چـې دوی فکرکاوه زما داوړدې ناروغۍ یولامل هم دغه خبره ده، داچې له هرچا بـه یې اوریدل چې کیدای شي زه ډیرزر لیونی شم، دغې خبرې په خپله پـردوی باندې خپله اغیزه درلوده، خواوس راته څرګنده شوه، چې اصله خبره څـه وه؟ ان چې په دې وروستیوکې یې له ما سره دیوڅه په باره کې هم څه نه وو ویلي، یوه ښیګړه چې دپوښتنې له پاره یې اړتیانه وه هغه دهندوستان دواده دود و، چې په هغه کې لکه زموږ دوطن غوندې دهلک ملا په خرڅونواو سـیالیوباندې نه ماتیږي... دلته هلک دانه شي ویلای چې:

غم دی دلالي په سر ــ مسته دې تازه ګرزي

دلته خبره سرچپه ده، ماناداچې:

غم دی دلالۍ په سر ــ مست خان دتازه ګرزي...

ماناداچې د واده ټول خرڅې دنجلۍ پر کورنۍ باندې پیټی دی...

بله مهمه خبره داوه چې اسدخان لالا او بي بـي حـاجي اوس ترمـا لـه لکشمي اوپوجا سره ډیربلد شوي وو، له هغوی سره یې هغه ټولې خبرې چـې له ما سره یې ویل نه غوښتل او یابه دوی پوهیدل چـې زمـا او زمـا دخپلوانـو فکرونه له یوه اوبل سره توپیرلري هم له دوی سـره شـریکې کـړې وې، خـو

(c) ketabton.com: The Digital Library



داچې دوی پرما اغیزدرلود، همداوه چې دوی هم ترما اوس په هغه برخــه کــې چټک لاس په کارشوي وو. دوی په دې پوهیدل چې زما له پاره ډېرې دودونــه او ارادتونه ډېرمهم نه دي، په دې چې زه پوهیــدم چــې پــه ځینــو وختــوکې نورانساني ارزښتونه شته چې هغه هم سړی باید له یاده ونه باســي،په داســې حال کې چې دا خبره او دهغې زغم دهغوی له پاره چې زه ورپــورې اړونــد وم ګران کارو. لکشمي هم په دغه رمز باندې اوس پوه وه. له اسدخان لالا سره یې هم اړیکي ترما هم کلک شوي وو، داسې چې یوځل ګل زرک خــان لــه لندنــه لالاته یو نوی ماډل لپ ټاپ کمپوټر رااستولی و، ډېره موده هغه ته چا لاس نــه شو وروړای، خو لکشمي او پوجا هغه په څو شیبوکې ورتــه کــاري او تیــاریې پښتو توري هم ورته کښته کړي دده په واک کې ورکړي و، له هم هغې ورځــې وروسته به چې دوی هرچیرې له هرچا سره مخامخ شول، نودایوه خبره به یــې ورته کوله:

ــ نجلۍ اوهلک چې کران(قران ) او کمپوټر زده کړل، نوره هغه که ددنیا په هرکنج کې وي نه بې لارې کیږي، باید چې سړی یې درنــاوی وکــړي او پــه سریې وګرزوي...

په دوی هم ددغه شان یوه پیغام سام لویدلی و، ځکه یې هرڅه پرته له ښه اوبده سره له لکشمي دوی سره منلي او جوړکړي وو...

اکبرخان اوپوجا په بله خونه کې چې هلته هرڅه تیارې دهغې دکــورنې له خوا نیول شوی و ناست وو، خو موږ له یوه اوبله نه وو خبر هغوخپل کارکــاوه اوموږ خپل، زما خوابښې په خپله عقیده دزړه له کــومي باورمنــه اوویاړنــه وه، همداوه چې له دې پلوه زما زړه ډاډه شوی واو زه اوس لکه ربښــتینې پاچــا لــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکشمی سره پر تخت ناست وم، له هغې نجلۍ سره چې داڅوکاله مور ﻟــﻪ ﻳــوه اوبل سره ناسته پاسته درلوده، خو تراوسه هم ما هغه نه وه پيژندلې، هغې چې کله ذالک لکتابه لاريب... ولوست، ما ته دهغې مورنې انا رایاده شوه، مـا هلتــه دهغې په شاهانه بنګله کې هغه زړه ونه، هغه زوړ قبر او دهغه پر سر پــه هغــه لوړه تاخچه کې هغه زوړکتاب، هغه چې ما پرانيست، ښکل مې کړ او لکشــمی په هغه مهال ماته ويلي وو چې پرې پوهيږې او ما ورته ويلي وو چې پوهيــدل خو څه کوې چې باور هم پرې لرم... سره له دې چې کتاب ډيرزوړ و، خــو کلــه چې ما پرانيست دهرې کرښې توري يې لکه مرغلرې داسې روښانه وو... ما تــه هغه کتاب را ياد شو، اوهغه دروغ رايادشول چې ما دلاپې په توګه لکشمي ته، هغې ته چې پنځه لس سيپارې يې په ياد وې ويلي وو. زه اوس په دغــه شــيبه کې په خپلو دغو درواغو باندې له هغې څخه شرميدم، په دې چې ما لکه زموږ دهيواد ديوې دورې مشران له الحمد الله سره داسې حال درلود چې غلطۍ مې لکشمي رانيولې، نو په نور کتاب کې به مې څه حال و؟

زما هرڅه اوس زما دخوابښې ترلاربښونه لاندې ترسره کيدل، هغــه پــه خپله عقيده باندې دزړه له کومې باورومنه وه، داکبرخان په سرخانې کې هــم دپوجا له خوا دهغې ماما ولاړو، مانا هرڅه چې ترسره کيدل، هغه ټولې خبــرې اسدخان لالا او بي بي حاجي له پخوا څخه حل کړي وو.

زه لاتراوسه هم دچا خبره په خپل واده کې ګنکس وم، هرڅه مې چــې ليدل، هغه ټول هغه څه وو چې زما له تصوره دباندې وو، په دې چې ما کله هم په دغه ټولنه کې هغه تصورنه شوکولای، لکه چې زموږ پــه خپــل کلــی، کــور اوهيواد کې و... له يوې خواڅخه دښځواونجونو دسندرو غږ هم اوريدل کيــده،

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې وروسته بیا زموږ کوټې ته ټولې راننوتې اودلکشمي ترڅنګه یې ( د رامي خورې، رامي خورې ) مشهوره بدله چې دهند پټانان یې په خپلو ودونو کې بولی په مزو مزو له ګډاوو اوخنداوو سره یوځای ویله، درامي خورې سندرې وزن په خپله یوسوچه پښتو وزن دی، خو داچې پښتنو په هندوستان کې کلونه کلونه تیرکړی او خپله ژبه یې له لاسه ورکړې، او س هغه سندره په اردوکې بولي...

داهرڅه اوس دلته روان وو، څو شیبې لانه وې تیرې چې زموږ پخواني مولوي اکرام الدين صاحب چې کلونه مخکې له غزني څخه راغلی و اوخپلې زده کړې یې هم په دیوبند مدرسه کې بشپړې کړې وی، او زموږ هندي ملګروبه وکرم صاحب باله له نژدې شلوتنو سپین ږیرو او مشرانو سره زموږ دکوټې مخامخ لویې کوټې ته ورننوتل، هغوی اوس دنکاح له پاره راغلي وو، او زموږ نکاحوی یې کولې، دا چې زه تراکبرخان مشروم، نو ځکه یې لومړی زه وربللم، لکشمي هم خپل پلاروکیل اسدخان ماما ونیو، ایاتونه ولوستل شول، دعا وکړل شوه، او هغه مراسم چې دنکاح له پاره اړین وو، هغه ترسر شول، نقل وویشل شول، او ناستوکسانو زما دخسرپه ګډون ټولو زه په غیږه کې ونیوم او ما ته یې په وار وار سره زما د واده مبارکي وویله، مولوي صاحب ددې ترڅنګ چې ما ته یې مبارکي راکړه دټولو حاضرو کسانو په وړاندې داشاهدي هم ورکړه چې:

ـ دغو دواړو نجونو ته هغه مهال چې ددوی کورنې له هیواده دباندې وې اودوی دواړې له شهزادګۍ ګبانو سره دلته اوسیدې ما قراني تعلیمات ور زده کړي دي، هغوی دواړې تردولت خان اواکبرخان هم په عقیده پیاوړې دي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوهم په پوهه زما دغاړې خلاصې وي چې دوی دخپلې انې په همت مسلمانې روزل شوې دي، له دوی سره په دغه کار کې ددوی پلرونو او ټول خپلوان هم نظروو اودي...

زموږ هغه ټولې پوښتنې او سوچونه چې له اوږدې مودې دیوې کړۍ په توګه زموږ ترزړونو او ذهنونو تاو راتاو وو، هغه ټول داسې په اسانې سره ځواب شول، چې ما فکرکاوه، موږ په هند کې ژوند نه کوو، زموږ واده یورښتینې واده نه دی، بلکه غواړو دلته یوازې دیوه فلم له پاره یوه صحنه جوړه کړو... خو وروسته مې چې ښه ځان سره وخوځاوه او ښه ځان ته ځیرشوم، پوه شوم چې نه، دایوه داسې ربښتیاده چې هرچا ته یې ووایې، هغه یې یوه انځوریزه صحنه ګڼي...

زموږ واده وشو، په زرګونو خلکو په کې ګډون کړی و، داسې اتڼونه پکې وشول چې له ډیرې مودې دلته چا نه وولیدلی اوداسې ډولونه پکې ودربیدل چې دزرګونوکورکلي ورکو یادونو او رنګونو ته یې نوی رنګ ورکړ، زموږ ټول سودخواره کلیوال له هرې خوا سره راټول شوي وو، ملوک ما ما چې له احمداباده تر کلکتې زموږ دغونډواوباندارونو ګل بلل کیده هم راغلی و، هغه په ټول شلګراو غزنی کې یونامتو ټوکمار و، چا به لاداهم ویل چې دی دشلګردنومیالی ټوکمار (ولو ) اویاهم دسلطان باغ د ( ر.خان ) له خپلوانو څخه و، ولو هماغه لوی ټوکمار و چې مجاهدینو دخلقیانو پرچمیانو رژیم ته د سندرو اوټوکو ویلو په ګناه وواژه، خلکو به کیسه کوله، چې کله ملایانو دده د وژلو فتوا صادره کړه او زړه ته یې ورسیده چې ښني خو یې نه، نو یې د وروستۍ خبرې په توګه ورته ویلی وو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوملایانو، تاسې ټول عمرشکنې خوړلې عقل مو په سرکې نشته، تاسې هم په دغه عقل ژوند ي پاتې کیدونکی نه یې، زه یوټوکي یم، زه خپله دنیالرم، خپل خوله لرم او خپله خندا اوژړا، له ماسره کار مه لرئ، له دی تش په نامه جهاد مهاده څه نه جوړیږي... دواک او ګدی تاسې نه یاست... خپلې شکنې وهی او ولو ته دعاوې کوی....

وایي چې ملایان نورهم ورته په قهرشول، ټولو مشرملا ته کتل، هغه هم ورته په قارشو.... دځوشیبو له پاره ارامې شوه، خو معلومه وه چې ټول هغه چا ته چې وژل کوي، سترګې په لاره وو، له څو شیبو وروسته یې له کوم قصاب ملا که قاري سره چاړه په لاس کې ولیده، زړه طاقت ونه کړ ځکه یې د وروستی ځل له پاره په ملایانو خوله ورخلاصه کړې وه چې:

ـ اوملایانو له هغه لویه مو رانیولي تر دغه واړه چړي پورې مو میندې او خویندې.... نورڅه ته ګورئ، ما خپله کلیمه دوختنه لوستې... هلی زرکړئ چې درڅخه مردارنه شم....

او دغزنی ددغه نامتو ټوکې سر په همدغه وروستې خبره باندې پرې شو...

دسلطان باغ په (ر.خان ) پسې هم کورته ورلویدلی وو،هغه تړې پټ شوی و، نورڅه یې نه وو موندلی، په خپله میرمن یې غږ کړی و، چې دخره تر کته لاندې یې پټ کړی، هغې داکا روکړ، خدای مجاهدین پرې کانه اوړانده کړل او دی یې ونه موند، له هغه وروسته یې خره ته تر... درناوی کاوه، هغه کته یې دخپلې میرمنې په بنارسي شال کې نغښتې وه اوهرچا ته به یې ویل چې زه خدای وژغورلم او دغې دخره کتې وژغورلم... هرځای به چې کیناست په

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اوله خبره کې به يې له خره اودهغه له کتې څخه ترانســانانو دمخــه مننــه نــه هيروله...**

**ملوک ماما هم داسې يوځوک وچې دهغوي لاره يې څارله، په هغه شپه يې هم دچا خبره عالمونه هم وخندل اوهم يې ژړول، په سلګونوټوکو کې يــې يوه داهم وه چې، کله امريکايانو پرافغانستان يرغل وکړ، هرچا به چې دطالــب اوالقاعدی پرضد خبرې کولې، دداسې خلکو به ډيردرناوی کيده، ده ويل، چې زما يوکليوال هم له دغه بدلون سره سم ځان دداسې کسانوپه پوســتکي کــې ځای کړلاوطن ته نه و راغلی... ماپه خارج کې وليد، يوه ورځ په يوه ميلســمتيا کې سره ناست وو، ماته راترغوږ شو، چې دولت مې غټ سړی ټاکي، روان يــم ځم کابل ته... ملوک ماما ويل چې ما خو هغه ســړی پيژانــد، چــې ددوو خــرو اوربشې يې هم نه شوې ويشلای، ماته هغه زموږ دکلی دځــاه کينــدلو کيســه رايادہ شوه، يوکال چې دکاريزه اوبه وچې شوې کليوالو پريکړه وکړه چې: موږ بايد دغه کوهی چې له کلونو کلونو همداســې پــاتې دی او هلکانولــه تيــږو او خاورو ډک کړی، پاک کړو،که نه پرکلي باندې بده ورځ راتلونکې ده... پريکــړه همداسې وشوه چې بايد کوهی پاک کړل شي، يو ځوان راوړاندې شو، او ويــې ويل چې زه ورکښته کيږم... کليوالو هغه په رسۍ وتاړه او کوهي تــه يــې چــې ډيرژور و ورکښته کړ، ځوان چې کله دکوهی تل ته ورنــژدی شــو، هلتــه يــې دسترېيا اوډار احساس وکړ، له کښته يې غږ راوکړ چې: درپورتــه مــې کــړئ... خلکو ځواب ورکړ چې اوس دومره کښته شوې يې يوڅه وکړه... خو له کښــته همداغږ راته چې: درپورته مې کړئ... درپورته مې کړئ...**

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیاهم خلکو هیله ترې وکړه، چې له زغم ښخه کـارواخلی... او یوڅـه خواري وباسئ...

خوځوان نوردزغم نه و، ځکه یې له کوزه په اوچت اوازورتـه راغبرګـه کـړه چې:

ــ داکوهی راباندې پاکوئ او که یې راباندې مرداروئ...؟

ملوک ماما وویل چې ما خپل کلیوال ته وویل چې:

ــ د دولت د کور ودان وي، خو دایوه پوښتنه له ما سره ده اوهغه داچـې ته خو دهیڅ وایې نه یې، زه نه پوهیږم چې پرتاپاکول کوي اوکه مردارول....؟

اوزموږ ودونه په داسې نه هیریدونکوولولوکې کې ترسره شول....

(c) ketabton.com: The Digital Library



## (۱۴)

زما اواكبرخان ودونه، لكه څنگه چې زمـــورږ هـــوډ و، لكـــه څنگـــه چـــې داسدخان لالا هيله وه، لكه څنگه چې زما دمـــوراو پلاراوداكبرخـــان دكـــورنۍ غوښتنه وه ترسره شول، يوه جمعه وروسته مورږدهندوستان له دود سره سمه وليمه ونيوله، په هند كې وليمه هغه ميلمستيا ده چې هلک يې دخپل واده په درنښت سره دواده له اصلي ورځې وروسته نيسي، سره له دې چې داكـــار پـــه هندوانو كې ډيردود نه دى، خو مسلمانان دغه غونډه نيسي چـــې دهغـــې پـــه نيولو سره هلک اودهغه كورنۍ هم خپله ونډه په خپل واده كې ښيي، لكشـــمي زمورږ له واده ورسته زمورږ له كورنې او دوستانه څخه هيله وكړه چې نوره هغـــه بايد په خپل اصلي نامه ( مباركه) ياده كړي، انۍ يې دانوم دبى بي مبـــاركې لـــه نامه سره اړونـــد وربانـــدې ايښـــى و، دهغـــې پښـــتنې ملكـــې ميرمنـــې چـــې دهندوستان دلومړي مغلي واكمن مړى يې په خپل امر له هند څخه كابـــل تـــه راو ليږداوه، انې يې تراخره پورې په همدغه نامه يادوله، خو دې دغه هنـــدكى نوم يوازې له خپل پلار سره دمينې په خاطر پرځان باندې ايښې و... داچې زما اواكبرخان دواړو خسرگنې دهندوستان خورا شتمنې كورنۍ وې، له واده سره سم مورږ دهرڅه خاوندان شولو، دكورونو، دموټرونـــو، دنوكرانـــو او نوروټولـــو... لكشمي اوپوجا خو په خپلو نومونو خپل سوداگري كاروبارونه درلودل...

(c) ketabton.com: The Digital Library



زموږ لوځ لغړ ژوند لکه دهغو ي په شان چې يوناڅاپه لاتري ورته ووزي، يوپه يو دڅا خبره په لوړ شو، لامويوکال نه وپوره چې زما زوی مړوند پيداشـو، دهغه له پيداکيدو سره دلکشمي په سر دافغانستان هوا ولګيده، او غوښتل يې چې بايد هلته لاړه شی،

لا ۲۰۰۰ کال پای تـه نـه ورسـيدلې چـې مـوږ دافغانسـتان پـه لـور وخوځيدو،له هرچا به موچې دحالاتو پوښتنه کوله، ټولـو بـه ويـل چـې اوس افغانستان داسې آرام دی چې نه غله په کې شته او نـه هـم هغـوی لـه غـرو راکښته کيدای شی چې کابل يې کنډواله کړ، مـوږ پـه همـدغو حـالاتو کـې افغانستان ته لاړو، يوه يوه نيم مياشت موهلته تيره کړه ما او لکشمي اوس پـه رښتياهم وليدل چې زموږ پر وطن باندې اوړدې جګړې څه کانې نه وې کړې او څه نه وو چې دغو خلکو دلته نه وو ليدلی، زما هغه ښوونځی چې مـا مـې پـه کوچنيوالي کې درس پکې لوستی و تراوسـه هـم لا نـه وجوړشـوی، يـوازې ديوالونو اودرنوډېرو يې ښوده چې داهم هغه مانې ده، هغه چې موږ بـه ورتلـو اوهلته به موپه اوونۍ کې يوځل د خيرمحمـد معلـم صـاحب اوقسـيم خـان سرمعلم صاحب څپيړې له درسونه سره يوځای په مزو مزو خوړې...

زموږ په زړه کلا کې هم اوس له يوڅو خوارو کورنيو پرته نور څوک نه وو پاتې، اوس زموږ کليوال له يوه اوبل څخه ډيرلرې شـوي وو، اوس هغـه تړلـې بامونه چې له يوه سره تربله به موږ پرهغو باندې منډې وهلې اودکليوالو خبـره خرمستۍ به مو پرې کولې څه نړيدلی وو، او څه لاګردسـره نـه وو، اوس، اوس هرڅوک به بيله کلا کې اوسيدل او هرڅه يـې لـه نـورو کليوالـو څخـه پـټ وو.جومات هم رنګ شوی و،دورځې به چې کومه جمه کيده هغـه بـه هـم پـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدغه وران جومات کې وه خوويل کيدل چې طالبانو امرکړي، کوم قومانــدان چې دغه جومات يې په توغندي ويشتلی که يې زرترزره بيرته جوړنــه کــړي، دوی به خپل قانون ورباندې جاري کړي...

دلويې کلا دخيابان لويې ونې چې زموږ دنيکونو دوختــو وې اوس يــوه هم نه وه پاتې... کليوال ټول سره ويشل شوي وو، سره له دې چې اوس يې پــه دغوشپوکې په خولو لاسونه سره نيولی وو، خوله دې سره سره به هم چې کله چا دچا نوم اخيست نويو ورستاړي لکه اخواني،خلکی، نظاري، پرچمــي، غــاب مينځونکي، طالب اونوربه ورسره ملګري وو...

کورونه واړه شوي وو، يوازې يوه شي چې خورا زياته پراختيايې موندلې وه هغه هديرې وې. توغونه وواو قبرونه وو چې ټول ملک يې رنګين کــړې و... اوس هديرې هغسې نه وې لکه چې موږ ماشومان وو او له ماښامه وروســته بــه مو هغې خواته ورکتلای نه شوای،دهرکلی دميندواوخويندو اوس دورځې زياته برخه اوس هم په هديروکې په دعاوو او ژړاوو تيريده...ماشومانو ته يې نه ښــو ونځی و او نه هم وړکتون، هغوی به هم دورځې په اوږدو کــې دخپلــو شــهيدو پلرونو دقبرونو په څنګوکې لوبی کولې، دخپلوپلرونو دقبروله دخاوروبــه يــې کوټنی جوړولی داسې چې ګواکي پلار، مور، او ورور يې دلته په ميلو راوســتي اوخپله يې هلته يوې خواته ډډه ورته وهلې اود دوی خارنه کــوي... مــوږ اوږده موده په هغوشپوکې چې چا يې تصورهم نه شوکولای په خورا خوشــالی ســره تيره کړه، زموږ راتګ ته دوې ورځې پاتې وې چې يومازديګرې موږ ټــول زمــا دمور اوپلار هديرې ته دوروستي خدای پاماني په خاطر ولاړو، هلتــه مــو دعــا وکړه او له خدايه مو ددوی پرقبر د مرستې اوبښــنې غوښــتنه وکــړه، رښــتيا

(c) ketabton.com: The Digital Library



دهغوی دقبرونو څنگ ته مې له خپل ځانه ماشوم جوړ کړلکه زموږ نورکلیــوال ماهم دخوشیبوله پاره دهغودقبروپه خاورو اوشگو باندې لــوبې وکړې،دیــوې اوږدې شیبې له پاره مې دخپل ژوند داتولې هسکې اوټیټې هیرې کړې اوځان مې داسې کړې ولکه چې همدا اوس زه ددوې په غیږه کې یم...

لکشمي زما له مشرې خور سره دهدیرې په منځ کې یوې اوبلې خواتــه قدم واهه او زما خور دهرقبر اوهرکلیوال دقبرلیکلې ډبرې ورښودې اودهر یوه دمرگ ترخه کیسه یې ورته کولــه: ـــ دا دجمهــوری ارگ دتــورن میرزمــان قبردی... چې دنجیب په زمانه کې دهاوان په گولې شهید شو... دا دامــان گــل قبردی چې دکابل په جنگو کې د دوستم او مسعود جگړه مارو شهید کــړ، دوه ویشت کلن و... اوداهغه څلورشهیدان دي چې اشرارو یوازې په دغه گناه چــې یوازې په لیک لوست پوهیدل اودقوم دمخې څوک وو په یــوه ورځ شــهیدان کړل... داڅلورواړه زما ترونه وو... دادجواهرې ببــی اودهغــې دلمســی آمنــې قبردی چې دشورویانو الوتکې پرې راغلې او دوی یې په داسې حال کــې چــې دلمسی لاسونه یې ددې په غاړه کې وو شهیدانې کړې... اودازما ترور وه...

زه لاهم دخپل موراوپلاردقبرونوڅنگ تــه ناســت وم، لکشــمی اوزمــا خورهمداسې دقبرونه په باره کې غږیدې ما یې غږونه اوریدل چــې یوناڅاپــه هلته وړاندې زما مشرې خوراو لکشمي ته ورڅیرمه بدرنگه چاودنه وشــوه، زه تراوسه دخپل موراوپلارله قبرونو سره ناست وم، دعاوې مې کولې چــې دوړې شوې،په دغو دوړوکې دغه بدرنگه غږ دځان له پاره دعا او هرڅه رانه هیرکړل، دچاودنې په لورمې ورمنډه کړه، زما تررسیدو دمخه زمــوږ کلیــوال نارینــه او ښځې راورسیدل، زما مشره خور خو همالته ځای پرځای شوې وه، لکشمي پــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه مهال چې دیوه جوړشوي قبرځنګ ته دریدلې وه، یوازې کینه پښه یې په یوه پارچه باندې لګیدلې وه، کله چې زه ورو رسیدم، هغې پرما پســـې کتــل او زما په لټه کې وه، سره له دې چې زیاته خوږ شوې نه وه، خو داسې ډاره شـــوې وه چې په هیڅ هم نه پوهیده، چې داجوړه ده که نه، نه پوهیـــده چـــې زخمـــي شوې که نه، خو کله یې چې زما مشره خورټوټې ټوټې ولیده، چغې یـــې کـــړې، داسې چې له ډیره درده بې حاله شوه، کلیوالوچغې ســـره وهلی،لـــه ولســـوالۍ څخه یوامبولانس راورسید، لکشمی یې زر دولسوالۍ کلینیک تـــه ولیږدولـــه، نورکلیوال، زما دخور دمړي په ټولولو اوسمبالولو باندې بوخت شول، زه هم پـــه دوړوکې پټ شوی وم، له هدیرې یې راویستم، پـــه لاره کـــې مـــې نهـــه کلنـــه خورځه لوڅې پښې مخې ته راغله غیږه یې راکړه اوخدای ته دشکرانې په نامه سرلوڅ کړ، خو له دې نه وه خبره چې ترما یې هم ورنژدی څوک چې هغه یـــې موروه نوره د دوی له سره دابدله پاره لرې شوې وه، په غیږکې مې راونیوله اوله ځانه سره مې پـــه ژړا ژړا روانـــه کـــړه، دواړه دلکشـــمي پرخـــوا روغتـــون تـــه وروخوځیدو، هلته ورغلو، لکشمي سترګې لوڅې کړې وې، کله یې چـــې زمـــا پرخورځه سترګې ولګیدې، ناڅاپه یې ترخوله راووتل:

ـــــاو دماخدایه... لکه چې له موره یې نه ده خبره.... (په چیغو چیغو یې هغه په غیږه کې ونیوه).

له یوې ګړۍ وروسته، له کلینیکه بیرته زموږ دکورپه خـــوا راروان شـــو، زموږ په کورکې هیڅوک نه وو، زموږ دکورټول غړي زموږ دنورو خپلوانـــو کـــره تللي وو، موږ هم هلته ورغلو،زمادخورجنازه هم هلته ایښې وه، لکشمي دهغې په جنازه باندې دقران شریف تلاوت په خپل ځانګړي غږ کې چې په هند کـــې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم دقران لوستلو له امله پرتهولو ګرانه وه پيل کړ، تر سپيده چاوده يــې قــران شريف پرې ختم کړ، زموږ کليوال په هغه شپه ترسهاره پورې دلکشمی دقران تلاوت ته کيناستل اوهغه څه يې چې دښځواوهغه هم دښاري ښځو په اړه ويل او اوريدل ګرده سره هير کړي وو، زموږ کليوالواوس دلته ددوښځوله هيښــنده برخليک سره مخامخ شوي وو، زما خور چې مين وژلې وه او اوس زموږ په مــخ کې شهيده پرته وه اود لکشمي چې هم په قرآن پوهيده اوهم په کمپيوتر...

موږ ځوورځې نورهم پاتې شوو، لکشمی زموږ لــه خپلوانوڅخــه هيلــه وکړه چې زمادخورکورنۍ له ځان سره بوځي... هغوی هم ورسره ومنله موږ لــه ځان سره دهغوی کورنې ټوله هند ته راوسته اوپه ځوورځوکې مودهغو رسمی کارونه خلاص کړل، دلکشمي کورنۍ دهغې موراوپلار زموږ له دغې پيښې څخه نه ووخبر،يوازې يې مور ته ويلی ووچې موږ له يوې کــورنۍ ســره چــې زمــوږ ميلمانه به وی در روان يو...

موږ هند ته را ورسيدو، زموږ دوستانو پرهغه مهال چې موږ هيــواد تــه روان وو، له يوه اوبل سره ويل چې ګواکي نورښايی بيرته هند ته رانه شو، ځکه به ټولو يوه او بل ته ويل چې: کابلی والا کابل جا رهين هين... (کابلي والا کابــل ته روان دی... ) يوشميرخولا زموږ په تګ باندې خورا خواشيني هم وو، په دې چې هلته حالات سم نه وو، ځکه به ټولوويل چې يوڅه صبروکړئ تراوسه هــم دکابلي والا دتګ له پاره هلته شونتياوې نشته، خو زما اوډيرد لکشمی پريکړه همداوه چې بايد ولاړشو خو چې کله راغلوهغو به راته ويل چې مــوږ خودرتــه ويل چې حالات ښه نه دي، دوی زموږ خپلوانو ته هم دا خبــره کــړې وه چــې کابلي والا بيرته راستنيدونکی دی... هغه راځي پــه دې چــې هلتــه حــالات...

(c) ketabton.com: The Digital Library



**هغوی ته دا معلومه وه او په پوهیدل چې هلته تراوسه هم هغــوی پــرواک دي، چې خپله اراده نه لري، اودوی دهغه واکمن پرضــد ســخته جفــا وکــړه چــې یووخت یې نړۍ ته چغې وهلې او ویل یې:... که دا دړوندو او کڼو لښکر پردغــه ښارهمداسې سرایله راننووت، په دغه ښارکې به دوینوسیلابونه وبهیږي، هــو، بیا ونه وایاست چې داکا رما وکړ...**

**زما دخور کورنې هم له موږ سره هند ته راغله، دلکشمی کــورنې زمــو ږپه وروستۍ پیښه خبرشول، هغوی زما دخورله کورنې سره داسې خواخــوږي وښوده چې هغوی فکرنه کاوه هند ددوی خپل هیواد نــه دی،ماشــومانو دلتــه ښوونځی پیل کړل اودهرځه ځارنه یې ما او لکشمی کوله... لږ موده نه وه تیــره چې پرافغانستان باندې امریکا ور وبلوسیده، بیا یې خلکو ته دشورویانو دوران ورپه یاد کړ، بیا یې پرکلیواو کورونو باندې بمباری پیل کړې، په زرګونو خلــک ددوی دیرغل په لمبو کې لولپه شول، د خلکو پخوانې زخمونــه لا نــه وو تپــی شوي چې نور ورباندې زیات شول، لاتراوسه هلته دزرګونو بې ګناه وو وینې نه وې وچې شوې، چې وینو بیادوینورنګ واخیست...او زموږ هیواد یوځــل بیــاد پردیوخدایانودمزواوچړچو دګرشو. په زرګونو خلک چې دکابل له سختو جګړو له نارواوو دځو ورځو په نامه راووتــل، هغــو نــوردنړۍ دهمــدغو ملکومهــاجر شول،په نن اوسبا کې کلونو پرې تیرشول، له ژبو خلاص شول، پښتو ترې هیره شوه، ایمان او عقیده یې دومره کمزوري شول چې نه پوهیدل دکومې عقیــدې پلویان اوپیروان دي اوان چې یوشمیرخو دې پولې ته هم ورســیدل چــې نــه پوهیدل پلاراونیکه یې ځوک وو؟...**

(c) ketabton.com: The Digital Library



زمادخورماشومان زموږ یوازنۍ یاران وو چې دوی زمــوږ ژونـد اوزمــوږ دبچپانو ژوند ته نوې رنګ ورکاوه، شبو زما وړه خورځه وه چې لــه مــوره درې کلنه پاتې شوه، هغه لکشمی لکه دځان په شان چې انــا یــې رالویــه کــړې وه روزله، اوس هغه رالویه شــوې وه،کلونــه وروســته یــوه ورځ مــو پــه کــورکې زمااودلکشمي دځوانۍ د دوران یوه خبره رایاده کړه، هغه چې یو مهال مــا لــه هغې څخه اوریدلې وه چې په هندکې ولې دومره ډیرخدایان دي؟ او دې را تــه بیا ویلی وو چې: له دې امله چې دلته خدایان خوشاله دي ځکه یې دغه سیمه دځان له پاره خوښه کړې ده. موږ همدغه خبره سره کوله چې پرشبو هم ښــه ولګیده، لکشمي ته یې مخ ور واړاوه:

ــ ببو، دا خورښتیاده، زموږدهندي ژبې ښــوونکې هــم پــرون داخبــره کوله،چې نن سبا په نــړۍ کــې خــدایان دوه ډولــه دي، یــو هغــوی دي چـــې انسانانوته خیر رسوي چې هغه رښتینې خدایان دي او بل هغوی دي چـــې لــه ځانو یې خدایان جوړکړي او انسانان له هغو څخه ښه ورځ په سترګو نه وینې...

لکشمی بیا پوښتنه ترې وکړه:

ــ ته داخبره مه کوه ګناهګاریږې، مو ږ خودیوه خدای چې هغه دهرڅــه واکمن دی، پیروان یو او پرهغه باندې ویاړو...

ــ ببو، زه داخبره منم، دازما باور دی،... خو یوه خبــره ده اوهغــه داچـــې زموږ هیواد ته هم وګوره،هلته اوس نه څوک دیوه خدای مني او نه هم دډیــرو، نه څوک دیوه خدای په لاره ځي اونه هم دډیرو...پوهیږې هلته څه حال دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکشمي څوشیبې ورته په فکرکې شوه، دهغــې مــوراودهغې دمړینــې شیبه وریاده شوه، په ځیرځیري شبوته وکتل، سترګې یې لــه اوښــکو ورتــه راډکې شوې، په غیرګې یې ونیوه، دهغې له اوږې یې پــه ډکــو ســترګو ماتــه وکتل، نوره هم را سره شوه، زړه یې نور هم را ډک شو، خو خپله ژړا یې دهغې ماشومې په خاطر په خپل ستوني کې خپه کړه، هغه یې نوره هــم پــه غیرګــې سره کلکه کړه او دهغې ځواب یې ورکړ:

هو، ته رښتیا وایې زموږ په زمانه کې اوس هرڅوک دخدایی دعوه کوي، دخدای په نامه دخدای پر بنده ګانو ظلمونه کوي، وژنی یې، لوټي یې او عــزت یې ترې اخلی... میندې وژنی، اوخویندې ســر توروي... خوتــه پــوهیږې چــې هغوی خدایان نه دي هغوی شــیطانان دی، هغــوی دمینــې او ژونــد، دخنــدا اوخوښۍ وژونکي دي. هندوان وایی، هغوی خدایان نه دي،خدایان مینه نــاک وي، هغوی دمځکې مور له غیږې دانسانیت ضد کړو وړو نــوم لــه منځــه وړي، خدایان جوړونکي وي، او شیطانان ورانونکي...همداده چې مینــه خوښــوونکي تل وایي: موږ له خدای او خدایانو سره مینه لــرو... دهنــدوانو ډیرخــدایان لــه هندکی موراوهندکی مځکې سره مینه لري، ځکه دلته خوشاله دي...

ډیره موده نه وه تیره چې دنړی پرمخ یوه داسې پیښه چې دچاپه خــوا اوخاطرکې نه تیریده په معجزه یی ډول رامنځ ته شوه...اولکه چې اوریدل بــه مې دکسری مانی زموږ دحق داستازي له پړکیدوسره سمه ونړیده...

دنړی ترټولو لوړ برجونه په یوه شیبه کې پرمځکه راپریوتل... ترټولولوړ برجونه... ترټولو ښکلي... اوترټولو پیاوړي...

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما وړې خورځې چې دلکشمي خبره يې له ياده نه وه ايستلې، په هغه ورځ چې دنړۍ دغه لوی لوی برجونه راولويدل زمورږ ټولـو پــه مــنځ کــې پــه ماشومانه موسکا سره وويل:

ــ زه اوس پوه شوم چې شيطانان چيرې دي...، اوپوه شوم چې خــدايان چيرې خوشاله دي... راځئ دغوخلکو ته ووايو چې په خولو مو لاسونه ونيســئ اونوريوبل ته مه واياست چې خدايان دلتــه خوشــاله دي... پــه دې چــې کــه شيطانان يې واوري چې دلته رانه شي...

(پای)

نوی ډيلی

نهروپوهنتون / د ۲۰۰۱ کال د نوامبر شلمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مننه او کور ودانی

د افغانستان ملي تحريک له هېواد پال او فرهنګپال شخصيت ښاغلي (احمدالله عليزی) څخه د زړه له تله مننه کوي چې د دې اثر چاپ ته يې اوږه ورکړه. ملي تحريک وياړي چې د علمي اثارو د چاپ لړۍ يې پيل کړې ده. دا لړۍ به دوام لري. موږ له ټولو درنو هېوادوالو څخه په خورا درنښت هيله کوو چې په خپل معنوي او مادي وس د کتابونو د چاپ دا لړۍ لا پسې وغځوي.

يو ځل بيا د دې اثر له ليکوال او چاپوونکي څخه د زړه له تله مننه کوو چې د دې اثر د ليکلو او چاپولو جوګه شول.

په فرهنګي مينه

د افغانستان ملي تحريک

(c) ketabton.com: The Digital Library

# GODS ARE HAPPY HERE

"Second Novel"

in pashto language

1995-2001 years

By: A.K.Rashid

د افغانستان ملي تحریک
www.melitahrik.com

د خپرونو لړ: ۱۱۴

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**